# ورمه

علمي ـ څېړنيز ژورنال

درې مياشتنۍ خپرونه

کابل پوهنتون

د ژبو او ادبياتو پوهنځی

پښتو څانګه

د لوړو زده‌کړو په وزارت کې د ثبت ګڼه: RCTD-GNJR-0037-23



اووه‌شپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۹ ګڼه، دويمه دوره، ۱۴۰۳المریز اوړی، اوومه ګڼه

ورمه اووه‌شپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۹ ګڼه، ۱۴۰۳المریز اوړی، اوومه ګڼه
Wazhma Journal Vol. 129, No. 7, Summer 2024

# Wazhma Journal of Literature and Linguistics Academic Researches

**A Print Published Research Journal of**
**Pashto Department of Faculty of Languages and Literature of**
**Kabul University**

Register No. in MOHE: (RCTD - GNJR -0037-23)

In Current Issue:


- Language and Identity
- Models and Forms of Construal in Cognitive Linguistics
- The Application of Mathematical Methods in Linguistics
- The Dictionary Author
- Problems in Teaching Pashto to Non-Pashto Speakers
- Statement, Imperative and Interrogative in Speech-Act Theory
- أهمية المقال العلمي في ازدهارالثقافة
- A look at Pashto Sherawu and Duwawu (Bad prayers and prayers) based on Conceptual Metaphor
- Kazem Khan Shida's Social Concept
- Framework semantics
- Thematic Structure of Pashto Media News Based on Functional Linguistics
- Pashto Complement Based on Functional Linguistics
- The Study of Context in Durani's Poetry


**Published by Kabul University Press** **web:** ku.edu.af

Email: wazhmajournal.ku@gmail.com

**Vol. 129, No. 7, Summer 2024**

ورمه
علمي ـ څېړنيز ژورنال

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې درې میاشتنی علمي-څېړنيز ژورنال

(د لوړو زده‌کړو په وزارت کې ثبت ګڼه: ۲۳-۰۰۳۷- RCTD - GNJR)

(دویمه دوره)

اووه‌شپېتم کال، پرله‌پسې ۱۲۹ ګڼه، ۱۴۰۳لمريز، اوړی، اوومه ګڼه

**د امتیاز څښتن**: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه

**مسوول مدیر**: پوهندوی عبدالسمیع وحدت، کابل پوهنتون

**مشر اېډېټر**: پوهاند ډاکتر اجمل ښکلی، کابل پوهنتون

**لیکوال پلاوی**: پوهاند ډاکتر محمدرفیق رفیق، کابل پوهنتون

پوهاند ډاکتر یارمحمد یزال، کابل پوهنتون

پوهاند ډاکتر محمداسمعیل یون، کابل پوهنتون

پوهندوی ډاکتر رحیم‌الله ځیرک، کابل پوهنتون

پوهندوی احسان‌الله پامیر، پکتیا پوهنتون

پوهندوی محب الله ترابي، کابل پوهنتون

**کتنپلاوی**: پوهنوال اسدالله وحیدي

د پاڼو او پوښتی طراح: عبدالحق سلامزوی

ورمه ژورنال د ژبپوهنې او ادبیاتو مسایل او موضوعات خپروي. موخه یې د داسې علمي څېړنيزو لیکنو خپرول دي چې د ژبې، ژبپوهنې، ادبیاتو، لیکوالی، ژباړې او له دې څانګو سره د ګډڅانګیز او څوڅانګیز مبتود پر بنسټ تړاو ولري. د پښتو ژبې او ادبیاتو په اړه څېړنې پکې شوې وي، د پښتو ژبې او ادبیاتو د تاریخ اړخونه، ګړدودونه او نورې اړوندې برخې یې څېړلې وي. د دې ژبې د اوسنیو مسایلو، او په ژبپوهنه او ادبیاتو کې د نویو نظریو، لاسته‌راوړنو، موندنو او پرمختګونو په اړه څېړنې پکې رانغښتې وي. د ورمې مجلې لیکنې تر ډېره څېړنيزې دي.

له لیکوالو او څېړونکیو غواړو چې «د لیکنې لارښود» مواردو ته، چې د مجلې پر دویم مخ راغلي، پام وکړي، چې لیکنه یې د منلو په صورت کې ژر خپره شي.

چاپځی: د کابل پوهنتون مطبعه

ادرس: کابل پوهنتون، جمال مېنه، ۳ ناحیه، کابل – افغانستان، پوست‌کود: ۱۰۰۶

د ورمې مجلې د دفتر شمېره: ۰۰۰۰۸ ۹۳۷۶۶+

برېښنالیک: wazhmajournal.ku@gmail.com

وېبپاڼه: www.ku.edu.af

د دې ګڼې بیه: ۱۵۰ افغانۍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د ليکنو لړ


ژبه او پېژندګلوي/ اجمل ښکلی ۱

په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبير وړاندې‌کوونکي ماډلونه او بڼې/ عبدالسميع وحدت ۱۳

په ژبپوهنه کې د رياضيکي ميتودونو کارول/ احسان‌الله پامير ۳۳

قاموس‌ليکونکی څوک دی؟ / عزت‌الله نورزی ۴۱

د نورو ژبو ويونکو ته د پښتو ژبې د ښوونيز بهير ستونزو او خنډونو ته کتنه/ رحيم‌الله حريفال ۴۹

د ويناکړ له زاويې د بيان، امر او پوښتنې سناريو څېړنه / رحمت‌الله حکيمي ۵۷

په فرهنګي بډاينه کې دځېړنيزې مقالې ارزښت / عبدالحنان عصمت ۷۱

د مفهومي استعارې پر بنسټ د پښتو ښېراوو او دعاوو څېرنه / محب‌الله ترابي ۸۹

د شيدا ټولنيز فکر / نصيراحمد طاهري ۱۰۱

د چوکاټي ماناپوهنې پر بنسټ د مفاهيمو څېرنه/ تاج‌محمد رحيمي ۱۰۹

د چاروالي ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو رسنيو په خبرونو کې د پيلامګر جوړښت څېړنه / يحيا همای ۱۲۷

د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو جمله کې د بشپړاند څېړنه / شاه‌محمود کډوال ۱۴۵

د درويش دراني په شاعرۍ کې اوب / عبدالله اواب ۱۵۱

# د لیکنې لارښود

- د اسلام له مبارک دین او افغاني فرهنگ سره په ټکر کې نه وي. د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو، لایحو او مقررو له معیارونو سره برابرې وي. د رسنیو له قوانینو سره په ټکر کې نه وي. په بل ځای کې چاپ او خپره شوې نه وي. د څانگې له غونډې پاس شوې وي او پروتوکول وي د پوهنځي او پوهنتون له خوا تایید وي. (د لوړو زده‌کړو وزارت له لایحې سره سم) د ساحوي څېړنې څېړونکی یو، دوه او یا درې تنه او د کتابتوني علمي لیکنې څېړونکی یوازې یو تن وي. د لیکنې د مخونو شمېر باید له ۵ تر۱۵ وي.
- عام فهمه وي، له اضافي خبرو پاکه وي او لوړه علمي منځپانگه ولري.
- لیکنه په مخکنیو څېړنو مستنده وي، ماخذونه یې ذکر شي، د امکان تر حده پکې له نویو ماخذونو څخه کار اخیستل شوی وي. ماخذونه باید تر ٦ کم نه وي.
- څېړنیزې لیکنې باید دا موارد ولري: په پښتو او انگلیسي ژبو «د لیکنې عنوان، لنډیز، آر وییونه (۳ – ۵)، د څېړونکي نوم، تخلص، تحصیلي درجه او علمي رتبه، اړونده موسسه/پوهنتون»، برېښنالیک، د تلیفون شمېره. سریزه (د څېړنې مېتود، موخې)، اصل متن، مناقشه، پایله او اخځلیکونه (APA).
- له نویو او نامأنوسو اصطلاحگانو سره بهرني معادلونه یوازې یو ځل په غبرگو لیندیو کې راوړئ، له نااړینو بهرنیو معادلونو ډډه وکړئ.
- ژورنال هغه لیکنې په خلاص لاس سمولای شي، چې د سمونې اړتیا یې وي. نامنلې لیکنې بېرته نه ستنېږي.

**لنډیز**: په انگلیسي ژبه لنډیز تر یوه مخ وانه‌وړي.

**ارجاع**: لومړی په لیکنه کې د ټولو ماخذونو که کتابونه، مقالې، د یوې ټولگې کوم فصل وي، د لیکوال د تخلص پر بنسټ په الفبایي سیستم ولیکئ چې منابع (bibliography) تیارې شي، د سرچینو برخې د لاندې نمونې سره سمې ولیکئ:

Chomsky,N., 1957. *Syntactic Structures*. The hague, Mouton. (کتاب)

Gazdar, G., 1982. “on Notion of Relevance”, in N.V. Smith(ed.)*Mutual Knowledge,* 88-100. New York, Academic Press.(د مقالو ټولگه)

Kendon. A., 1981a. Georgraphy of Gesture.... (د یوه لیکوال دوه کتابه)

_________, 1981 b. *Current Issues in Nonverbal Communication*. ...(د یوه لیکوال دوه کتابه)

Tollefson, J.,1983. “Language Policy and Meaning of Diglossia”. *Word,* 20: ۱۵-۱۰. (مجله)

کتاب:

دبیر مقدم، محمد. (۱۳۹۵). زبانشناسی نظری، (ویراست سوم)، تهران: سمت.

هېمېنګوې، آرنېسټ. (۱۳۹۹)، *زوړ سړی او سیند*، (ژباړن: سعدالدین شپون)، (زیار او سمونه: اسحاق مومند)، (دویم چاپ)، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

د یوه لیکوال څو آثار په یوه کال چاپ شوي:

لایق، سلیمان. (۱۳۹۸الف)، *کېږدۍ*، (سمونه: سهیلا اصغري)، کابل: عازم خپرندویه ټولنه.

______. (۱۳۹۸ب)، *چونغر*، (سمونه: سهیلا اصغري)، کابل: عازم خپرندویه ټولنه.

د مقالو ټولګه:

حبیبي، عبدالحی. ۱۳٦۴. اشرف‌خان هجري د پښتو مقتدر قصیده سرا. د زلمي هېوادمل په زیار: *د هجري یاد*. ۱ -۷. د افغانستان د علومو اکاډیمي.

مجله:

شېراني، ضیاءالاسلام. (۱۴۰۱)، «د سوېلي پښتونخوا ادب د تحقیقي مباحثو په رڼا کې»، *ورږمه*، ۵ ګڼه، ۳۵ – ٦۲ مخونه.

د مقالې په متن، په لمنلیکونو کې، چې چېرته ارجاع لازمه وي، د لیندۍ دننه (د لیکوال تخلص، د چاپ کال او د مخ ګڼه) یې ولیکئ: (Chomsky, ۱۹۵۷, p.p. ۳٦-۳۸)، (هېمېنګوې، ۲۰۱٦، ۲۸ مخ)، (Gazdar, ۱۹۸۲,p. ۲٦)، (حبیبي، ۱۳٦۴، ۳مخ)، (Kendon, ۲۹۸۱ a, p. ۷٦)، (لایق ب، ۱۳۹۸، ۴۰مخ)، (Tollefson, ۱۹۸۳)، (شېراني، ۱۴۰۱)، مقالې ته ارجاع کېږي، نو معمولاً د مخ ګڼه نه راوړل کېږي، بلکې د لیکوال تخلص او د چاپ کال (لکه Tollefson یا شېراني) راځي. که له داسې منابعو کار اخلو چې یوه لیکوال ټولې په یوه کال لیکلې دي نو (د Kendon یا لایق غوندې) له a، b یا الف، ب... توریو کار واخلئ. د مقالو نومونه او د څېړکیو مجموعه په اېټالیک نه لیکل کېږي، یوازې د کتاب او د مقالو د ټولې ټولګې نوم اېټالیک کېږي. په هر سرلیک پسې نښتې لومړی پراګراف په خپل حال پاتېږي، د وروسته پراګرافونو پیل یوه سانتي د متن د ننه خوا ته پیل کړئ.

د لیکنې د پای اخځلیکونه باید د لاندې کټګوریو په ترتیب راشي: کتاب، تیزېسونه (د ماسترۍ او دوکتورا او یا تر هغې د لوړ)، پخپله د څېړونکي نور آثار، مجلې.

ماخذونه دوه ډوله دي، لاندې دواړه په یوه یوه بېلګه کې ښیو:

په متن کې دننه(حواله): په متن کې دننه ماخذ په دې ډول ښودل کېږي: (د لیکوال تخلص، د چاپ کال، د کتاب مخ). (هېمېنګوې، ۲۰۱٦، ۲۸مخ). که نقل قول په لیندیو کې ونیسو: «.......» (هېمېنګوې، ۲۰۱٦، ۲۸مخ).

کوم ماخذونه چې دوه ځله یا درې‌ځله بیاکتل او سم شوي دي، او په متن کې یې بدلون نه وي راغلی، لومړی چاپ یې د نورو ماخذونو غوندې نیسو خو ترڅنګ یې نوی اېډېشن په لویو لیندیو کې نیسو، موږ د محمددبیر مقدم د کتاب له دویم اېډېشن څخه کار اخلو، خو په لومړي اېډېشن کې هم دا جمله ورسره یوشان ده، لکه: (مقدم، ۱۳۸۳[۱۳۹۵]،۳۱۱مخ).

## ژبه او پېژندگلوي

اجمل ښکلی[۱]

**سریزه**

ژبه د پېژندگلوۍ مهمه برخه ده. په نړۍ کې داسې ټولنه نه پیدا کېږي، چې و نه غږېږي او ژبه و نه لري. هره ټولنه په خپله ژبه پېژندل کېږي، فرانسوي ټولنه په فرانسوي، روسي ټولنه په روسي، هسپانوي ټولنه په هسپانوي، الماني ټولنه په الماني او عربي ټولنه په عربي ژبه پېژندل کېږي.

### ۱. پېژندگلوي څه ده؟

پیش قدم او ملگري یې(۱۳۹۹: ۵۲) د بېلابېلو سرچینو له مخې په دې اند دي، چې "هویت" د پېژندگلوۍ د انډول په توگه عربي کلمه ده، چې د "ځوکوالي" په مانا د "هُوَ" له درېمگړي نومځري او "یت" د جعلي مصدر د رغاند په نقش کې له خپل ذات او حقیقت سره د پیوستون مانا لري. په بله وینا، د له اصلي او جوهري صفاتو سره د ستایلي یووالی ښيي(الطایی، ۱۳۷۸: ۳۳). د "هویت" کلمه د انگلیسي د Identity انډول ده. اکسفورډ(۲۰۰۱) هویت د "د وگړیو شخصیت یا عیني وجود" په مانا راوړی. د Identity کلمه لاتیني ریښه لري او ریښه یې Identities، Idem د "ورته" او "یو شان" مانا ورکوي(علیخاني، ۱۳۸۳).

څرنگه چې یو وگړی په څېره او خوی پېژندل کېږي او دی له نورو افرادو بېلوي، داسې ټولنه هم د خپل مادي او معنوي فرهنگ پر بنسټ له نورو ټولنو توپیرېږي. دا توپیر د فرد او ټولنې پېژندگلوي جوړوي.

پېژندگلوي د څه یې او څوک یې په مانا دی او د طبیعي اړتیا په توگه له یوه څیز یا ځای سره د انسان په تړاو کې رابرسېره کېږي. د رضایي او نورو(۱۳۹۱) په اند، پېژندگلوي د هغو نښو، مادي، چاپېریالي، ټولنیزو، فرهنگ او رواني آثارو ټولگې ته وایي، چې یو وگړی له بل، یوه ډله بلې او یو فرهنگ له بل نه بېلوي.

---

۱- د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهاند دوکتور استاد.

برېښنالیک: khkalay.ajmal۲@gmail.com

شمېره: ‎+۹۳۷۰۰۳۸۳۴۳۸

که څوک رانه پوښتنه وکړي، چې څوک يې؟ تر هر څه مخکې مو خولې ته خپل نوم راځي. که څه هم نوم د ژبې به برخه ده؛ خو دلته خبره يوازې په نوم نه ختمېږي، بلکې د هويت يا پېژندگلوي خبره ژوره ده. دا پېژندگلوي ښايي ډېر ډولونه ولري؛ خو په عمومي وېش کې په فردي او ټوليزې هغې ويشل کېږي؛ خو په دې ټولو کې د ژبې ونډه بنسټي ده(غفار ثمر، ۱۳۹۷: ۱۹۰-۱۹۱).

که له يوه چا سره مخ شو، سملاسي يې څېرې، د ويښتانو ډول، لباس او لهجې ته متوجه کېږو او په ذهن کې يې يو هويت جوړوو، چې دا د کومې سيمې دی، قوم و قبيله يې کومه ده، عادتونه به يې څه وي او داسې نور. دا ټول شيان د د دې فرد پېژندگلوي جوړوي، چې دی پرې د بلې سيمې او په قوم کې دننه د بلې قبيلې له يوه وگړي جلا کېږي.

ټولنه هم په همدې ډول له نورو ټولنو بېلېږي، چې بېل فرهنگ، جغرافيه او ژبه لري. که په لومړي وار يوه بلې ټولنې ته مثلا روسيې ته لاړ شئ، ځان درته پردی احساسېږي او داسې خلک وينې، چې د ژبې په گډون يې ډېر شيان له تا نه بېل دي. کوم شيان يې چې تا ته نوي ښکاري، هغه د دې ټولنې هويت ده.

کيم[1](۲۰۰۳) پېژندگلوي د خپل ځان په اړه د يوه وگړي(فرد) د تصور او برداشت په مفهوم رااخلي. په دې ډول پېژندگلوی‌په خپل ټولي کې دننه او يا د ټولنې په کچ له ځانه د وگړي ټولنيز پېژند(تعريف) ته وايي. نوموړی د دووس[2] په پيروی په دې اند دی، چې پېژندگلوی د شعوري پر ځای زياتره ناشعوري بهير دی. کراوشاو، کالن او توستينگ(۲۰۰۱: ۱۰۱۰) پېژندگلوی داسې تعريفوي: هويت په ژوند کې د يوه ځانگړي موقعيت تشخيص يا نه تشخيص دی، چې دا موقعيت او ورپورې تړلی چلن پرله پسې بدلېږي(پيش قدم، ۱۳۹۹: ۵۲-۵۳).

پيش قدم مخکې ليکي، چې هويت راته وايي، چې وگړي يا ټولي ځان ته په کومه سترگه گوري او نور وگړي او ټولي يې څرنگه راپېژني. د پېژندگلوی مفهوم ډېر اهميت لري، ځکه چې د همدې هويت په مټ موږ په دې پوهېږو، چې د کومو لاملونو له مخې موږ د نورو وگړيو غوندې يا ترې مختلف اوسو، چې پر بنسټ يې له نورو وگړيو سره ټولنيزې اړيکې جوړې کړو. په پايله کې ويلای شو، چې پېژندگلوی يو اړخيزه نه، بلکې څو اړخيزه ده(پاسنی اثر: ۵۳).

---

[1] Kim, L. S.

[2] DeVos, G.

## ۲. د پېژندګلوۍ، ژبې او فرهنګ ترمنځ اړیکې

څرنګه چې هره ټولنه په فرهنګ دننه خپل ارزښتونه، باورونه او تاریخ لري، نو چې بلې ټولنې ته د ګډوال په توګه لاړ شي او هلته یې هم د کوشیرېدو امکان کم، د پېژندګلوۍ له ستونزې سره مخېږي او په دې ډول په خپل پېژندګلوۍ د شرم او کمترۍ یا له کوربه ټولنې د پردیتوب احساس کوي، ځکه چې د ده ارزښتونه، ژبه او چلنونه په نوې ټولنه کې چلښت نه لري. افغانان د تېرو څو لسیزو کډوالیو د پېژندګلوۍ له ناورین سره مخ کړي او له خپلې جغرافیې یې پردي کړي، چې سیاسي ګټه یې د سیمې هېوادونو ته رسېدلې.

دا خو د پېژندګلوۍ د ستونزې خبره وه؛ خو له دې هاخوا پېژندګلوي یوه ټولنیزه پدیده ده، چې هره ټولنه او هر فرد ترې برخمن دی او د دې یو اړخ ژبه هم ده.

د ژبې او پېژندګلوۍ ترمنځ اړیکه څو اړخیزه ده. هویتونه په ډسکورونو کې جوړېږي او تفکرات او ماناوې هم د ژبې په مټ بیانېږي. د ارتباط پر دنده سربېره ژبې د خپلې پیلامي(سېبمولیکې) دندې له لارې هم د هویتونو په رامنځته کولو کې لوی لاس لري(کولهی، ۲۰۱۲).

ژبه یوه وسیله ده، چې په بېلابېلو اوبونو(قراینو) کې یې وګړي د خپل احساس د تبادلې لپاره کاروي(پیرس، ۱۹۹۵؛ نورتون، ۲۰۰)، هویت بیا یو فرهنګ او ټولنیز بهیر دی، چې د وینا په ډولونو کې راښکاره کېږي. په دې ډول په یوه ځانګړي موقعیت کې د ژبې د کارولو وړتیا د فرهنګي پېژندګلوۍ پر روزنه اغېز لري(باچلتر او ترچتر، ۲۰۰۱). ژبه د پېژندګولۍ یوه مهمه نښه ده(برګمن، واتروس رادر کویز او چالکلی، ۲۰۰۸). داسې ژبه د هویت یوه نه جلا کېدونکې برخه ده(پیش قدم او نور، ۱۳۹۹: ۵۴).

استاد حبیبي(۱۳۲۳) فرمایي: ژبه هم د انساني ژوندون یوه اجتماعي حادثه ده او د ټولنې له تاریخي ارتقا او اجتماعي روحیاتو سره ټینګه اړه لري. د کلماتو د پیدا کېدو عوامل د تسمیې وجوه او د ژبې د رغو پیدایښت د ټولنې د نشو و ارتقاء د سلسلې سره تړلي دي. اجتماعي محیط او جغرافي چاپېریال او تاریخي تحولات او پېښې د ژبې پر پښوېه هم اغېزې کوي او که څوک وغواړي چې د یوې ډلې، ټولنې سایکالوجي وڅېړي، نو د ژبې له پلوه ډېر غټ مواد پیدا کولای سي او د یوې انساني ټولنې اجتماعي کړه وړه او قومي کردار او دودونه او افکار او عقاید د ژبې په کلماتو او الفاظو کې خپل غیر مرئي اما عمیق اثرونه اچوي، مثلا د پښتنو په کلیوالي او کوچي ژوند کې د مېلمه پالنه یوه خورا ټینګه او پخوانۍ عنعنه ده او دا ملي رشه هم د محیطي و جغرافي او اجتماعي عواملو څخه پیدا سوې ده. یوه پښتون به ماښام تر هغه وخته ډوډۍ نه خوړه څو به د کوم مېلمه د راتلو احتمال و، پښتون به منتظر ناست و چې مبادا کوم مېلمه راسي او چې مېلمه به وارد سو، نو

ژر به یې خواږه ورته راوړه او پخپله به هم یوځای ورسره ناست و، چې ډوډۍ په ګډه وخوري.

استاد زیاتوي: هغه ستوری چې د ماښام پر وخت به راخوت او د مېلمه د راتلو وخت به یې اعلان کاوه، پښتنو د "مېلمه سترګه" وباله او دا تسمیه د دوی په اجتماعي چاپېر او ملي خلق او قومي مزاج اړه لري او فقط له دغې یوې کلمې څخه د اقوامو د روحیاتو څېړونکي له ډېر څه په لاس ورتلای سي. د پښتو په ګرامر کې ځینې نکتې په نظر راځي د ژبې وسعت او د پښتنو پر اجتماعي محیط او احتیاجاتو انطباق ښه ځني ښکاري او یو له دغو خصایصو څخه د پښتو ګرامر اشاري کلمات دي چې په نهایت وسعت او خورا دقت د دغه ملت پر اجتماعي مزاج دلالت کوي. استاد حبیبي تر دې وروسته د "دغې، هغې او هوغې" اشارې ټولنیز اړخ ته اشاره کوي، چې یوازې فیزیکي واټن نه ښیي، بلکې ټولنیزه فاصله هم راڅرګندوي. د کاکړ نیکه په اړه یوه ولسي کیسه رااخلي، چې یو مېلمه راغی او پلار خپل زامن په پېژندل، ویې ویل: دا مې زوی دی، هغه مې هم زوی دی. دا خبره د دوهم زوی تشخیص او ځانوالي ته چې په "هغه" مشارالیه سوی و، ګرانه ولوېده او له پلار سره یې رابطه وشلوله(حبیبي، شل مقالې: ۸۹-۹۰).

پښتانه په پښتو ژبه پېژندل کېږي. څوک چې پښتو نه وایي، که هر څو ځان ته پښتون وایي، خو په واقعیت کې پښتون نه دی، ځکه چې ژبه د فرهنګ اساس ده. ژبه له یوه نسل نه بل ته او په ټولنه کې له یوه فرد نه بل ته فرهنګ لېږدوي. خبرې اترې او الفاظ په اصل کې په فرهنګي توکیو لړلې وي. د ژبنیو توکیو فرهنګي او موقعیتي قرینې، له مخاطب نه د غوښتنې، پوښتنې ډول، د مقابل لوري د هڅونې، پوخلاینې، خوشحالولول، خپه کولو وسایل په ژبه کې دي. همدا دلیل دی، چې ټولنپوهان د فرهنګ په چاره کې ژبې ته ډېر اهمیت ورکوي.

په دې ډول ژبه د یوې ټولنې د پېژندګلوۍ مهمه برخه ځکه ده، چې د زیاترو ټولنو او قومونو نومونه د هغوی له ژبو یا برعکس اخیستل شوي دي، مثلاً هندي ټولنه په هندي، ازبکي ټولنه په ازبکي، قزاقي ټولنه په قزاقي، ترکي ټولنه په ترکي او ... پېژندل کېږي، چې لامل یې دا دی، چې د اروپا په ګډون پخوا د هېوادونو او ملتونو بنسټ پر ژبه ولاړ و(غفار ثمر، ۱۳۹۸: ۲۰۰).

په پایله کې ویلای شو، چې ژبه د پېژندګلوۍ په ایجاد او بیان کې بنسټي نقش لري، چې له دې پرته د هویت په اړه دقیقې خبرې نشو کولای. که څه ه پوهانو د ژبې آره دنده ارتباط ښودلې؛ خو د شوهامی(۲۰۰۶) غوندې پوهان دا هم وایي، چې د ژبې بل مهم نقش په وګړیو کې د پېژندګلوۍ پیدا کول دي. په پوسټ ماډرن پېر کې د توکم غوندې هویتي نښو

په پیکه کېدو سره دا ارزښت هم ژبې ورخپل کړی(پیش قدم او نور، ۱۳۹۹: ۵۴).
په پاسني پاراګراف کې مو ولوستل چې ژبه یوازې هویت بیانوي نه، بلکې جوړوي یې هم او دا د ژبې هغه اړخ و، چې په پوسټ ماډرنیزم او پسرغښتي تیوریو کې ورته پام شو او یو لامل دا هم، چې په پوسټ ماډرنیزم کې ژبه د بحثونو په مرکز کې پاتې شوه، ځکه چې ژبه د فرهنګ د هستې په توګه مطرح شوه، چې هر څه په همدې لوښي کې رازرغونېږي.
ښاغلی پیش قدم او نور(۱۳۹۹) ژبه د پېژندګلوۍ او فرهنګ ترمنځ د پول په توګه مطرح کوي. دا ژبه ده، چې هویت او فرهنګ سره نښلوي او له دواړو رنګ اخلي او دواړو ته رنګ ورکوي. په لاندې بڼه کې یې دا نده لیدای شو:




۱ بڼه: پر فرهنګ او پېژندګلوۍ د ژبې اغېز(پیش قدم او نور، ۱۳۹۹: ۵۵)

### ۳. له ژبې سره د فردي پېژندګلوۍ تړاو

دوه کسه چې خبرې کوي، په خبرو کې چې د ژبې بالفعل بڼه ده، د دواړو سن، جنس، قوم، سیمه او نور ډېر جزئي مسایل روښانه کېږي، مثلا یو کس په خپلو خبرو کې الف په اوږدو واو او واو په "ي" اړوي، موږ پوهېږي، چې د پکتیا یا خوست اوسېدونکی. د خبرو پر مهال یې ان په قبیله پوهېږو. د الفاظو له انتخابه یې جنس، سن او زده کړې معلومولای شو، چې دا ټول د یوه فرد د هویت برخې دي.
د فردي پېژندګلوي په روښانولو کې لومړی ځیز د غفار ثمر( ۱۳۹۶: ۱۹۲) په اند، نوم دی. د هر کس نوم د هغه د فردي هویت ښکارندوی دی او دا تر معلومولای شو، چې فرد د کومې او څه ډول کورنۍ او کوم قوم او سیمې دی. په افغانستان کې بالعموم تخلصونه په قبیلوي هویت، سیمې، پلار او کورنۍ پسې ځي. که د یوه شخص تخلص اڅکزی یا مومند وي، تر ډېره راته معلومېږي چې دی په قبیله څوک دی. که کامه وال یا زابلی و یا شلګری و، سیمه یې څرګندېږي او که شېرزوی یا بهرامي و، د پلار نوم یې تخلص کړی وي، چې د ده په هویت کې نقش لري. همدا راز که پلوشه و یا نرګس و، خو ښځینه او که بریالی یا محمود و، د جنس توپیر یې روښانه کېږي.
همدا ډول په ټولنو کې نومونه د هغه فرد د کورني هویت او ایډیالوژۍ ښکاروندویي کوي. که عبدالله، زینب یا ابو هریره، نو کورنۍ یې دیني تمایل لري او که کنشکا یا یما او میرویس یا بریالی، خوره او نور و؛ نو په غالب ګومان په کورنۍ کې یې هېوادپالنې او پر خپل ملي تاریخ د ویاړ رنګ ډېر دی.

د ښاغلي غفار ثمر(۱۹۳) په وینا، د یوه د چا د راپېژندنې(معرفۍ) په ډول کې هم د مخاطب فردي پېژندګلوي رابرسېره کېږي، چې د امریکایي ټولنپوه سکس(Sacks) په اند، معرفي د متقاران او نامتقارن دوه ډوله لري، مثلا لاندې د یوه نفر معرفي په دوو بېلو بېلو لولو، خو دواړه د معرفي کېدونکي کس دوه مختلفه هویته راښیي. په لومړۍ جمله کې د برابرۍ یا ملګرتیا او همغږۍ تصور او په دویمه کې د معرفي کوونکي او پېژندل کېدونکي کس ترمنځ د توپیر پروت دی:

۱. بریالیه! دا زما همکار زرین دی.

۲. بریالیه! دا زما همکار دوکتور زرین دی.

په ژبو کې نومځري هم د فردي هویت ښکارندوی کوي. د یوه چا ته د "ته" یا "تاسو" یا "ده" "دوی" کارونه د دویم کس حیثیت او ټولنز مقام ښیي. همدا راز چا ته په ټوکه یا جدیت "څوک" ویل د هغه د فردي هویت ښودانه کوي.

په ژبه کې د فردي هویت د ښکاره کولو لپاره ګڼ ساده او پېچلي توکي شته او دا مو په ټوله کې دې پایلې ته رسوي، چې ژبه له فردي هویته جلا کېدونکې نه ده او که د ورف، چې ژبه د تفکر سرچینه بولي، وګورو؛ نو ویلای شو، چې له فردي او ټولنیزه پېژندګلوۍ سره ژبه ژورې اړیکې لري.

## ۴. له ژبې سره د ټولنیزې پېژندګلوۍ تړاو

ژبه د یوې ټولنې د پېژندګلوي ښکارندویي کوي، بلکې د یوې ژبې فرهنګ چې دا ټولنه یې له نورو بېلېږي، د ژبې په لوښي کې خوندي وي؛ نو هر کس چې غږېږي، هغه د خپلې ټولنې انځور مخاطب ته په لاس ورکوي، چې د کومې او څه ډول ټولنې غړی دی؛ خو موږ پوهېږو، چې ټولنه تر ځان له وړو واحدونو جوړه وي، چې هغه هم ټولنیز اهمیت لري. همداسې هره ژبه له ګړدودونو جوړه وي. ژبه په بېلابېلو جغرافي محدودو کې په وینګ(تلفظ)، کلمو او آن استفاده کې توپیرونه لري، چې دا هر توپیر یوه بېله بڼه پیدا کوي، چې ګړدود ورته وایي(مجید، ۱۳۹۸: ۱٦). ګړدودونه د نازنځیري واحدونو او غړونو له پلوه او د څه نا څه وییزې او ډېر کم ګرامري ځانګړنو له مخې وبله توپیر لري او دا توپیر د لهجې د ویونکو ټولنیز او لهجوي پېژندګلوي راښیي.

دا د ژبې په مټ د ټولنیزې پېژندګلوۍ یوه بله لار ده، چې د یوې ټولنې د وګړیو د استفادې ډول ښیي او د ثرنبارو[۱](۱۹۹۹: ۱۴۳) په اند په ډله کې دننه او بهر د وګړیو هویت څرګندوي. دا وګړي، چې څومره خپلې هستې ته ورنېږدې وي، هغومره یې پېژندګلوي

[۱] Thornborrow

اسانه وي؛ خو چې کله له خپلې هستې لرې کېږي، ګړدودي او ډله ییز پېژندګلوي یې کمرنګه کېږي او ځای یې بل هویت نیسي، ممکن دا نوی هویت د ښاري معیاري ګړدود زېږنده وي یا یوه بله مشخصه ډله جوړه کړي، مثلا که له یوه ولایت یا قبیلې نه څوک د کابل د علی اباد په روغتون کې ډاکټر وي، دی له ټولنیز پلوه څو هویته لري، چې په ژبه کې راښکاره کېږي، یو د دوه قبیلوي شناخت دی، چې په لهجه کې راښکاره کېږي، دویم د ده مسلکي شناخت دی، چې د ډاکټر په توګه له نورو ډاکټرانو سره ګډ دی او یو بېل هویتي واحد جوړوي. بل د ده فردي هویت دی، چې د ټولنیز هویت په مرسته او توپیر راڅرګندېږي؛ خو یو بل هویت د معیاري لهجې د کارونې هم دی، چې دی د ټولو سیمو له ناروغانو او همکارانو سره تړلی ساتي او په دې ډول هڅه کوي، چې لږ وخت ته خپل ګړدودي هویت پرېږدي؛ خو څرنګه چې ګړدود د ده ذهن په ژورو کې پروت دی؛ نو ناشعوري ترې په معیاري ګړدود کې هم راښکاره کېدای شي.

د پښتو ګړدودونو په توپیر کې دوه اړخه ډېر اهمیت لري، چې یوه سیمه او بله قبیله ده. دا دواړه د ګړدودونو په بېلتون کې ټاکلی نقش لري او د هره یوه په له پامه غورځولو کې د ګړدودونو څېړنه بې مانا کوي.

د ټولنیز هویت په اړه مو یوه خبره هېره نشي، چې هره ټولنه خپل فرهنګ په ژبه کې راښکاره کوي. په پښتو کې موږ ګڼې ګړنې او متلونه لرو، چې د قوم په توګه زموږ د ټولنې د باورونو او ذهنیتونو ښکارندوی کوي او متلونه ژبني توکي دي، ځینې به یې لاندې راوړو:

ښځه یا د کور ده یا د ګور.

لوخې د قام بد غوښتل، سر یې په اوبو کې وچ شو.

له کلي وځه، له نرخه مه وځه.

دا متلونه او داسې نور په زرګونه متلونه او ګړنې که په یوه ځای کې ووایو، زموږ مخاطب ته تعریفوي، چې په کومه او څه ډول ټولنه او قوم کې ژوند کوو.

د قوم کلمه څو مانیزه ده. پښتانه یې د قبیلو لپاره هم کاروي او ان په قبیلو کې دننه وړو خېلونو ته هم کله نا کله قوم وایي. په پاکستان کې بیا د ملت په مانا کارېږي.

د ګیډنز او بردسال(۱۳۹۸: ۳۵۹) په اند، قومیت[۱] بېخي یو ټولنیز مفهوم دی، چې د یوې ټولنې د وګړیو هغو کارونو او فرهنګي چلندونو ته وایي، چې دا پرې له نورو بېلېږي. د یوه قوم افرادو په ټولنه کې له نورو وګړیو ځان بېل ګڼي او نور هم ورته بېل نظر کوي.

---

[۱] Ethnicity

د قوم تعریف داسې هم کولای شو، چې د افرادو، قبیلو هغه ټولگه چې خویونه، کړه وړه یې سره ورته او زیاتره په گډه سیمه کې اوسي او په یوه ژبه خبرې کوي. په دې تعریف کې د ژبې یادونه مهمه ده. که څه هم داسې قومونه شته، چې په یوه ژبه خبرې کوي؛ خو یو قوم دی، ځکه نژاد او فرهنگ یې توپیر لري، خو بیا هم د نړۍ زیاتره قومونه په یوه ژبه خبرې کوي. همدا لامل دی، چې له ټولنیز سره سره ژبه د قومي هویت ښکارندوی هم ده. پښتو د پښتنو قومي پېژندگلوي ده. یو څوک چې په پښتو غږېږي، که په گرامر او د کلمو په انتخاب کې یې ستونزه و نه وینو، د ژبې پر بنسټ یې په اړه پرېکړه کوو، چې پښتون دی او کله په دې تېروځو هم، ځکه ځینو کسانو چې له پښتنو سره له وړوکوالي اوسېدلي وي، په پښتو ډېر ښه غږېږي. دا ښیي، چې د قومیت د شناخت یوه مهمه وسیله ژبه ده او همدا ژبه ده، چې تر ډېره په یوه ملت کې دننه د قومونو ترمنځ د "موږ" او "تورو" توپیر وضع کوي.

**۵. له ژبې سره د ملي پېژندگلوۍ تړاو**

ملت د بېلابېلو قومونو ټولگه ده، چې په یوه ټاکلې جغرافیه کې د گډو اقتصادي او سیاسي موخو پر بنسټ سره راټول وي او گډ فرهنگي اړخونه ولري.

یو ملت له فرهنگي همرنگیو پرته د ژبې په کچ هم سره ورته والي لري او دا ورته والی په ملي ټرمینالوژۍ، د قومونو په گډ ژوند ژواک او په یوه هېواد کې د کارېدونکو ژبو په خپلمنځي اغېز کې راڅرگندېږي، مثلا که موږ په افغانستان کې له هر چا سره گړېږو، د صلاحیت، مکتوب، پوهنتون، پوهنځی، نصاب او داسې نورې کلمې کاروو، چې زموږ د گډې ملي جغرافیې زېږنده دي او که په اروپا کې هم سره مخ شو، د دې کلمو په کارونه یو بل پېژنو.

په ملي ټرمینالوژۍ کې د یوې جغرافیې د بېلابېلو ژبو او ان له جغرافیې د بهر ژبو ونډه هم وي، چې دا په یوه هېواد کې د دې قومونو شتون او هویت ښیي؛ خو د دې کارونه دومره ډېره شي، چې بیا د قومي پېژندگلوۍ پر ځای د ملي پېژندگلوۍ کچ ته ورلوړ شي او د ټول ملت په خوله جاري شي، چې یوه بېلگه یې لویه څارنوالي ده، چې که څه هم د پښتو کلمه ده؛ خو اوس ورسره د افغانستان ټول وگړي اشنا دي.

په یوه جغرافیه کې د ملي او رسمي شتون د ژبې د ټولنپوهنې له مخې بله هغه موضوع ده، چې د ملي هویت سبب کېږي. د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې د اکثریت ژبه ملي ژبه ده. د افغانستان د ۱۳۴۳ په اساسي قانون کې هم پښتو د افغانستان ملي او پښتو او دري رسمي ژبې وې.

د اکثریت په توگه د یوه قوم د ملي ژبې ټاکل که له یوه پلوه په هغه هېواد کې د هغه قومي هویت تثبیتوي او د ویاړ احساس ورکوي، د ملت په راټولولو کې هم نقش لري او د خلکو

ترمنځ د ارتباط یوه وسیله پیدا کوي. همد اراز رسمي ژبه هم چې په رسمیاتو کې کارېږي، د ملي هویت په جوړولو کې مهمه وي، چې بیا دا دواړه ژبه د یوه هېواد د وګړي په ملي هویت بدلېږي او په نورو نړۍ کې یې خلکو ته ورپېژني، ځکه خو کرول(۲۰۰۱) وایي، چې ژبه داسې ځواک دی، چې هم سره خلک راټولوي او هم یې بېلوي؛ او په پایله کې په ژبنۍ ژمنتیا او ملتپالنه اوړي. نوموړی مخکې وایي: " د ملي ژبې ویاړ په دې کې دی، چې په حساسو کورنیو شرایطو کې د یوه ملت د پاشلتیا مخه نیسي او یو ملت راټول ساتي. ګډه ژبه د یوه ملت د متحدولو پیاوړې وسیله ده، چې له هېواد سره د خلکو د عاطفي او افادي تړاو پیدا کوي او پیاوړی کوي. ملي ژبه د پولو په ټاکلو او د پېژندګلوۍ او پیوستون د حس په پیاوړي کولو کې د یوه ملت په یووالي، پېژندګلوي او پیاوړتیا کې مرسته کوي(غفار ثمر، ۱۳۹۸: ۲۰۰).

په ژبه کې د ملي پېژندګلوۍ د رابرسېره کېدو یوه بله وسیله ژبه ده. ملي سرود چې عاطفي بار لري، له یوه هېواد سره د خپلو وګړیو مینه پیدا کوي او په نړۍ کې د هغه هېواد ملي هویت ښیي. ښاغلی غفار ثمر د رضایي او نورو له خولې نور توکي هم د ملي هویت په توګه څرګندوي، لکه ملي لوبې، لباس، خواړه، باورونه، اداب، اخلاقي ځانګړنې، لرغوني آثار او ځایونه، ملي نکلونه، بیرغ، ملي اقتصاد، هنر، ژبه(نومونې، کنایې، متلونه، کلیز، نومونه، پور کلمې، لیک)، ادبیات، تاریخ او تمدن، ملي مشاهیر او نور هم یادوي، چې په دې کې یوه د هغه هېواد تذکره او پاسپورت هم دي، چې د هغه ملت هویت ترې څرګندېږي، چې دا هم په ملي پېژندګلوۍ کې د ژبې ونډه ښیي.

غفار ثمر(۱۳۹۶: ۲۰۰) د قمري او حسن زاده په استناد وایي، چې ملي هویت او ملي ژبه پر یو بل اغېز لري. د ایران پر خلاف د افغانستان ملي هویت تر ډېره په تاریخ ولاړ دی، چې په شلمه پېړۍ کې د ژبې توک هم ورداخل شو او هڅه وشوه، چې د جغرافیې د متحد ساتلو لپاره په خلکو کې د ژبې د یووالي روحیه پیدا کړي.

د یوه هېواد ملي ژبه د هغه هېواد د پېژندنې کیلي وي او که څوک غواړي، چې د هغه هېواد وګړی شي، اړ دی، چې ملي ژبه یې زده کړي. د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې چې بهرنی تابعیت اخلي یا زده کړې کوي، لومړی باید د هغوی ملي یا رسمي ژبه زده کړي، هله ورته د پوهنتون او ټولنې دروازې پرانیزي او دا ځکه چې د هویت په مورد کې ملي ژبه د یوه ملت د پیوستون سبب وي او د هغه ملت روح او فرهنګ پکې پروت وي؛ نو چې څوک تابعیت اخلي، باید د هغه ملت روح پکې حلول وکړي او فرهنګ یې په اسانه ورخپل کړي، چې سبا د پردیتوب د احساس له امله ورته ستونزې پیدا نه کړي.

همدا رازپه پوهنتونونو کې زده کړې په ملي او رسمي ژبو وي؛ نو که څوک یې په ژبه پوه

نشي، د تحصیل چاره نیمګړې پاتې کېږي.

**٦. له ژبې سره د دیني پېژندګلوۍ**

که د نړۍ تاریخ ته وګورو، هر دین په یوه ځانګړې ژبه راغلی یا لکه د مسیحیت غوندې وروسته په یوه داسې ژبه ژباړل شوی، چې د ده د دیني هویت لامل ګرځېدلی. د ژبې او دین تړاو دومره پېچلی او اساسي دی، چې ان په ځینو دینونو کې لکه مسیحیت کې له لاتیني نه نورو سیمه ییزو ژبو ته په منځنیو پېړیو کې د بایبل پر ژباړه بندیز و، ممکن د دې تر شا به د انحصار لامل هم وي؛ خو ورسره دا باور هم حاکم و، چې له اصلي ژبې په بله ژبه د نصوصو ترجمه د دین د تحریف سبب کېږي او آن اغېز یې کمېږي.

دا دویم ډول یې موږ په اسلامي نړۍ کې هم وینو. مسلمانان په مختلفو ژبو خبرې کوي؛ خو لمونځ، ځینې دعاوې او نور دیني مناسک په عربي ژبه ادا کوي او باور دا دی، چې دا باید همداسې وویل شي، ځکه چې د خدای کلام په عربي ژبه رانازل شوی دی او باید په دیني مراسم کې په همدې ژبه ادا شي.

مفسرانو چې د قرآن کریم تفسیرونو کړی، د عربي ژبې د وییز، مانیز او ګرامري نظام خیال یې پکې هرومرو ساتلی او آن د تفسیر او ترجمې لپاره صرف و نحوه او آرپوهنه د یوه اصل په توګه مطرح دي. د تفسیرونو ترمنځ د توپیرونو یو لوی لامل همدا د عربي ژبې نظام دی او دا ښیي، چې دین له ژبې سره څومره پېچلی تړاو لري.

څرنګه چې دین د یوې ټولنې د هویت برخه دی، داسې د دین ژبه د یوې ټولنې د دیني هویت ښکارندوی دی. که د اروپا په یوه هېواد کې د یوه کس له خولې د "السلام علیکم" لفظ واورو، له واره پوهېږو، چې مسلمان دی او که څوک راته نمستې ووایي، د هغه د هندوتو هویت پکې رابرسېره کېږي.

د یوې ټولنې ژبه که هر څه وي؛ خو دیني مناسک او دیني وییزېرمه یې د دیني هویت ښکارندویي کوي. په پښتو ژبه کې د لمونځ، روژه، زکات، حج، سلام، یوه چا ته دعا او ښېرا او داسې ګڼې کلمې او جملې دي، چې زموږ دیني هویت ښیي او دا له ژبې سره د دیني پېژندګلوۍ تړاو څرګندوي.

همدا راز د افرادو او نورو په نومونو د دین اغېز د افرادو د دیني هویت ښکارندویي کوي، لکه عبدالله، فرید احمد او داسې نور نومونه. په ټوله کې دیني هویت له ټولنیز، قومي او ملي هویت د یوه فرد د هویت په څرګندولو کې سره لاس ورکوي او د هغه د سیمې، قوم، قبیلې، ملت او دین ښکارندویي کوي.

په نړۍ کې یې یوه بله بېلګه اسراییل دي، چې عبري یې دیني او ملي ژبه ده. هغه مهال چې اسراییل د نړۍ په لر و بر کې سر وهلي بر وهلي ګرځېدل هم یې دین وساته او د دین

په ساتلو کې ورسره عبري مرسته وکړه. اوس عبري د اسراییلو د دیني هویت اساسي برخه ده، چې راژوندۍ کړې یې ده.

ښاغلی غفار ثمر(۱۳۹۶: ۲۰۶) د آنتوني کمپل له خولې لیک، چې په ټوله کې دینونه روایي ډسکورسونه دي، چې له ژبې سره ژوره اړیکه لري او د ژبې له منځګړیتوب یې امکان نشته او آن د ژبې او دین اړیکه دومره پخه بولي، چې وایي، د دین او ژبې ریښه د بشر په تاریخ کې ښایي یو شان او هممهالې وي.

**ماخذونه**

پیش قدم، رضا؛ دکتر الهام ناجی میدانی؛ دکتر آیدا فیروزیان پور اصفهانی. **۱۳۹۹**. رویکردی آموزشی به جامعه شناسی زبان. مشهد: دانشگاه فردوسی

حبیبي، عبدالحی. ۱۳۲۳. د پښتو لغاتو د تحقیق لارې. کابل مجله، ۲ ګڼه. کابل: پښتو ټولنه

غفار ثمر، رضا. ۱۳۹۶. مبانی جامعه شناسی زبان.تهران: انتشارات دانشگاه تربیت مدرس

گیدنز، آنتونی و بردسال، کارن. ۱۳۹۸. جامعه شناسی. مترجم: حسن چاوشیان. تهران: نشر نی

مجید، عظیمه. ۱۳۹۸. لهجه شناسی. کابل: انتشارات امیری

# په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبیر وړاندې‌کوونکي ماډلونه او بڼې

عبدالسمیع وحدت[۱]

**لنډیز**

دا څېړنه د تعبیر له پلوه د جملو د توکونو ترمنځ ترتیب د یوې ادراکي پدیدې په توگه څېړي او د هغې مختلفې بڼې په ادراکي ژبپوهنه کې راسپړي. دا څېړنه موږ ته تعبیر د هغو لارو چارو په توگه راپېژني، چې ویناوال یو حالت څنگه په بېلابېلو ادراکي اړخونو کې تشریح کولی او تصور کولی شي. د دې موخې د ترلاسې لپاره، دا څېړنه په دوو اساسي ټکو تمرکز کوي: (الف) په لنډه توگه د تعبیر معرفي او د هغې د ډلبندي ځینې ماډلونه؛ (ب) د تعبیر نهه (۹) وړاندې کوونکې بڼې - چې موږ یې معمولاً د ادراکي ژبپوهنې په ادبیاتو کې تر مطالعې لاندې نیسو.

**سریزه**

تعبیر (Construal) د ادراکي ژبپوهنې (Cognitive Linguistics) یو اساسي مفهوم دی چې په ژبه کې د انسانانو له بنسټیزو ادراکي عملیو څخه گڼل کیږي؛ په تعبیر کې دا ښوول کیږي، چې یو ویناوال څرنگه یو مفهومي تمثیل وړاندې کوي او دا مفهوم څرنگه د ژبې د کلمو په توگه کوډ کېدای شي (Evans, ۲۰۰۷, p. ٤٠).

په بل عبارت، تعبیر یوه بنسټیزه ادراکي عملیه ده، چې د مختلفو بدیلونو له منځه د مناسبو رغښتي ممکناتو په انتخاب کې مرسته کوي، دا هغه بېلابېلې لارې دي چې یو ځانگړی حالت یا صحنه څرنگه ویني، په دې توگه پرېکړه کوي چې ژبه څرنگه کارول کیږي. د بېلگې په توگه، کله چې یو ویناوال په دقیقه توگه د ستورو فضایي توزیع ویني، په مختلفو بڼو یې بیانولای شي: لکه یو اسماني شکل، د ستورو یوه ډله، په اسمان کې د رڼا ټکې او داسې نور. دا ډول بیانونه د مانا له مخې یو شان نه دي؛ دوی هر یو د ویناوال د صحنې بدیل تعبیرونه څرگندوي، دا هر تعبیر د ویناوال د خپلو عیني ورکړل شوو ځانگړنو سره سمون لري (Langacker, ۱۹۹۱, p. ٦١) .

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهندوی استاد

برېښنالیک: wahdat۲۰۱۰@gmail.com

شمېره: ۰۰۹۳۷٦٦۰۰۰۰۰۸+

د دې څېړنې موخه دا ده چې تعبير د يوې بنسټيزې انساني ادراکي عملې په توګه وڅېړي او د ورانديز کولو بنې يې په ادراکي ژبپوهنه کې وښيي. د دې موخې لپاره، څېړنه پر دوو اصلي ټکو تمرکز کوي: لومړی، د تعبير لنډه معرفي او د ډلبندۍ څېنې ماډلونه يې؛ دويم، د تعبير وړاندې کولو د هغې بڼې ارزونه چې موږ يې په ادراکي ژبپوهنه کې معمولاً ګورو.

**۲) تعبير (Construal)**

"تعبير (Construal) په ادراکي ژبپوهنه کې يوه موقعيت ته په کتو د برداشت بېلابېلو ډولونو ته وايي. په ساده ژبه: تعبير، د مفهومساز په لاس د مفهومي منځپانګې د پرېکون څرنګوالي ته وايي" (خورشيد، ۱۳۹۸، ۷۷ مخ).

دا مفهوم د دې لپاره کارول کېږي چې وښيي ويناوال يا ليکوال د يوې موضوع، پېښې يا صحنې په اړه څرنګه مختلف کاته وړاندې کوي، او څرنګه يې مخاطبان مختلفې معناوې او تفسيرونه تر لاسه کوي.

په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبير موضوع د ۱۹۸۰ لسيزې په وروستيو کې او د ۱۹۹۰ لسيزې په لومړيو کې په ډېره مطرح شوه. په دې برخه کې د ادراکي ژبپوهنې مخکښو ژبپوهانو، لکه جورج ليکاف (George Lakoff) ، کروموف او کروز، ټالمي او رونالډ لنګکر (Ronald Langacker)د دې مفهوم په پراختيا کې مهم رول درلود.

جورج ليکاف د مارک جانسن په همکارۍ، په خپل مشهور اثر "Metaphors We Live By" (۱۹۸۰) کې د تعبيري نقشې نظريه مطرح کړه. د دوی په وينا، استعارې او تعبيري نقشې د انسانانو د فکر او ژبې د بنسټ ډبرې دي او انسانان له دې لارې د مختلفو تجربو او پېښو ترمنځ خپلمنځي اړيکې ټينګوي او تنظيموي. جورج ليکاف په مفهومي نقشه (Conceptual Mapping)کې دې ته اشاره کوي، چې انسانان د خپل ادراکي سيستم له لارې مختلف مفاهيم او صحنې څرنګه سره نښلوي. ليکاف او جانسن دواړه دا استدلال کوي، چې استعاري فکر د انسانانو د ادراکي سيستم يوه بنسټيزه برخه جوړوي. دوی وايي موږ په روزمره ژوند کې د استعارو په مټ مفاهيم او تجربې درک او تفسيرو. په مفهومي نقشه کې، يو مفهومي ډګر (source domain) په بل مفهومي ډګر (target domain) باندې ښوول کېږي. که د يوه ډګر ځانګړتياوې په بل کې راپيدا شي، نو يوه ته (source domain) او بل ته (target domain) ويل کېږي او دا د استعاري پروسو په مټ ښودل کېږي، لکه "وخت د پيسو لپاره استعاره کول":په دې استعاري نقشه کې، وخت د پيسو په توګه تعبير شوی، څکه وخت ضايع کول، يا وخت سپمول د پيسو په څېر ضايع کېږي او سپمېږي، نو وخت را اخيستل شوی او د پيسو په مټ مفهومي شوی دی.

اېوانز هم تعبیر (Construal) د ادراکي ژبپوهنې په مرکزي مفاهیمو کې ګڼلی او د انسان د اساسي ادراکي عملیو یوه څرګندونه یې بولي. نوموړی وایي "د تعبیر مفهوم دې ته ویل کېږي، چې د یو ژبې کارونکی څنګه یوه مفکوره یا تصور په ژبه کې ډلبندي کوي یا ارایه کوي، چې په پایله کې د اورېدونکي په ذهن کې د خبري شوې مفکورې استازولی ته یوه پایله ورکوي. یا هم تعبیر د انسانانو د ژبنۍ او ادراکي وړتیاوو یوه څرګندونه ده چې مختلفې صحنې په بدیلو لارو کې تعبیر او بیان کړي." (اېوانز، ۲۰۰۷، ۴۰ مخ).

لنګکر (۱۹۹۱) په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبیر په اړه کاږي"تعبیر د یوې ژبې د جملې یو داسې ادراکي عمل دی، چې په مټ یې ویناوال کولی شي، یوه پېښه د خپل لید له زاویې په بېلابېلو بڼو بیان کړي. د ده په وینا، موږ کولای شو د ستورو مکاني وېش لکه د ستورو یوه ټولګه، د ستورو یوه ډله، د آسمان په رڼا کې واړه داغونه او داسې نورو مفاهیمو په ډول بیان کړو. دا ډول څرګندونې د همدې صحنې مختلف تعابیر دي او هر یو یې د موضوعي ځانګړتیاوو پر بنسټ مختلفې معناوې لري. په ژبپوهنه کې تعبیر د دې ډول بدیل تعبیرونه مطالعه کوي، چې څنګه ویناوال د خپلې تجربې او لید پر بنسټ یوه صحنه تعبیروي (لنګکر ، ۱۹۹۱، ٦١ مخ).

## ۲) په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبیر ځینې ماډلونه

### الف: د لنګکر د تعبیر ماډل

لنګکر په خپل مشهور اثر کې د تعبیر عملیې پر درېیو برخو باندې وویشلي او هغه یې "focal adjustments"وبللې (لنګکر، ۱۹۸۷، ۱۱٦ -۱۳۷ مخونه). دغه درې برخې دا دي:

۱. انتخاب (Selection)

۲. لرلید (Perspective)

۳. تجرید (Abstraction)

**۱- انتخاب (Selection)**

د لنګکر په ماډل کې انتخاب هغه ظرفیت دی، چې یو ویناوال په ژبه کې د یوې مفکورې ځینې اړخونه په پام کې ونیسي او نور اړخونه له پامه وغورځوي. یا په بله اصطلاح چې ویناوال د یوې پیښې یا صحنې یوې برخې ته توجه وکړي او نورې برخې له پامه وغورځوي، دا عمل د ویناوال په واک کې دی چې کومې برخې د یو مفهوم، پیښې یا صحنې مهمې دي او باید ورته پام وشي او کومې برخې یې د توجه وړ نه دي. لکه "پیشو په چمن کې لوبې کوي" دلته انتخاب شوی عنصر "پیشو" ده چې د ویناوال د توجه مرکز دی، پر چمن، هوا او نورو څیزونو باندې ځکه د ویناوال تمرکز نه دی شوی چې ویناوال

ته مهم نه دي.

**۲- لرلید(Perspective)**

د لنگکر په تعبیري ماډل کې لرلید (Perspective) هغه برخه ده چې ویناوال څرنگه د یوه مفهوم، پیښې، یا صحنې لیدلوری ټاکي. په لرلید کې هغه موقعیت یا زاویه په گوته کېږي، چې له هغې څخه ویناوال یو حالت یا وضعیت مشاهده کړی وي؛ څلور ډوله دی:

- **لیدلوری :(Viewpoint)** "زه د غونډۍ له سره ښار ته گورم".دلته لیدلوری د غونډۍ سر دی او ویناوال ښار له لوړې برخې چې "غونډۍ" ده،ویني.

- **شکل او زمینه :(Figure/Ground Alignment)** "ماشوم په چمن کې لوبې کوي." دلته ماشوم (figure) د پام وړ عنصر دی او چمن (ground) د شکل لپاره ملاتړې برخه ده.

- **اشاره :(Dixies)** " هغه نن دلته دی، خو سبا به هلته وي." هغه ژبنۍ نښه ده، چې د وخت او ځای موقعیتونه یو له بله سره نښلوي، "نن" او "سبا"، "دلته" او "هلته" بیا د ویناوال او اورېدونکي موقعیتونه موږ ته راښیي، چې "هغه" د ویناوال په وخت او ځای کې قرار لري.

- **عینیتوب/انتزاعیتوب :(Objectivity/Subjectivity)** "زه احساسوم، چې هوا یخه ده" دلته ویناوال خپل شخصي احساس (subjectivity) څرگند کړی، په داسې حال کې چې "هوا یخه ده" عینیت (objectivity) کېدای شي. په عینیت کې د ویناوال خپله تجربه او احساس نه وي ورسره شریک، یوازې معلومات وړاندې کوي، خو په انتزاعیتوب کې له معلوماتو سره د ویناوال احساسات او تجربه هم غوټه وي.

**۳- تجرید(Abstraction)**

تجرید دې ته ویل کېږي، چې د مختلفو پېښو ترمنځ عمومیتونه ومومو او له توپیرونو څخه یې تېر شو(تجرید وکړو). د لنگکر په دې ماډل کې مفکورې په کلاسونو او کټگوریو کې تنظمېږي. په دې تعبیر کې عمومي مفکورې او عمومي کټگورۍ رامنځته کېږي، لکه "سپي، پیشوگانې او مارغان ټول حیوانات دي" دلته درې بېلابېلې ډلې (سپي، پیشوگانې او مارغان) د یوه عمومي مفهوم (حیوانات) تر کټگورۍ لاندې تنظیم شوي او پر توپیرونو یې سترگې پټې شوې دي.

لنگکر په ۱۹۹۳ کال پخپل اثر "Universals of Construal" کې، د ۱۹۸۷ کال د تعبیر وېش باندې بیاکتنه وکړه او پر لاندې څلورو برخو باندې خپل پخوانی وېش تعدیل کړ:

۱. ټاکلتیا/ مشخصوالی (Specificity)

۲. جوتيا (Prominence)

۳. لرليد (Perspective)

٤. تحرک (Dynamicity)

**۱. ټاکلتيا (Specificity)**

ټاکلتيا د لنگکر د ۱۹۸۷ وېش د تجريد له برخې سره نږدې مطابقت لري. دا برخه د يوې مفکورې د توضيحاتو او جزياتو کچه ښيي. په لوړه ځانگړتيا کې توضيحات ډېر تفصيلي او دقيق وي او په ټيټه ځانگړتيا کې بيا عمومي او تجريد شوي توضيحات راغلي وي. يا په ټيته ځانگړتيا کې ويناوال د يوې صحنې يا حالت په اړه عمومي معلومات ورکوي او دا معلومات لږ تفصيل لري، خو په ټيټه ځانگړتيا کې بيا ويناوال د يوې صحنې يا حالت په اړه دقيق او تفصيلي معلومات ورکوي او دا معلومات له زياتو جزياتو سره وړاندې کېږي، د يوې پېښې، کار يا پديدې ځانگړې ځانگړتياوې هم پکې راځي.

په ټاکلتيا کې د يوه موقعيت په وړاندې کولو کې دقت او روښتيا ده، مثلا "ترور" مفهوم د "خپلوان" تر مفهوم ټاکلی دی، ځکه چې "خپلوان" يوه عمومي سکيما ښيي، چې د "ترور" مفهوم ته يې هم رانغښتی دی (لنگکر، ۲۰۱۳، ۵۵ مخ).

په دې جمله کې "زه نن سهار ښوونځي ته، په سپين کميس، شين پتلون، او تورو بوټانو کې ولاړم " دا لوړه ځانگړتيا ده، ځکه توضيحات پکې ډېر دقيق او تفصيلي راغلي او د لباس هر جز يې ښوولی دی؛ خو که ووايو چې "زه نن ښوونځي ته ولاړم". دلته توضيحات عمومي دي او د لباس يا نورو جزياتو ذکر پکې نه دی شوی.

**۲. جوتيا (Prominence)**

د لنگکر په نوې ډلبندۍ کې جوتا يوه نوې برخه ده، په دې برخه کې د (شکل او زمينې) هغه پديدې هم شامليږي، چې په مخکنۍ ډلبندۍ کې د انتخاب تر چتر لاندې وې. په دې برخه کې د يوې صحنې پر هغو عناصرو فوکس او پام کېږي چې ويناوال ته اهميت لري او هغه برخې چې د ويناوال توجه ورته کمه وي، هغه عناصر نه فوکس کېږي. يا هم کله چې يو کس وينا کوي، هغه اصلي پيغامونه او نظرونه چې غواړي اورېدونکی پرې تمرکز وکړي، د شکل په توگه وړاندې کوي، په داسې حال کې چې د اصلي پيغام ملاتړي معلومات او اضافي توضيحات د زمينې په توگه پاتې کېږي. لکه: د ويستهايمر مثلث :په دې مثال کې، يو مثلث د شکل په توگه ښکاري او ژر توجه ورته اوړي؛ په داسې حال کې چې پاتې پسمنظر يې تکميلي او غير مهم دی او د توجه وړ نه دی.



Kanizsa triangle

ویستهایمر مثلث لومړی ځل په ۱۹۲۳ کې د ګشتالت ارواپوهنې د نظریې په رڼا کې د ماکس ویتهایمر له خوا معرفي شو. د دې مثلث هدف دا و چې د بصري ادراک په برخه کې د "شکل" او "زمینې" اړیکې او تعاملات تشریح کړي. د ویستهایمر مثلث موږ ته دا راښيي، چې څنګه ذهن د لید لومړني عناصر سره نښلوي چې یو بشپړ شکل جوړ کړي، حتی که هغه بشپړ هم نه وي. د ویستهایمر مثلث (Westheimer triangle) په اصل کې یوه رواني لیدیزه پدیده ده او د ګشتالت (Gestalt) نظریه هم پر همدې اصل باندې ولاړه ده. په دې لیدیزه پدیده کې موږ ته دا راښوول کیږي، چې څنګه یوه د لید صحنه جالب توهم رامنځته کوي. په دې مثلث کې نور څه کمال نشته، یوازې یوه بصري (لیدنۍ) ګلالۍ غلط‌فهمي یا توهم دی. دا مثلث درې تورې دایرې او یو مثلث لرونکی شکل په خپله اډانه کې رانغاړي. درې دایرې په دې مثلث کې داسې ځای پر ځای شوي چې پرته له دې چې د مثلث کرښې یا ضلعې رسم شي دوی د یوه مثلث کونجونه جوړوي. د ګشتالت قانون هم پر دې اصل تکیه کوي. هغه وایي انسانان د لږو معلوماتو پر بنسټ یو بشپړ شکل لیدلای شي. په ورځني ژوند کې هم کله چې موږ ته یو څه ناکافي معلومات راکړل شي، لکه د یوې ودانۍ څو برخې، ذهن یې د بشپړې ودانۍ په توګه راپېژني او دا په ژبه کې هم خورا مهم اصل دی، څکه انسانان د لږو معلوماتو په اساس پر ډېر څه باندې د همدې اصل په بنسټ پوهېدای شي. یا هم په بصري روانشناسۍ کې دا توهم د دې لپاره کارول کیږي چې څرنګه انسانان له نیمګړو یا جزوي معلوماتو څخه بشپړ شکلونه استنتاجوي.

**۳. لرلید (Perspective)**

لرلید د لنګکر د ۱۹۸۷ کال له ماډل څخه په هماغه پخواني ډول پاتې دی او کوم بدلون یې په مفهوم کې نه دی راوستی، خو یو وړوکی تغییر دا پکې لیدل کیږي چې د (شکل او

زمینې) فرعي برخه اوس د اهمیت په برخه کې ځای پر ځای شوې ده. لرلید لا هم د لیدلوري، دیکسیس، او عمومیتوب/انتزاعیتوب په برخو کې پاتې کېږي، چې تمرکز یې پر دې دی چې د ناظر موقعیت د مفکورې په تشریح کې څرنگه اغېز کوي؟
"گلدان او کتاب خوا په خوا پراته دي. تاسې که د گلدان شاته یئ لاندې (الف ۱) جمله او که د کتاب خوا ته یئ، (ب ۱) جمله وایئ:
الف ۱: کتاب د گلدان شاته دی.
ب ۱: کتاب د گلدان په خوا کې دی.
سره له دې چې دا یوه صحنه ده؛ خو دوې مختلفې جملې ورته کارېدلې، چې دوه مختلف تعبیرونه لري، ځکه چې د وېناوال (نندارچي) موقعیت په دواړو حالتونو کې مختلف دی؛ نو په (الف ۲) جمله کې نندارچي (وېناوال) لومړی کور ویني، خو په (ب ۲) جمله کې "کابل" د نندارچي او "کور" ترمنځ راغلی دی. لاندې دوه جملې هم د یوه واقعیت دوه مختلف تعبیرونه دي:
الف ۲: زموږ له کوره تر بازاره پورې دوه کیلومتره لار ده.
ب ۲: له بازاره زموږ تر کوره پورې دوه کیلومتره لار ده.
دا دوېجملې یو واقعیت راښیي، خو بیا یې هم ماناوې مختلفې دي، ځکه چې ننداره مختلفه ده. په (الف ۱) جمله کې نندارچي په کور کې دی او "کور" خوځند(Trajector) او "بازار" ځاینښه(Landmark) ده؛ خو په (ب ۱) جمله کې نندارچي په بازار کې دی" (ښکلی، ۱۴۰۲، ۱۳۵مخ).

**۴- تحرک(Dynamicity)**

تحرک په دې ډلبندۍ کې یوه اضافي برخه ده چې د لنگکر په ۱۹۹۳ ماډل کې معرفي شوې ده. تحرک دې ته ویل کېږي، چې یوه متحرکه مفکوره په هغه شي باندې تطبیق کړي، چې خپله متحرکه نه وي، لکه: سړک یو ناخوځند یا غیري متحرک څیز دی، او ته ووایې چې " دا سړک غره ته خېژي" دلته سړک د یوې متحرکې مفکورې په واسطه متحرک شوی دی.

**ب: د تعبیر په اړه د ټالمي (Talmy's) ډلبندي**

ټالمي (Talmy's) په ۱۹۸۸ کې د تعبیر (construal) لپاره څلور مهمې بنې پیشنهاد کړې او هغه یې د "**imaging systems**" یا (تصویري سیستم) په نامه یادې کړې:

۱. **جوړښت (Schematization)**

دا د Langacker له **specificity** سره اړیکه لري، په سکیمایي جوړښت کې د یوه موقعیت

په وړاندې کولو کې دقت او روښتیا ده، مثلا د "ترور" مفهوم د "خپلوان" تر مفهوم ټاکلی دی، ځکه چې "خپلوان" یوه عمومي سکیما ښیي، چې د "ترور" مفهوم ته یې هم پراختیا موندلې ده (لنګکر، ۲۰۱۳، ۵۵ مخ).

۲. **لرلید (Perspective)**

دا د Langacker له **viewpoint** سره ورتەوالی لري، چې په دې کې د ویناوال موقعیت او لیدلوری د معنا په څرګندولو کې مهم رول لوبوي، لکه:" له کړکۍ څخه یې ویني" دلته ویناوال د یو ځانګړي ځای (کړکۍ) څخه د لیدلو زاویه تشریح کوي. دا ډول فضایي لرلید موږ ته د ویناوال موقعیت او د پېښې ځای را په ګوته کوي.

۳. **ځواک(Force Dynamics)**

ټالمي د ځواک مفهوم د ژبې په مرسته تشریح کوي چې څرنګه مختلف ځواکونه او اغېزې په یوه پېښه کې متقابل عمل رامنځته کوي. د بېلګې په توګه، "ماشوم توپ وتاړه"، د توپ عمل (تړل) د ماشوم د ځواک له امله شوی دی. دلته "ماشوم" د ځواک سرچینه ده او "توپ" هغه څیز دی چې اغېزمن شوی دی. دا ډول ځواک او اغېزې د ژبې له لارې په بېلابېلو پېښو کې په مختلفو طریقو تشریح کېږي.

٤. **ځیرتیا/ پاملرنه (Attention)**

ټالمي ځیرتیا د هغو عملیو په توګه بیانوي چې په وسیله یې ویناوال او اورېدونکی ځینې اړخونه یا جزیات د یوې پېښې یا حالت په اړه په پام کې نیسي او نور له پامه غورځوي. د بېلګې په توګه، " ماشوم په باغ کې له ګلونو سره لوبې کوي."

دلته ویناوال یوازې د ماشوم او ګلونو پر لوبو تمرکز کوي او د باغ نور جزیات له پامه غورځوي. د ځیرتیا تر ټولو ښه بېلګه د فیلمور د فرېم سیمانتیکس تیوري Frame) (Semantics ده، دا تیوري په ژبپوهنه کې په ۱۹۷۰ لسیزه کې د چارلز فیلمور له خوا وړاندې شوه. په دې تیورۍ کې پر دې تمرکز کېږي، چې د ژبې معناوې څرنګه په ځانګړیو مفهومي چوکاټونو (فرېمونو) کې تنظیم شوې دي. په فرېم سیمانتیکس کې درې شیان مهم دي: یو خپله فریم دی، چې په هغه کې مختلف عناصر او د هغوی ترمنځ اړیکې شاملې دي او پکې راغلې هره کلمه یا عبارت د یوه ځانګړي فرېم برخه ده. بل د فرېم عناصر دي، چې دا هغه اجزاوې دي چې یو فرېم یې لري. دا اجزاوې د موضوع، عمل، وسیلې، پایلې او نورو اړوندو مفاهیمو په توګه تعریفېږي. درېیم بیا فعلي تجربې دي، چې یو څوک یوه کلمه یا عبارت اوري یا وایي، دا په یو ځانګړي فرېم کې ځای پر ځای کوي چې مانا یې درک کړای شي .فرض کړئ موږ د "خپلواکي اخیستل"

(independence) کلمه لرو، د "خپلواکي اخيستل" فرېم ده، هغه څوک يا څه چې خپلواکي اخلي، دا يکې موضوع(Subject) ده، هغه لارې چارې يا وسيلې چې د خپلواکۍ د ترلاسه‌کولو لپاره کارول کېږي، وسيله (Means) يادېږي او د خپلواکۍ حالت پايله (Outcome) ده. مثلا: افغانستان په ۱۹۱۹ کې له برېټانيا څخه خپلواکي ترلاسه کړه. د دې جملې فرېم داسې دی: افغانستان موضوع ده، سياسي مبارزې، مذاکرات، او ممکنه نور فعاليتونه يې وسيله شول، او خپلواکي يې پايله شوه. څوک چې دا جمله لولي، دوی په ذهني توگه دا جمله په يوه فرېم کې ځای پر ځای کوي، چې افغانستان د يو هيواد په توگه د برېټانيا له استعمار څخه ځان خلاصول غواړي. دوی درک کوي چې د "خپلواکي اخيستل" کې يو لړ فعاليتونه شامل وي، لکه سياسی مبارزې، مذاکرات، او نور. پايله يې دا ده چې افغانستان خپلواکه کېږي.

فيلمور په فرېم سېمانټيکس (فيلمور ۱۹۸۲، ۱۱۶- ۱۱۷ مخ) کې د سوداگرۍ د معاملې کلمې په يوه فرېم کې تشريح کړې، دی وايي چې د سوداگرۍ د معاملې ټولې کلمې يو له بل سره اړيکه لري، لکه: پېرودل، پلورل، پيسې ورکول، پيسې مصرفول، چارجول، لگښت او ... د سوداگرۍ معامله څلور مهم گډونوال لري: يو پېرودونکی، يو پلورونکی، مالونه او پيسې؛ او د مالونو او پيسو تبادله، لکه په لاندې انځور کې يې چې تاسې وينئ.




په دې جمله کې "هريوا له هريرود څخه کتاب واخېست. دوه گډونوال او دوه ښکېل توکي دي. هريوا پېرودونکې ده او هريرود پلورونکی دی، په دې اساس دا سناريو داسې تشريح کوو:

گډونوال: پېرودونکی، پلورونکی

ښکېل توکي: مالونه، پيسې

(الف) سناريو

- **لومړنی حالت**
  - پېرودونکی: پیسې لري او مالونه غواړي.
  - پلورونکی: مالونه لري او پیسې غواړي.
- **تبادله**
  - پېرودونکی: پیسې پلورونکي ته ورکوي.
  - پلورونکی: مالونه پېرودونکي ته ورکوي.
- **وروستی حالت**
  - پلورونکی: پیسې لري.
  - پېرودونکی: مالونه لري.

**(ب) تعریفونه**

- **پېرودل** :(buy) په دې عملیه کې پېرودونکی پلورونکي ته پیسې ورکوي په دې توګه مالونه او پېرودونکی پروفایلېږي.
- **پلورل** :(sell) په دې عملیه کې پلورونکی مالونه پېرودونکي ته ورکوي، پیسې او پلورونکی د توجه مرکز ګرځي.
- **بیه** :(price) د پیسو هغه مقدار دی، چې مال پرې اخلي، په دې برخه کې پیسې او مالونه پروفایلېږي او دا نور عناصر اختیاري دي، که د توجه مرکز ورسره وګرځي او که نه.
- **لګښت** :(cost) د پیرودومکی له زاویې څخه هغه پیسې دي، چې مال پرې پېرل کېږي، په دې عملیه کې مالونه پروفایلېږي

اوس که موږ پورتنی سوداګریزه معامله تشریح کړو، موږ کولی شو چې پر پورتني هر عنصر د بېلابېلو افعالو په کارولو، لکه: (پېرل(buy) ، پلورل(sell) ، تادیه کول (pay) ، مصرفول (spend) ، محاسبه (charge) او لګښت" (cost) تمرکز وکړو. په دې سناریو کې هر فعل د یوې بېلې سوداګریزې معاملې فریم ټاکي. په دې توګه د یوه ځانګړي فعل په غوراوي سره زموږ توجه د فریم (چوکاټ) پر یوه عنصر باندې متمرکزه کېږي او نور عناصر کم‌ارزښته ښوول کېږي، چې دې ته په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبیر له پلوه د ځېرتیا بڼه هم ویل کېږي (رادین او دیرون، ۲۰۰۷، ۱۶۱ مخ).

**د Talmy او Langacker د ډلبندیو پرتله**

ټالمي Talmy او لنګکر Langacker سره له دې چې د تعبیر پر مختلفو اړخونو باندې تمرکز کوي؛ خو بیا هم د دوی دواړو د ډلبندیو ترمنځ یو لړ ورته‌والي هم شته: مثلاً:

ـ Schematization vs. Specificity: دواړه د پېښو او شیانو عمومي بڼې او تشخیص ته اشاره کوي، خو د Talmy د سکیما مفهوم د لنگکر د تشخص تر مفهوم یو څه پراخ دی.

ـ **لرلید** (Perspective): په دې کې دواړه ژبپوهان د ویناوال یا اورېدونکي لید او موقف ته اشاره کوي، په دې برخه کې دواړه متفق نظر لري، چې په لرلید کې معلومات له مختلفو لیدلورو څخه وړاندې کېږي.

ـ **Attention vs. Prominence**: دواړه د ځینو معلوماتو بارزوالی او پر هغو باندې د تمرکز څرنگوالی تشریح کوي، او څرنگوالی یې روښانه کوي چې څرنگه ځینې اړخونه د نورو په پرتله زیات د توجه وړ کېږي.

ـ **Force Dynamics** دا برخه په ځانگړي ډول د Talmy له خوا تشریح شوې ده او د Langackerپه ډلبندۍ کې نه لیدل کېږي. دا برخه د قواوو او اغېزو ترمنځ تعاملات ښيي او په پېښو کې د مختلفو قوتونو اغېزې او مقاومتونه روښانه کوي.

**۳) په ادراکي ژبپوهنه کې د تعبیر د عملیو وړاندې‌کوونکې بڼې**

**۱ .ځیرتیا (Windowing of Attention)**

ځیرتیا (Windowing of Attention)د تعبیر یو مهم ماډل دی ، په دې ماډل کې پر دې باندې ټینگار کېږي، چې ویناوال د یوې صحنې یا حالت کومې برخې ته ډېره پاملرنه کوي. دا ماډل پر دې باندې ټینگار کوي چې هغه څه چې ویناوال په پام کې نیولي دي، د خبرو په جریان کې مرکزي رول لوبوي او پاتې برخو ته تر همدې مرکزي برخې لږ پام اوړي.

په دې ماډل کې، ویناوال کولی شي پر یوه ځانگړې برخه د حالت یا صحنې په توگه تمرکز وکړي په داسې حال کې چې نورې برخې لږ مهمې وگڼي او کم ورته تمرکز ورته وکړي، مثلا:

**د یوې پېښې متمرکزول:** لکه"یو موټر په سړک چټک روان و " دلته ویناوال د موټر حرکت متمرکز کړی او په دې جمله کې موټر د صحنې مرکزي برخه جوړوي او د صحنې نورې برخې چې سړک او نور عناصر دي، هغه نامتمرکزې پاتې کېږي.

**د یوخ شخص ځانگړی عمل متمرکزول:** مثلا: "لیلا په باغ کې گلان اوبه کوي "دلته ویناوال د لیلا عمل متمرکز کړی او د صحنې نورو توکیو، چې باغ او گلان دي، یوازې د صحنې شالید جوړ کړی دی.

"په یوه بېلگه کې به یې روښانه کړو: د یوې غونډۍ پر سر ناست یئ او لاندې کلي ته گورئ. په کلي کې ډېر کورونه دي؛ خو تاسې په یوه کور کې سترگې ښخې کړې او د کلي

د منځ سیند، ځنګل، جومات او له کلي نه راوتلې لارې ته ځیر نه یئ. فلمونه چې وینو، تمرکز مو پر غړېدونکي کرکټر وي او شاوخوا صحنې ته ډېر نه متوجه کېږو. په فلمونو کې که تمرکز پر لوبغاړي وي، هغه روښانه او چاپېر یې تت وي. که تمرکز پر موقعیت وي، موقعیت روښانه او د لوبغاړي(ممثل) څېره تتېږي " (ښکلی، ۱۴۰۲، ۱۳٦ مخ).

**۲ .شکل او زمینه(Figure/Ground)**

په دې ماډل کې یو شی (شکل) د صحنې د مرکزي برخې په توګه څرګندېږي او پاتې عناصر (زمینه) د هغې شاوخوا د ملاتړ په توګه راځي.

د شکل او زمینې ترتیب په ژبه کې هم شته. مثلا لاندې حالت ته تاسې پام وکړئ: کله چې یوه مرغۍ راځي او پر منارې باندې کښېني، نو مرغۍ Figure(شکل) دی او د منارې سر د (زمینې) Ground په توګه ګڼل کېږي. Figureعموماً تر ground ډېر ښکارېږي، ډېر متحرک وي، ښه ټاکل شوی او د اندازې له مخې کوچنی وي؛ له دې کبله شکل زموږ ځانګړې توجه او علاقه ځان ته جلبوي"(Radden & Dirven, ۲۰۰۷).

خو "که چیرې دواړه اجزاء په اندازه او اهمیت کې مساوي وي، موږ کولی شو Figure او Groundبرعکس کړو. د Figure او Ground برعکس کول دا هم یوه مشهوره ادراکي پدیده ده " (Radden & Dirven, ۲۰۰۷). مثلاً په لاندې تصویر کې موږ دوې تورې څېرې وینو، خو کله چې ډېر ورته متوجه شو، بیا پکې یو ګلدان وینو، مګر موږ هیڅکله په یو وخت کې ګلدان او څیرې دواړه نه وینو. په ورته توګه، په ژبه کې هم، موږ کولی شو یا ووایو: ښوونځی له روغتون سره نیژدې دی، یا روغتون له ښوونځي سره نیژدې دی. دلته یا ښوونځی یا روغتون د Figure لپاره د Ground په توګه کار کوي، ځکه دواړه یو له بل سره مساوي، خو دواړه په یوځای نه شو ویلای.



**شکل/څیز:(Figure)** شکل هغه شی یا مفهوم دی چې د خبرو په جریان کې مرکزي او مهم رول لوبوي. دا معمولاً هغه برخه ده چې ویناوال پرې زیات تمرکز کوي او د اورېدونکو پام ځانته وراړوي او د صحنې اصلي تمرکز جوړوي.

**زمینه/چاپېر :(Ground)** زمینه بیا هغه عناصر دي چې د شکل شاوخوا دي او د هغه

ملاتړي یادېږي. زمینه د صحنې شالید جوړوي او د شکل لپاره یو چاپېریال رامنځته کوي. پر زمینه باندې معمولاً لږ تمرکز کېږي او د صحنې په شالید کې پاتې کېږي. "مثلا هسک ته گورو، سپوږمۍ راته د اسمان پر لمن ښکاري. زموږ د باصرې حس دلته سپوږمۍ د څیز او اسمان د چاپېر په بڼهویني. د چاپېر ځانگړنه دا ده، چې کلي، لوی او نامتحرک وي؛ خو څیز د چاپېر په پرتله جزي، ووړ او خوځند وي. د څیز او چاپېر په دې نندارہ کې لومړی څیز، بیا چاپېر وینو، خو ډېر تمرکز مو پر څیز وي." (ښکلی، ۱۴۰۲، ۱۳۵ مخ).

**د یوه شخص عمل روښانه کول:** "هریوا په باغ کې گلان اوبه کوي". دلته "هریوا" او د هغې عمل "گلان اوبه کول" د صحنې شکل جوړوي او "باغ" د زمینې په توگه پاتې کېږي.

**د یوه شي ځانگړتیاوې بیانول:** لکه: "موټر په پارک کې ولاړ دی". دلته "موټر" د صحنې شکل دی، او "پارک" د زمینې په توگه د شکل په خدمت کې پاتې دی.

**۳ .پروفایلېنگ(Profiling)**

"په ادراکي ژبپوهنه کې پروفایل د یوه څیز هغې برخې ته وایي، چې پر یوه بنسټ (base) پروت وي، لکه په سترگه کې کسی. که څوک رانه د "کسي" په اړه پوښتنه وکړي، د سترگې د مفهوم په مټ ځواب ورکوو. د خورشید(۱۳۹۸) په اند، پروفایل د یوه ژبني عبارت مفهومي مصداق دی او بنسټ یې اړیکه ده. کله چې پر کورنیو اړیکو غږېږو، پلار هغه څوک دی، چې زوی لري؛ نو بنسټ په دې عبارت کې اړیکه ده او د یوه غونډ مانا نه په بنسټ او نه په پروفایل کې وي، بلکې د دواړو په ترکیب کې پرته وي." (ښکلی، ۱۴۰۲، ۱۳۷ مخ).

یا پروفایلېنگ یوې ځانگړې مفکورې یا واحد ته د توجه په مانا دی. په پروفایلېنگ کې یو ویناوال په یوه مفکوره یا شي باندې ځانگړی تمرکز کوي، په داسې حال کې چې د هغې شاوخوا نورې اړوندې برخې هم په پام کې نیسي. معلومات یا عناصر چې د پروفایلشوي واحد ملاتړ کوي او د هغې معنا پوره‌کوي، دې ته بیا بنسټ(Base) وایي. له بنسټ پرته، پروفایل شوی واحد ممکن پوره مفهوم ونه‌لري.

**د بدن برخې پروفایلول** :لکه: "څنگل (elbow) " دلته "څنگل" پروفایل شوی واحد دی. د "څنگل" په مفهوم کې د هغې ملاتړې سیمې، یعنې لاس، هم په پام کې نیول کېږي، دلته لاس څنگل ته د بنسټ په توگه کار کوي.

**د کور برخې پروفایلول:** لکه: "دروازه(door) " دلته "دروازه" پروفایل شوی واحد دی. د "دروازې" له مفهوم سره یې مکاني سیمې، چې کور دی، هم په پام کې نیول کېږي او دروازې ته کور د بنسټ په توگه کار کوي.

**د وخت مفهوم پروفایلول:** مثال: "سهار(morning) " دلته "سهار" پروفایل شوی واحد دی. د "سهار" له مفهوم سره، د هغې ملاتړ وخت، یعنې ورځ، هم په پام کې نیول کېږي، چې د سهار وخت ته د بنسټ په توګه راغلی.

**۴ .د لید چوکاټ(Viewing Frame)**

د لید چوکاټ کې د یوې صحنې یا حالت یوه برخه، چې د ویناوال او اورېدونکي له خوا لیدل کېږي، تعبیرېږي.

"د لید لوري چوکاټ د هغې ساحې د موضوع ځای دی چې یوه څرګنده شوې مفکوره پکې موجوده وي. د لید چوکاټ د یوې صحنې یا حالت هغه برخه راپه ګوته کوي چې ویناوال او اورېدونکي په خپلو خبرو اترو کې لیدلي او درک کړي." (لنګکر، ۲۰۰۷، ۴۲۵ مخ).

**د طبیعت یوه صحنه:** مثلاً "په لرې غرونو کې د لمر لوېدو منظره" دلته ویناوال د یوې صحنې پر یوه برخه، یعنې پر "غرونو او لمر لوېدو" باندې تمرکز کوي، او د منظرې پر نورو اړوندو عناصرو لکه اسمان، ونو، او نورو شاوخوا عناصرو باندې ویناوال لږ تمرکز لري او د ویناوال ورته لږه پاملرنه ده.

**د لوبې صحنه:** لکه: "راشد شپږیزه ووهله" دلته ویناوال د کرېکټ لوبې پر یوه ځانګړې برخه، چې "شپږیزه وهل" دي، تمرکز کوي، او د کرېکېټ او لوبغاړو نورو برخو، لکه د لوبغاړو حرکتونو او د لوبې عمومي جریان، ته لږ پام ور اوړي.

**د کورنۍ یوه صحنه:** مثلاً "د کورنۍ غړي په ګډه ډوډۍ خوري" دلته ویناوال د کورنۍ پر یوې ځانګړې صحنې، یعنې "د ډوډۍ خوړل" باندې تمرکز کوي، په داسې حال کې چې نور اړوند فعالیتونه لکه خبرې کول یا ټوکې کول، یا مشورې کول لږه پاملرنه ترلاسه کوي.

**۵ .د لید زاویه(Viewpoint)**

د لید په زاویه کې د یوې صحنې یا حالت بیان د ویناوال د لید له زاویې څخه بیانېږي. د لید زاویه پر دې باندې ټینګار کوي، چې ویناوال څرنګه یو حالت یا صحنه په خپلو ځانګړو شرایطو کې ویني او بیانوي. د لید زاویه عموماً د ویناوال له فیزیکي، احساساتي او ادراکي موقعیت څخه اغېزمنه کېږي:

**فیزیکي لید زاویه:** لکه: "له غره څخه د ښار لیدل" دلته ویناوال د غره له لوړې څوکې څخه د ښار لیدل بیانوي. له دې زاویې څخه ښار کوچنی او لرې ښکاري.

**احساساتي لید زاویه :**مثلاً "په خوشحالۍ د ماشوم زېږون لمانځل"دلته ویناوال د خوشحالۍ احساس څرګندوي.

**ادراکي ليد زاويه :** لکه: "د يوې علمي مسألې څېړل" دلته ويناوال د يوې علمي مسألې په اړه خپله پوهه او درک څرګندوي. دلته د ليد زاويه د ويناوال د علمي تجربې او پوهې له مخې رامنځته شوې ده.

**٦ .عينيتوب او انتزاعيتوب (Objectivity and Subjectivity)**

**الف: عينيتوب(Objectivity) :** په عينيتوب کې ويناوال له يوې صحنې يا حالت څخه بېل وي او هڅه کوي چې په بې‌پرې توګه له خپلو احساساتي او شخصي تجربو پرته معلومات وړاندې کړي. په عينيتوب کې ويناوال د يوې صحنې له يوې غيرشخصي او بې‌پرې زاويې څخه ليدنه کوي، مثلا: "تجربه ښيي چې د اوبو د تودوخې لوړول د کيمياوي غبرګون سرعت زياتوي". دلته ويناوال د تجربې پايله بې له شخصي نظره وړاندې کوي. يا "په ښار کې د ترافيکو حادثې له امله درې کسان مړه او پينځه نور ټپيان شوي دي". دلته خبريال له شخصي نظر پرته، يوازې د پېښې حقايق وړاندې کوي او بس.

**ب: انتزاعيتوب(Subjectivity) :** په انتزاعيتوب کې ويناوال د يوې صحنې يا حالت برخه وي او هڅه کوي چې خپل احساسات، نظرونه او شخصي تجربې هم په معلوماتو کې شاملې کړي. په انتزاعيتوب کې ويناوال له خپلې شخصي زاويې څخه د يوې صحنې د ليدنه کوي، مثلاً "ما د دې کتاب له لوستلو څخه ډېر خوند واخيست، ځکه چې کيسه يې ډېره جذابه وه." دلته ويناوال له پورتنيو معلوماتو سره خپل شخصي نظر او احساس هم څرګند کړ. يا "په دې ښار کې مې د سفر پر مهال ډېرې تلپاتې تجربې ترلاسه کړې". دلته يوه خبريال يا ګرځندوی له معلوماتو سره خپلې شخصي تجربې او احساسات هم شريک کړل.

**د عينيتوب او انتزاعيتوب کارونې**

**۱. علمي څېړنه**

- عينيتوب د علمي څېړنو او راپورونو لپاره اړين دی. څېړونکي هڅه کوي چې خپلې پايلې په بې‌پرې توګه او له شخصي نظرياتو پرته وړاندې کړي.

**۲. ادبيات**

- انتزاعيتوب د ادبياتو او کيسو لپاره اړين دی. ليکوالان خپل احساسات او تجربې د خپلو کرکټرونو په مټ وړاندې کوي چې لوستونکي په کيسه کې برخه واخلي.

**۳. ژورناليزم**

- خبريالان کولی شي په خپل راپور کې د عينيتوب او انتزاعيتوب ترمنځ تعادل وساتي. د پېښې حقايق په عيني توګه وړاندې کوي، خو د شاهدانو نظرونه او احساسات په انتزاعي

توگه شاملوي.

**۷ .عموميتوب او ځانګړيتوب**(Generality and Specificity)

**عموميتوب**(Generality) : په عموميتوب کې ويناوال د يوې صحنې يا حالت په اړه عمومي معلومات ورکوي او دا معلومات لږ تفصيل لري، يا د يوه حالت عمومي ځانګړتياوې بيانيږي. په عموميتوب کې ويناوال د موضوع پر پراخه ليد باندې تمرکز کوي، مثلاً "په ښار کې ډېرى خلک له عامه ترانسپورت څخه گټه اخلي." دلته، ويناوال د ښار د ترانسپورت عمومي وضعيت بيانوي. دا پکې نه مشخصيږي، چې د ترانسپورت له کوم ډول او په کوم اورگان پورې مربوط ترانسپورت څخه گټه اخيستل کيږي. يا "په ښوونځي کې زده‌کونکي مختلف مضامين لولي." دلته، ويناوال د ښوونځي د عمومي تعليمي پروګرام يادونه کوي، دا نه مشخصوي، چې په ښوونځي کې کوم مضامين لوستل کيږي.

**ځانګړيتوب** (Specificity) : په ځانګړيتوب کې ويناوال د يوې صحنې يا حالت په اړه دقيق او تفصيلي معلومات ورکوي. دا معلومات له زياتو جزياتو سره وړاندې کيږي او د حالت ځانګړې ځانګړتياوې هم پکې راځي او په ځانګړيتوب کې د موضوع پر ځانګړي ليد باندې تمرکز کيږي، مثلاً "په ښار کې د سهار په اوو بجو ډېر خلک له هريوا بس څخه کار اخلي، چې په وخت خپلو کارځايونو ته ورسيږي." تاسو گورئ، چې دلته، ويناوال دقيق معلومات وړاندې کړي. يا په ښوونځي کې، زده‌کونکي د نهم ټولگي په رياضي کې د الجبر او هندسې درسونه لولي. دلته، ويناوال د تعليمي پروګرام په اړه دقيق معلومات وړاندې کوي.

ويلای شو، چې عموميتوب د ورځنيو خبرو اترو او معرفۍ لپاره مناسب دی. مثلاً تاسو چا ته ځان معرفي کوئ، نو ورته واياست، چې "زه په يوه لوی شرکت کې کار کوم"؛ خو ځانګړي توب بيا د ځانګړو خبرو او څېړنو لپاره مناسب بريښي. مثلاً "زه د مالي برخې مدير يم".

**۸ .ذهن سکنول** (Mental Scanning)

ذهن سکنول د وخت په مختلفو مرحلو کې د يوه حالت په اړه د ذهن په واسطه د صحنې تعقيبول دي. په بله وينا، د يوې صحنې يا حالت مختلف پړاوونه په ذهن کې کتل دي. دا ماډل دوه ډولونه لري: پرله‌پسې سکن Scanning (Sequential ) او لنډيز سکن (Summary Scanning).

**پرله‌پسې سکن**(Sequential Scanning): په پرله‌پسې سکنولو کې ويناوال يا اورېدونکی د صحنې يا حالت مختلف مرحلې په پړاو په پړاو سره بيانوي. دا ډول سکن د

صحنې د وخت یا ځای له مخې هر پړاو په خپل ترتیب سره بیانوي، مثلاً "د موټر جوړونه په سهارکې پیل شوه، د غرمنۍ پر مهال یې کار منځ ته ورسېد او په ماښام کې پای ته ورسېد" دلته ویناوال د موټر د جوړونې پړاوونه د وخت په اساس پړاو په پړاو بیانوي. یا"د امو سیند د هندوکش له غرونو څخه پیلېږي، له کندوز او تخار څخه تېرېږي او اوزبېکستان ته رسېږي "دلته، ویناوال د سیند مکاني مسیر پړاو په پړاو په بیانوي.

**لنډیز سکنول (Summary Scanning)** : په لنډیز سکنولو کې ویناوال یا اورېدونکی د صحنې یا حالت مختلف پړاوونه په یو وخت کې او په یوه کتنه کې بیانوي. دا ډول سکن د صحنې عمومي بڼه یا مفهوم په لنډه توګه بیانوي، په دې سکن کې وخت او ځای په پام کې نه نېول کېږي، بلکې پړاوونه په پام کې نیول کېږي، لکه: "دا پروژه د پلان جوړونې، تطبیق او ارزونې مرحلې لري." دلته، ویناوال د پروژې پړاوونه په لنډه توګه او په یو وار بیانوي. یا د افغانستان د اقتصاد درې مهمې برخې کرنه، صنعت او خدمات دي. " دلته، ویناوال د افغانستان د اقتصاد مختلفې برخې په یو وخت کې او په لنډه توګه تشریح کوي.

**۹ .خیالي حرکت (Fictive Motion)**

"خیالي حرکت هغه ادراکي پروسه ده چې پکې یو ثابت حالت د خوځند حرکت په توګه تعبیر شي." (تالمي، ۲۰۰۰، ۱۳۸ مخ). خیالي حرکت پر دې باندې ټینګار کوي چې ویناوال څرنګه یو ثابت (ناخوځند) شی د حرکت په توګه تصور کوي، او په دې توګه د ژبې له لارې یو ثابت حالت یا صحنه د خوځند حرکت په بڼه وړاندې کوي"، مثلاً دا لاره غرونو ته پورته کېږي یا دا لاره غرونو ته ختلې ده" دلته، لاره چې یو ثابت شی دی، د خوځنده شي په توګه ښوول شوې ده، لکه یو شی چې غرونو ته خېژي یا پورته کېږي، دلته هم لارې حرکت کړی دی او غرونو ته خېژي. یا "هریرود سیند په غور کې تېرېږي. " دلته چې هریرود یو سیند دی او ثابت شی دی، د خوځند شي په سترګه ورته کتل کېږي چې له غور څخه د تېرېدو په حال کې دی.

**د خیالي حرکت ډولونه**

خیالي حرکت په څو ډولونو وېشل شوی، چې هر یو یې د ثابت حالت مختلف اړخونه د حرکت په توګه وړاندې کوي:

۱. **د همغږي حرکت لاره(Coextension Paths)** : دا حرکت د ثابت شي ځای، لوري یا موقعیت د حرکت په توګه بیانوي، لکه : "دا دېوال د باغ په اوږدو کې راځي."

۲. **د خپرېدو لاره(Emanation Paths)** : په دې ډول حرکت کې له یوه ثابت شي څخه یوه خیالي کرښه راوځي او بل شي ته رسېږي، لکه: "د دې برج له سر څخه یوه کرښه

تر آسمان پورې رسېږي".

۳. **د حسي حرکت لاره**(**Sensory Paths**) : دا ډول خیالي حرکت د حواسو د تجربې په توګه وړاندې کېږي، لکه"زما نظر د دې منظرې په اوږدو کې سرګردانه شو".

**پایله**

تعبیر د ادراکي وړتیا، پیوستون غوندې یو ادراکي بهیر دی، چې یو ډول وضعیت پکې په ځو بڼو مفهومسازي کېږي یا هم تعبیر (Construal) په بېلابېلو طریقو د یوه وضعیت تصور او تشریح ته وایي. په دې مقاله کې د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د تعبیر دوه مشهور ماډلونه او نهه بڼې وڅېړل شوې، دا ماډلونه او نهه بڼې تر اوسه په ادراکي ژبپوهنه کې ډېرې مشهورې عملیې او ماډولونه دي. له دې نهو بڼو څخه درې بڼې چې ځېرتیا، شکل او زمینه، او پروفایلینګ دي. په ځېرتیا کې د یوه وضعیت پر ټاکل شوې اړخونو باندې تمرکز کېږي او باقی اړخونه یې لېږه توجه جلبوي. په شکل او زمینه کې خوځند، کوچنی او فوکس د شکل/څیز حیثیت اخلي او کلي، لوی، ناخوځند د زمینې/چاپېر په توګه راځي او پروفایل د یوه څیز هغې برخې ته وایي، چې پر یوه بنسټ(base) پروت وي، لکه په سترګه کې کسی. که څوک رانه د "کسي" په اړه پوښتنه وکړي، د سترګې د مفهوم په مټ ځواب ورکوو.

پاتې شپږ بڼې د لیدلو په عملیه پورې تړاو لري: د لیدلو چوکاټ هغه وضعیت ته اشاره وي، چې ویناوال یې تصور کوي یا درک کوي، لکه د کورنۍ غړي په ګډه ډوډۍ خوري، دلته د ډوډۍ خوراک د ویناوال د لید نه بیانېږي، هلته چې د ډوډۍ خوړلو په جریان کې نورې پېښې، لکه ټوکې، مشورې، خبرې اترې دي، له هغوی نه تېرېږي. په لیدلوري کې د ویناوال د لرلید زاویه ښوول کېږي، لکه دلته راشه. په دې جمله کې "دلته" هغه لوری ټاکل شوی چې ویناوال پکې دی. په عینیت کې پېښه هماغسې تصویرېږي، څرنګه چې وي، د ویناوال احساسات پکې نه راوړل کېږي؛ خو په انتزاعیت کې بیا ویناوال تجربې او احساسات هم ورسره مله وي. د عمومیت او ځانګړیتوب ترمنځ وېش د یوه وضعیت تشریح په عمومي او جزي توګه ده، که تفصیل ونه‌لري، عمومیت دی او که جزیاتو ته ولاړ شي، بیا ځانګړیتوب ګڼل کېږي؛ په ذهني سکن کې د وخت په مختلفو پړاوونو کې د یو حالت په اړه د ذهن په واسطه د صحنې تعقیبول دي، لکه سهار کار ته ځم، غرمه پکې تفریح کوم او ماښام ترې کور ته راځم. دلته د وخت د تسلسل په نظر کې نیولو سره د یوه کار تعقیب دي، او په خیالي حرکت کې بیا یوه ناخوځند شي ته د خوځند صفت ورکړل شي او متحرک شي.

دا ټول د تعبیر بېلابېلې بڼې دي او له دې څخه د تعبیر د عملیو تنوع ښکاري. موږ د همدې تعبیر د عملیو په مرسته کولی شو، چې یو حالت په مختلفو بدیلو لارو باندې تصور او بیان کړو " تعبیر د ویناوال(یا اورېدونکي) او د وضعیت ترمنځ له اړیکې پیدا کوي. وضعیت د ویناوال او اورېدونکي ترمنځ واقع دی. ویناوال یو وضعیت یو ډول مفهومسازي کوي او مخاطب هڅوي چې صحنې ته د ده له زاویې وګوري. پر دې بنسټ ویناوال ته لومړی مفهموساز او مخاطب ته دویم مفهومساز وایي، مثلاً ویناوال یوه پېښه یا یوه صحنه مفهومسازي کوي او په وینا کې یې مخاطب ته رسوي. د مخاطب او ویناوال ترمنځ ګډه ژبنۍ پوهه او د وینا او موقعیت اوبد له مخاطب سره د مانا په اخیستلو کې مرسته کوي.

**اخځلیکونه**


خورشید، بهرامي سحر. (۱۳۹۸). *دستورشناختی (مبانی نظری و کار بست ان در زبان فارسي)*. تهران: سمت.

ښکلی، اجمل. (۱۴۰۲)، *ادراکي ژبپوهنه*. (د پوهاندۍ علمي رتبې تېزس). کابل پوهنتون، پښتو څانګه.

Croft, W., & Cruse, D. A. (۲۰۰٤). *Cognitive Linguistics*. Cambridge University Press.

Evans, V. (۲۰۰۷). A Glossary of Cognitive Linguistics. Edinburgh University Press.

Fillmore, C. J. (۱۹۸۲). Frame semantics. In The Linguistic Society of Korea (Ed.), *Linguistics in the morning calm* (pp. ۱۱۱-۱۳۷). Hanshin Publishing Co.

Langacker, R. W. (۱۹۸۷). *Foundations of cognitive grammar*: *Theoretical prerequisites* (Vol ۱). Stanford University Press

Langacker, R. W. (۱۹۹۱). *Concept, image, and symbol: The cognitive basis of grammar*. De Gruyter Mouton.

Langacker, R. W. (۲۰۰۷). Cognitive Grammar. In D. Geeraerts, & H. Cuyckens (Eds.), *The Oxford handbook of cognitive linguistics* (pp. ٤۲۱-٤٦۲). Oxford University Press.

Langacker, R. W. (۲۰۱۳). *Foundations of Cognitive Grammar: Theoretical Prerequisites*. Stanford University Press.

Radden, G., & Dirven, R. (۲۰۰۷). *Cognitive English grammar*. John Benjamins.

Talmy, L. (۲۰۰۰). *Toward a cognitive semantics* (Vol. ۱). MIT Press.

## په ژبپوهنه کې د رياضيکي ميتودونو کارول

احسان الله پامير [۱]

**لنډيز**

دا مقاله د ژبپوهنې په ډگر کې د رياضيکي ميتودونو د ادغام سپړنه کوي، رياضيکي ميتودونه په ژبپوهنه کې د پام وړ رول لوبوي. د ژبې د مختلفو اړخونو په تحليل او پوهيدو کې مرسته کوي. د کمپيوټري ژبپوهنې په راتگ او د ژبپوهنې ډېټا د مخ په زياتيدونکي پيچلتيا سره، رياضيکي تخنيکونه د ژبپوهانو لپاره د ژبپوهنې د نمونې، تحليل او تشريح کولو لپاره اړين وسايل گرځيدلي. په لنډه توگه په ژبپوهنه کې د رياضيکي ميتودونو تاريخي پراختيا او تکامل د يوې عمومي کتنې په وړاندې کولو سره پيل کوو، بيا د ژبې جوړښتونو او نمونو د په وړاندې کولو لومړنيو هڅو ته راگرځو. چې دا بيا په ژبپوهنه کې د رياضيکي تخنيکونو متنوع سلسلو په اړه بحث کوي، د ترتيب تيوري، د احتمال تيوري، د گراف تيوري، ميټريکونه، کمپيوټري ماډلونه، او الگوريتمونه په بر کې را نغاړي. سربيره پردې، په ژبنی څېړنه کې د رياضيکي ميتودونو عملي غوښتنليکونه لټوي، لکه د طبيعي ژبې پروسس، ماشيني ژباړه، فونولوژي، نحو، سيمانټيک، او ټولنپوهنه. دا روښانه کوي چې څنگه رياضيکي ماډلونه د ژبپوهانو سره مرسته کوي چې پټې نمونې په گوته کړي، د ژبني معلوماتو څخه معنی لرونکي بصيرت راوباسي، او د ژبې د چلند په اړه وړاندوينې وکړي. د رياضياتو او ژبپوهنې ترمنځ د اړيکو بين الډيسپلين ماهيت هم په گوته کوي، د رياضي پوهانو، کمپيوټر ساينس پوهانو، او ژبپوهانو ترمنځ د ژبې جوړښت او پروسس کولو په اړه زموږ د پوهاوي په وده کې د همغږۍ او همکارۍ ټينگار کوي. په لنډ ډول په عصري ژبنيو تحقيقاتو کې د رياضيکی ميتودونو مهم رول په گوته کوي، د تيوريکي چوکاټونو، تجربوي تحليلونو، او کمپيوټري وسيلو په پراختيا کې د دوی ونډه په گوته کوي چې د ژبې تنوع، تکامل، او پېژندنه کې زموږ درک بډايه کوي.

---

[۱] - د پکتيا پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې پوهندوی استاد

برېښناليک: ehsanpamir@gmail.com

شمېره: ۰۰۴۴+۹۳ ۷۸۸۸۴

دا را ښيي چې د رياضيکي تخنيکونو ادغام د انډول ډيسپلينري څېړنې لپاره نوې لارې پرانيزي او د پيچلو ژبنيو پوښتنو ته د رسيدو لپاره نوښتي تګلارې رامنځته کوي.

**آر وييونه**: رياضي، احتمالات، ګراف، ميتريک، ژبې، موډل، محاسبات.

**سريزه**

په شلمه پيړۍ کې، د پوهې په بېلابېلو برخو کې د متقابل عمل او نفوذ په لوري دوامداره تمايلات رامنځ ته شوي دي. د ذهني فعاليت ډېرې ځانګې شتون لري چې د بشري، تخنيکي او طبيعي علومو پوهې سره تړي.

د مدرنې نړۍ يوه ځانګړنه د جوړښتونو او د هغوی د عناصرو د مطالعې سره ليوالتيا ده. له همدې امله، په ساينسي تيوري او عمل کې، رياضياتو ته په زياته اندازه ځای ورکول شوی دی. رياضي له يوې خوا له منطق او فلسفې سره او له بلې خوا د احصايې (او په دې توګه د ټولنيزو علومو) سره اړه لري او هغو برخو ته زر پاملرنه کوي چې د اوږدې مودې لپاره يوازې ګڼل کيدې. په دې اړه څېړنې خومره، څه او څنګه پوښتنو ته ځوابونه وايي. ژبپوهنه هم د دې قاعدې څخه استثنا نه ده، د ۱۹۵۰ م کال راهيسې، رياضيات په ژبپوهنه کې کارول شوي، چې د ژبو د جوړښت د تشريح کولو لپاره يې نظرياتي وسيلې رامينځته کړې دي. په لومړي سر کې، په ژبپوهنه کې د رياضياتو ميتودونه د ژبپوهنې د بنسټيزو مفکورو د روښانه کولو لپاره کارول شوي دي، مګر د کمپيوټر او ټيکنالوژۍ په پراختيا سره، دا ډول نظري انګيرنه په عملي توګه کارول شوې ده. د "رياضي ژبپوهنې" اصطلاح، چې زموږ په وخت کې مشهوره ده، هر هغه ژبنۍ څېړنې ته اشاره کوي چې دقيق ميتودونه کاروي او په ساينس کې د دقيق ميتودونو مفهوم تل د رياضياتو سره تړاو لري. ځکه چې دا د ځانګړي ژبپوهنې معنی نه لري، مګر يوازې د ژبې د څېړنې ميتودونو د ښه والي، دقت او اعتبار په زياتولو تمرکز کوي. ژبپوهنه دوه کميتي (الجبريک) او غير مقداري ميتودونه کاروي چې دا د رياضياتو منطق له فلسفې او حتی ارواپوهنې ته نيږدې کوي. حتی شلګيل د ژبې او شعور تعامل ته اشاره وکړه، او د شلمې پيړۍ په لومړيو کې نامتو ژبپوه، فرډيننډ دی سوسور ژبې جوړښت په الجبري ميتودونو پورې تړلی دی. عصري څېړونکی L. Perlovsky د خلکو څخه بهر د ژبې کميتي ځانګړتياوې (د بيلګې په توګه، د جنډرونو شمير، قضيې) د ملي ذهنيت ځانګړتياوو سره را پيژني.

**تاريخچه**

د دې نظريې رياضيکي توضيحات د ميکانيزم په توګه د ژبې د مفکورې پر بنسټ ولاړ دي، چې د شلمې پيړۍ په پيل کې د سويس نامتو ژبپوه، فرډيننډ دي سوسور يې بنسټګر

بلل کيږي(Chomsky, ۱۹۵۷) .
د هغه د مفکورې لومړنۍ اړيکه د يوه سيستم په توګه د ژبې تيوري ده، چې درې برخې لري (ژبه، بيان او د بيان عمل)، چې هره کليمه په خپله (د سيستم غړی) نه ګڼل کيږي. مګر د نورو سره په اړيکه کې رامنځ ته کيږي ...
وروسته له دې چې Baudouin de Courtenay په لومړي ځل په ۱۹۰٤ کې خپل نظر په ژبپوهنه کې د رياضيکي ميتودونو د پلي کولو د اړتيا په اړه څرګند کړ، Kondrashov N.A.، په ۱۹۷۹م کال کې، د ددې نظريې په کارولو سره د جدي هڅې پيل کړې. وروسته په تدريج سره، د رياضياتو ميتودونه په ژبپوهنه کې په خورا متنوع ډول رامنځ ته شول. حتی د ژبپوهنې يوه بشپړه څانګه و بلل شوه. د رياضياتو ژبپوهنه (ليسوخين ايم ايم، ۱۹۸۲). په فونولوژي او نحوه کې وکاروله. چامسکي، ياکوبسن او نور هم هغه کسان دی چې په دې اړه يې څېړنې کړې دي.(Chomsky, ۱۹۵۷)
په رياضياتو کې کميتي ميتودونه په معاصر وخت کې راڅرګند شول، او يوازې په ۱۹ پيړۍ کې، رياضي پوهانو بيا د غير کميتي لنډو ماډلونو په جوړولو پيل وکړ چې د پخوانيو ماډلونو څخه يې په لوړه کچه توپير درلود، څکه دوی د ځايي بڼو په پرتله د پراخه پيښو بيانولو لپاره ماډولونه وکارول. ډيری وختونه دا ډول ماډلونه د پيښې مطالعې لپاره اسانه او حتی اړينې وسيلې بلل کېدې، د دې ماډلونو په منځ کې، داسې ماډلونه وو چې وروسته په ژبپوهنه کې کارول شوي. په ځانګړې توګه، د رياضييکي څانګو ژوره پراختيا، چې محتوا يې د دوی جوړښت و، د شلمې پيړۍ په لومړۍ نيمايي کې واقع شوي. له همدې امله، د دې پيړۍ په منځ کې د رياضياتو او ژبپوهنې اړيکې خورا طبيعي دي. (Kager, ۱۹۹۹)

**په ژبپوهنه کې ځينې کارېدونکي رياضيکي ميتودونه**

**لومړی د سيټونو تيوري**

په رياضي کې يو له بنسټيزو اصولو څخه ده چې د سيټونو او د دوی د اجزاوو ترمنځ اړيکې ښيي او تعريفوي. په ژبپوهنه کې، د ژبې جوړښتونو او د ژبې نمونو تشريح او تحليل لپاره دا تيوري کارول خورا مهم دي. دا طريقه په پراخه توګه په ژبپوهنه کې کارول کيږي:

۱.د الفبا او لغتونو تفصيل: د سيټونو تيوري د ژبې د الفبا او لغتونو د تعريف او تشريح لپاره کارول کيږي. هره ژبه د حروفو (د الفبا عناصرو) يا کلمو (د لغتونو عناصر) د مجموعې په توګه ګڼل کيداى شي.

۲. ګرامري ماډلونه: په ژبپوهنه کې، د سيټونو تيوري د ګرامري ماډلونو په بڼه کارول کيږي.

په دې توگه، د ژبې قواعد او گرامري نمونې د ژبې د عناصرو د ترکیب لپاره د قواعدو او محدودیتونو مجموعه گڼل کیږي.

۳. د جملو د جوړښت تحلیل: د سیټونو د تیورۍ په کارولو سره، د ژبنیو جملو جوړښت د ژبنیو عناصرو (د بیلگې په توگه، کلمې او جملې) او د دوی ترمنځ د اړیکو په توگه بیان شوي. دا د ژبپوهانو سره مرسته کوي چې د ژبې جوړښتي قواعد په ډیر دقیق او منظم ډول ماډل کړي.(Manning, ۱۹۹۹)

٤. Semantic analysis: د سیټونو تیوري د جملو او جملو په سیمانټیک تحلیل کې کارول کیدای شي. د مفاهیمو سیټونو او د دوی تر مینځ د اړیکو په ټاکلو سره، دا ممکنه ده چې په یوه ژبه کې مختلفې ماناوې بیان کړي.

په عموم کې، د سیټونو تیوري له ژبپوهانو سره مرسته کوي چې ژبني جوړښتونه په دقیقه توگه او په ریاضي ډول ماډل کړي او د ژبپوهنې نمونو ته وده ورکړي.(Partee, ۱۹۹۰)

**احتمالي ماډلونه**

په ژبپوهنه کې د ریاضیکي میتودونو یو له مهمو وسیلو څخه دي چې د احتمالي مفکورې په کارولو سره د ژبنیو پیښو تشریح او وړاندوینې لپاره کارول کیږي. دا ماډلونه معمولاً د مختلفو ژبنیو عناصرو د احتمالي ویش پر بنسټ وي، لکه کلیمې یا جملې، او د ژبپوهنې څیړونکو سره مرسته کوي چې د تعدد نمونې او ژبنی ځانگړتیاوې په کمیت او کیفیت سره تحلیل کړي. لاندې په ژبپوهنه کې د احتمالي ماډلونو ځینې اصلي غوښتنلیکونه دي: (Manning, ۱۹۹۹)

۱. لیکني موډلونه: احتمالي موډلونه په ژبني متنونو کې د کلمو د تعدد او ویش تشریح کولو لپاره کارول کیږي. دا ماډلونه کولی شي د شیانو تحلیل کې مرسته وکړي لکه د لغت وړتیاوې، د کلمو کثافت، او د لغتونو فریکوینسي.

۲. د جملې موډل: احتمالي موډلونه په جملو کې د جملو د جوړښت او د کلمو د ترتیب د تشریح او تحلیل لپاره کارول کیږي. دا ماډل کولی شي د مسلو معاینه کولو کې مرسته وکړي لکه د کلمې ترتیب، د جملې جوړښت، او د جملې د نمونو فریکونسي.

۳. Semantic ماډل: احتمالي ماډلونه د جملو او کلمو د معنی د تحلیل لپاره کارول کیږي. دا ماډل کولی شي د مسلو تحلیل کولو کې مرسته وکړي لکه د کلمو ډیرې ماناوې، د کلمو تر مینځ سیمانټیک اړیکې، او د جملو تفسیر.(Kaplan, ۱۹۸۲)

٤. گرامري ماډلونه: احتمالي ماډلونه د ژبو گرامري جوړښتونو تشریح او ماډل کولو لپاره کارول کیږي. دا ماډلونه کولی شي د مسلو په تحلیل کې مرسته وکړي لکه د جملې

جوړښتونه، څنګه کلمې يوځای کيږي، او ګراماتيک جوړښتونه.

په عموم کې، احتمالي ماډلونه د ژبپوهنې څېړونکو سره مرسته کوي چې د ژبني فريکونسۍ او ويش د نمونو په اړه دقيقه پوهه ترلاسه کړي او په کميتي او کيفيتي ډول مختلف قضيې تحليل کړي.(Kaplan, ۱۹۸۲ )

**په ژبپوهنه کې د رياضياتو په ميتود کې د عدد تيوري**

د ژبپوهنې د ستونزو او ژبني جوړښتونو په تحليل او توضيح کې د شمير تيورۍ مفکورې او اصولو کارولو ته اشاره کوي. دا طريقه عموما په ساحو کې کارول کيږي لکه د کلمو فريکونسۍ، په ژبه کې احتمالي ويش، او د ګرامري جوړښتونو تحليل.(Manning, ۱۹۹۹)

لاندې په ژبپوهنه کې د شمير تيوري ځينې غوښتنليکونه دي:

۱. د کلمو فريکونسي: د عدد تيوري کولی شي د ژبې په متنونو کې د کلمو فريکونسۍ تحليل کولو کې مرسته وکړي. د دې ميتود په کارولو سره، نمونې او د کلمو فريکونسي توزيع تحليل او ماډل کيدای شي. چې د کليمو فريکونسي بيا کولای شي فرهنګي، ژبني او نور تحليلونه ولري.

۲. احتمالي توزيع: د شمير تيوري په ژبپوهنه کې د احتمالي مختلفو ويشونو تشريح کولو کې مرسته کوي. په دې کې د کلمو، جملو، او نورو ژبني جوړښتونو احتمالي ويش شامل دي.

۳. د ګرامري جوړښتونو شننه: د عددي تيوري په کارولو سره د ژبې ګرامري جوړښتونه په دقيق ډول تحليل کيدای شي. دا طريقه د کلمو د يوځای کيدو او د جملو جوړښت په معاينه کولو کې مرسته کوي.(Kaplan, ۱۹۸۲)

٤. د ژبنيو ستونزو موډل کول: د عدد تيوري د ژبپوهنې له څېړونکو سره مرسته کوي چې د مختلفو ژبنيو ستونزو لکه د ژباړې ستونزې، سيمانتيک تحليل، او ګراماتيک تحليلونه په سمه توګه ماډل او تحليل کړي.

**په ژبپوهنه کې د ميټريکس رياضي**

د ژبنيو ستونزو او ژبنيز جوړښتونو په تحليل او توضيح کې د ميټريکونو د مفاهيمو او اصولو کارولو ته اشاره کوي. Matrices په ژبپوهنه کې د ژبني عناصرو تر منځ د اړيکو ماډل کولو او تحليل لپاره د ګټورې وسيلې په توګه کارول کيږي. لاندې په ژبپوهنه کې د ميټريکس رياضي ځينې اصلي غوښتنليکونه دي:(Partee, ۱۹۹۰)

۱. د جملې د جوړښت تحليل: د جملې د جوړښت او د کلمو او جملو تر منځ د اړيکو د

تحلیل لپاره میټریس کارول کیدای شي. د مثال په توګه، میټریکونه چې په یوه جمله کې د کلمو ترمنځ د نحوي اړیکو استازیتوب کوي د نحوي تحلیل لپاره کارول کیدای شي.

۲. د ژباړې ماډلینګ: په ماشین ژباړنه کې، میټریکونه د سرچینې ژبه او هدف ژبه کې د کلمو ترمنځ د اړیکو ماډل کولو لپاره کارول کیدی شي. دا ماډل کولی شي د ماشین ژباړې ښه فعالیت چمتو کړي.

۳. د کلمو کثافت تحلیل: میټریکونه په متن کې د کلمو کثافت تحلیل کولو لپاره کارول کیدای شي. دا ماډل کولی شي د ډیری تکرار کلمو پیژندلو کې مرسته وکړي او د متن موضوعاتو تحلیل کې اغیزمن وي.

٤. Semantic Analysis: Matrices د جملو او کلمو د سیمانتیک تحلیل لپاره کارول کیدای شي. دا ماډل کولی شي د کلمو او جملو ترمنځ د سیمانتیک اړیکو په تعریف کې مرسته وکړي.(Chomsky, ۱۹۵۷)

له همدې امله، په ژبپوهنه کې د میټریکس ریاضي د ژبپوهنې د ستونزو تحلیل او تشریح کولو لپاره د یوې پیاوړې وسیلې په توګه کارول کیږي او د ژبپوهنې په مختلفو برخو کې کارول کیږي، د ماشیني ژباړې، نحو، او سیمانتیک په شمول.(Jurafsky, ۲۰۰۹)

**ژبني ماډلونه**

په ژبپوهنه کې د کمپیوټري تیوري په کارولو سره د ژبنیو ستونزو او ژبنیو جوړښتونو تشریح او تحلیل لپاره د کمپیوټري مفاهیمو او وسایلو کارولو ته اشاره کوي. دا طریقه د ریاضیاتو او کمپیوټري وسیلو څخه کار اخلي چې د ژبې پروسې ماډل او انډول کړي. لاندې په ژبپوهنه کې د محاسبې تیوري ته د ژبني ماډلونو ځینې اصلي غوښتنلیکونه دي: (Partee, ۱۹۹۰)

۱. د ژبې ګرامر ماډلینګ: د کمپیوټري تیوري سره ژبني ماډلونه د ژبې ګرامرونو ماډل کولو او تحلیل لپاره کارول کیدای شي. دا ماډلونه عموما مفکورې کاروي لکه د ټرمینل توزیع ماشینونه، محدود دولتي ماشینونه، او ارتوګرافیک ګرافونه.

۲. ماشیني ژباړه: په ماشیني ژباړه کې، ژبني ماډلونه د کمپیوټري تیوري سره د جملو جوړښت او د ژبو تر منځ د ژباړې ماډل او تحلیل لپاره کارول کیږي. دا ماډلونه معمولا د ژورې ژباړې ماشینونو یا ګډ لیږد ماډلونو پراساس میتودونه کاروي.

۳. د طبیعي ژبې پروسس: د کمپیوټري تیوري سره ژبني ماډلونه د طبیعي ژبې پروسس کولو په برخه کې کارول کیږي. دا ماډلونه کولی شي د متنونو تحلیل او تشریح کولو کې مرسته وکړي، په اتوماتیک ډول متن تولید کړي، معلومات استخراج کړي، او د متن پوښتنو

ته ځواب ووايي.
٤. Semantic analysis: د محاسبې د تیورۍ سره ژبني ماډلونه د کلمو او جملو معنی ماډل کولو او تحلیل کولو لپاره کارول کیږي. دا ماډلونه کولی شي د متنونو مفاهیمو او سیمانتیک اړیکو په تشریح کولو کې مرسته وکړي.
په عموم کې، په ژبپوهنه کې د محاسبې له تیوري سره ژبني ماډلونه پیاوړي وسایل دي چې د ژبپوهنې څیړونکو سره د مختلفو ژبو او ژبنیو پروسو په تحلیل او تشریح کې مرسته کوي(Partee, ۱۹۹۰) .

**پایله**

په ژبپوهنه کې د ریاضیکي میتودونو کارول د ژبې د جوړښت او فعالیت د دقیقې او منطقي تحلیل لپاره یوه مهمه او مؤثره وسیله ده. دا میتودونه د ژبې مختلفو برخو، لکه نحو (syntax)، فونولوژي (phonology)، ماناپوهنې (semantics)، او کمپیوټري ژبپوهنې (computational linguistics) په تحلیل کې کارول کیږي. د نوام چامسکي په څېر پوهانو د رسمي ګرامرونو او ریاضیکي ماډلونو په مرسته د ژبې نحوي جوړښتونه توضیح کړي. دا ماډلونه د ژبې د قاعدو په درک او تجزیه کې مرسته کوي. احصایوي او احتمالي ماډلونه په طبیعي ژبني پروسس (NLP) کې پراخه کارول کیږي. دا ماډلونه د ژبې د کارولو بیلابیل اړخونه په عددي او احتمالي بڼه تحلیل کوي، چې په پایله کې دقیق او وړاندیز شوي سیستمونه رامنځته کوي. په کمپیوټري ژبپوهنه کې، ریاضیکي میتودونه د ژبې د پروسس او تحلیل لپاره کارول کیږي. دا میتودونه د ژبني سیستمونو جوړولو او د طبیعی ژبې د پروسس لپاره مهم رول لوبوي. ریاضیکي میتودونه د ژبپوهنې مختلفې برخې په دقیقه توګه تحلیل او توضیح کوي، چې د ژبې په اړه د پوهې پراخوالی تضمینوي. دا میتودونه د ژبې مختلفو برخو ترمنځ معنایي یووالی او تسلسل رامنځته کوي، چې د ژبپوهنې د بیلابیلو څانګو ترمنځ همغږي تضمینوي، د ریاضیکي میتودونو په مرسته، پیچلي او پرمختللي ماډلونه جوړیږي چې د ژبې د پروسس او تحلیل لپاره کارول کیږي، چې په دې سره د کمپیوټري ژبپوهنې او نورو برخو کې پرمختګ ترلاسه کیږي. په ټوله کې، په ژبپوهنه کې د ریاضیکي میتودونو کارول نه یوازې د ژبې په دقیق تحلیل او تفهیم کې مرسته کوي، بلکې د نوو ژبني تیوریو او ماډلونو په جوړولو کې هم مهم رول لوبوي.

**ماخذونه**

Chomsky, N. (۱۹۵۷). *Syntactic Structures*. The Hague: Mouton.
Jurafsky, D., & Martin, J. H. (۲۰۰۹). *Speech and Language Processing:

An Introduction to Natural Language Processing, Computational Linguistics, and Speech Recognition* (٢nd Ed.). Upper Saddle River, NJ: Prentice Hall.

Kaplan, R. M., & Bresnan, J. (١٩٨٢). *Lexical-Functional Grammar: A Formal System for Grammatical Representation*. In J. Bresnan (Ed.), *the Mental Representation of Grammatical Relations* (pp. ١٧٣-٢٨١). Cambridge, MA: MIT Press.

Kager, R. (١٩٩٩). *Optimality Theory*. Cambridge: Cambridge University Press.

Manning, C. D., & Schütze, H. (١٩٩٩). *Foundations of Statistical Natural Language Processing*. Cambridge, MA: MIT Press.

Partee, B. H., ter Meulen, A., & Wall, R. E. (١٩٩٠). *Mathematical Methods in Linguistics*. Dordrecht: Kluwer Academic Publishers.

## قاموس‌لیکونکی څوک دی؟

عزت الله نورزی[1]

**لنډیز**

څوک چې په قاموس لیکلو پوهېږي او یا د قاموس لیکنې دنده ورپه غاړه وي قاموس لیکونکی بلل کېږي. قاموس لیکونکی به د قاموس جوړوونکی او اېډیټر وي. قاموس لیکونکی د ژبې تخنیکي وسایلو او د ژبپوهنې تیورۍ ته اړتیا لري چې په مرسته یې په ژبه کې شته معلومات ښه وڅېړي او په اسانۍ یې خام مواد راغونډ او د وییپانګې (یوې ټولګې) په بڼه یې تشریح کړي.

**آر وییونه:** قاموس، قاموس لیکونکی

**سریزه**

موږ ډېر قاموسونه لرو؛ خو خبره د معیار ده، څومره معیاري او دقیق سیندونه لرو؟ چا جوړ کړي دي؟ هغه قاموسونه چې زموږ په ژبه کې استفاده ترې کېږي د همدې برخې د متخصیصینو لخوا جوړ شوي دي؟ دا او داسې نورې پوښتنې زموږ موجود قاموسونه ننګوي. زموږ له قاموسونو یو زده کوونکی موثره استفاده ولې نشي کولی؟

**ارزښت**

زموږ زیاتره قاموسونه چې جوړ شوي دي، د دوی جوړونکي څانګوال نه دي، نو قاموسونه هم له ښېګڼو سره سره نیمګړتیاوې هم لري، په همدې لیکنه کې بحث ورباندې کوو چې قاموس لیکونکی څوک دی او څوک به قاموس لیکنه کوي.

**موخه**

قاموس لیکونکی ته د خپلو دندو ورپېژندل او په دې برخه کې د معلوماتو خپرول.

**پوښتنې**

۱- هرڅوک قاموس لیکنه کولی شي؟

۲ – قاموس لیکنه د زده کړو لپاره اړتیا لري؟

---

[1] - د کابل پوهنتون د پښتو څانګې پوهنیار استاد

برېښنالیک: ez.noorzai@gmail.com

شمېره: ۹۳۷۳۰۴۰۸۲۴۹+

**څېړندود**

۱ – کتابتوني

۲ – مېتود يې توصيفي – تحليلي دی.

**قاموس ليکونکی**

قاموس‌ليکنه خورا دروند کار دی او چې څوک يې ليکلو ته لاس وروړي، له يوه گروپ سره دې گډ کار وکړي، چې د خپل کار خوږ محصول ووينې او د ټولنې لپاره يو گټور شی وړاندې کړي، که نه په فردي ډول قاموس ليکنه خورا درنده ده او په پښتو ژبه کې چې تر اوسه په فردي يا جمعي ډول قاموسونه جوړ شوي، له علمي مېتودولوژۍ يو څه لرې دي او د دې پر ځای چې دغه قاموسونه بيابيا تکرار نه شي، ښه ده چې يو وار د نورو ژبو قاموسونه وگورو.

قاموس ليکونکی به ليکوال وي، کنه د يوې ژبې له املا سره بايد بشپړه بلدتيا ولري، ځکه د قاموس يوه موخه د املايي توپيرونو له منځ وړل او د يوه واحد ليکدود رامنځته کول دي.
که قاموس ليکونکی د ليکوالۍ په رمزونو پوه نه وي، د تعريفونو په جوړولو کې ناکام او د وييونو په سمه کارونه کې تېروتنې کوي.

قاموس ليکونکي ته تر ټولو مهمه دا ده چې د قاموس‌ليکنې له کار او کارډول سره بلدتيا ولري، کنه د قاموس کار خورا دروند دی او له تجربې پرته لاس وروړل ځکه ښه نه دي چې ډېری وخت يې د گټې پرځای تاوانونه ډېر وي.

قاموس ليکونکی بايد په خپله ژبه پوه وي او د خپلې ژبې له ټولو رمزونو سره بلدتيا ولري، د اړتيا په صورت کې له دويمې ژبې سره هم بلد وي، مثلاً پښتو قاموس ليکونکی بايد لږ تر لږه د (دري او عربي) ژبو په اړه ابتدايي معلومات ولري، ځکه زياتره سروييونه د دغو ژبو ترمنځ مشترک دي. که قاموس ليکونکی دوه‌ژبيز يا څو ژبيز قاموسونو جوړوي، د نورو ژبو له اصولو (گرامر، وييپوهنې، ماناپوهنې او ...) سره بلدتيا لري.

قاموس ليکونکی به په غږپوهنه (فونولوژۍ) پوهېږي چې د يوې کلمې سم تلفظ وکړي او د تلفظ يې سمه بڼه وليکي، چې هم قاموس کارونکي ته کار اسانه کړي او هم د سم ليکدود هڅه وشي. مثلا (خره) يوه کلمه ده چې دوې ماناوې لري، (خره/ xra′) يو حيوان چې د (خر) ښځينه او پای په زور ختم دی، او (xa′ra) د يوه شي امبار يا هغه واښه چې په درندځای اوړده اچول شوي وي، همدارنگ (خر) په عادي حالت کې ليکل کېږي، خو په مغيره او جمع کې (خره) ليکل کېږي چې په زورکي ختمېږي. (کوټه) چې په تلفظ او مانا کې توپير لري (کوټه/ kwata) د بوټو امبار ته وايي. (کوټه/ kota) يوه مانا يې خونه

او بله مانا يې (ګول) او يو ډول سپی هم دی. (کېناستل) يوه کلمه ده، که خج په لومړۍ څپه راشي بشپړ تېرمهال ترې جوړېږي او که خج پر وروستۍ څپه راشي (استمراري تېرمهال) جوړېږي.

قاموس ليکونکی به د مورفولوژۍ سره بلد وي چې د لغتونو د ګردان، جمع حالت، مفرد او نورو مورفولوژيکي چارو په اړه کافي معلومات ولري، چې په قاموس کې د واريانټونو مخنيوي وکړي او هم د قاموس له اصولو سره سم د بېقاعدې فعلونو لېست، د بېقاعدې سرووييونو مغيره حالت، بېقاعدې جمع سرووييونه او د قاموس له اصولو سره سم د مورفولوژۍ نورې دندې ترسره کړي، ياني يو سرويی وپېژني چې کوم ګرامري حالت لري: نوم، فعل، قيد، صفت، فعل، مصدر، تړوييکی، سربل، وروستربل او داسې نور ګرامري حالتونه يې معلوم کړي، قاموس کارونکي ته د ژبې ستونزې هم اسانه کړي، مثلا:

ژړل (حکمي متعدي فعل)

ژړول (متعدي فعل)

ژړېدل (لازمي فعل)

خلک يو ناشمېروړ سرويي دی چې پخپله جمع دی. که قاموس ليکونکی له ژبپوهنې سره بلدتيا ونه لري تېروتنه کوي، ځکه له قاعدې وتل دی. (قلمونه) د قلم جمع ده، د سرويي په توګه نه راځي، مګر (رڼه) د (روڼ) جمعه ده، ځکه په قاموس کې داخلېږي، چې له عامې قاعدې وتلې کلمه ده. (تور) چې د اسم په ډول وکارول شي، جمع تورونه کېږي، خو که د صفت په توګه وکارول شي، جمع يې بيا هم تور ده.

قاموس ليکونکی به له نحوې سره بلدتيا لري: قاموس ليکونکی زياتره سرووييونه د خلکو له خبرو او متنونو راباسي او کلمې په خبرو او جملو کې بېلابېل نقش لري او قاموس ليکونکی به د جملې په جوړښت او رمزونو پوه وي چې د يوې کلمې دقيقه مانا په جمله کې وپېژني، لکه دغه دوې بېلګې: په ټوله دنيا کې وګرځه، خو زما غوندې ځوان به پيدا نه کړې. ټوله دنيا ورته ولاړه او ده خپل تقرير کاوه. په لومړۍ جمله کې دنيا د (نړۍ) په مانا، مګر په دويمه جمله کې د (خلکو) په مانا ده، يا (په دې څېر) يو قاموسي سرويي دی چې په جمله کې يې ګرامري کارونه توپيري لري: په دې څېر کار مې تر اوسه نه دی ليدلی. دلته نوميز غونډ رول لوبوي. کار په دې څېر مه کوه. دلته د قيدي عبارت رول ترسره کوي.

د پښتو زياتره کلمې څو ګونې ځانګړنې لري چې دغه ځانګړنې يې په جملو کې ښې څرګندېږي، مثلا: (څوک) شخصي ضمير چې د غايب ناموجود شخص لپاره کارېږي، خو د پوښتنې او مبهم ضمير په توګه کارېږي چې له جملې پرته يې پېژندل ناممکن دي، مثلا:

نن چې هر څوک راځي، را دې شي. (مبهم ضمیر)
زموږ کره څوک راغلي وو، خو زه وربانديې خبر نه وم. (مبهم ضمیر)
څوک له خاورو ایرو پاڅوي، تخت ورکړي
څوک له تخته د ایرو په ډیران ولي
په بیت کې (څوک) پوښتني ضمیر نه، بلکې د مبهم ضمیر (څوک) دنده ترسره کوي، مګر که ووایو: "څوک راغی؟" دلته د (څوک) د پوښتني ضمیر دنده ترسره کوي.
قلندر مومند په خپل قاموس کې (رسېدل) د سرویي په توګه رااخیستی او (رارسېدل) یې جلا سرویی کړی. که موږ له ګرامر سره بلدتیا ولرو، نو په قاموس کې وارینتونه نه رااخلو.
"ګل" یوه کلمه ده چې په جمله کې بېلابېل ګرامري حالتونه غوره کوي، لکه:
بلال ډېر ګل سړی دی.
د بلال ګل یې راوړو. (بلال نامزاد شو.)
ګل مه شکوه.
په لومړۍ جمله کې (ګل) صفت او په دوه نورو جملو کې (نوم) دی، په پښتو، دري، عربي قاموسونو کې تر ډېره دغه ډول مسایلو ته پام نه دی شوی، مګر په انګلیسي قاموسونو کې دغه ډول مسایل په ډېر دقت واضح شوي دي.
پر ماناپوهنې پوهېدل: قاموس لیکونکی باید د کلمو په اصلي، فرعي، مجازي ماناوو وپوهېږي او هم د کلمو په مانايي جوړښت وپوهېږي.
له پرګماټېکس سره اشنایي لرل: یو ویی اصلي او فرعي ماناوې لري، ښایي تر چاپېریال پورې محدوده وي، نو قاموس لیکونکی باید پر دغو رمزونو پوه وي. د یوه ویي د احساساتو د ښکارونې او په محیط کې له کارونې سره بلدتیا او همدارنګه د کلماتو له تعجبي او داسې نورو حالتونو سره بشپړه اشنایي لرل. د هرې ټولنې خلک له ځینو مشترکو ځانګړتیاوو او ضرورتونو ترڅنګ خپلو خاصو فکري، فرهنګي، تاریخي، ټولنیزو او اقتصادي ځانګړنو ته په کتو ځینې اړتیاوې او غوښتنې لري، چې قاموس لیکونکی یې باید په بشپړ دقت او امانتدارۍ مراعات کړي.
مثلا: د (یه) کلمه چې د (هو) او هم د (نه) په مانا ده، په کندهار او غزني کې (یه) د (هو) په مانا کارېږي، مګر کوچیان او ځدراڼ یې د (نه) په مانا کاروي.
په پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې د (بغېدل) تر سرویي لاندې لیکل شوي: «ژړېدل، بغارې کول، فریاد کول، چغې وهل، کړیکې وهل، کریغې وهل، کوکې وهل، بغ بغ کول: او- بغېږي. را- وبه بغېږي. تېر- وبغېد۲-د مږز یا بتیر غږ او نارو ته وایی». بغېدل د (ژړېدل)

اصلي مانا نه ده، مگر په استعاري توگه، یا د احساساتو په وخت کې د توهین په ډول کارېږي. که د یوې بلې ژبې ویونکی دغه ماناوې واوري او څوک چې ژاړي، نو مجبور دی، ورته ووایي، چې ولې بغېږې! قاموس لیکونکی اصلي او فرعي ماناوې وپېژني او د بېلگې له لارې یې واضح کړي، چې څه وخت کارېږي.
قاموس لیکونکی د سیمې په گړدودونو خبر وي: «گرده» یو کلمه ده چې د (ټول)، غونډ او همدارنگه د حلقې په مانا کارېږي، خو په سویل کې دغه کلمه یوه منفي مانا لري، نو قاموس لیکونکی باید په سیمه کې بلد کس وي.
قاموس لیکونکی به له وییپوهنې سره اشنایي لري: که نه د ویيپوهنې په اړه به یې معلومات لومړني وي چې د یوه سرویي ریښه وپېژني او همدارنگه د سرویي گرامري دندې هم مشخصې کړی شي، همدارنگه د سرویي د (اصل) په اړه معلومات ولري. مثلا: خرخ یوه ساده کلمه ده، قاموس لیکونکی به یې ټولې بڼې راټولوي او تعریفوي، لکه: خرڅلاو، خرڅونه، خرڅېدل، خرڅول، خرڅوونکی، خرڅه او داسې نور.
امیل لیتره وایي: «کله به چې د قاموس‌لیکنې پر کار بوخت شوم، یا به ورسره مخ شوم، ملگرو ته به مې ویل: "هېڅ وخت د قاموس لیکنې کار ته لاس ور نه وړئ"

- ✓ د کاروونکو (Users) پروفایل جوړول او د هغوی اړتیاوې مشخصول: قاموس کارونکی باید د سروییونو لېست تیار کړی شي، خو د سروییونو لېست د قاموس لیکلو پر مهال غځېږي، تر ټولو مهمه دا ده چې قاموس لیکونکی خپل مخاطب مشخص کړي چې د چا لپاره قاموس جوړوي. مثلاً که د ماشومانو لپاره قاموس جوړوي، نو لویان به په نظر کې نه نیسي، د ماشوم سویه به گوري، د ماشوم کار ځای به گوري، د ماشوم مینې ته به گوري.
- ✓ د قاموس لپاره تشریحي ژبه جوړول: قاموس کارونکی باید د خپل کار مخکې یو ځل په هغو کلماتو غور وکړي چې په قاموس کې د تعریفونو لپاره یې کاروي: مثلا کارېږي، پکارېږي، گټه ترې اخیستل کېږي، استفاده کېږي او داسې نورې کلمې دي چې قاموس لیکونکی یې یو ډول کاروي. د قاموس د تعریفونو لپاره یو ډول کلمات راټولوي، یانې د قاموسي تعریفونو ژبه داسې نه وي، چې قاموس کاروونکی په همغه لغتونو پسې بیا بیا ستړی شي او په پرمختللو ژبو کې هغه لغتونه چې د قاموسي سروییونو په تعریف کې کارېدلي، د قاموس په پای کې یو جلا لېست لري.
- ✓ د قاموس لپاره اناټومي جوړول او تنظیمول، قاموس یوه خاصه اناټومي لري، نو قاموس لیکونکی به ورسره اشنا وي، چې دلته خبرې پرې کېږي. د قاموس اناټومي له

قاموسه توپیر لري، خو د عمومي قاموسونو اناټومي تر ډېره ورته وي، که نه اوس خو قاموسونه د تجارتي موخو لپاره جوړېږي، چې هر څوک ورته جلا مفکوره لري.

- ✓ د قاموسي محتوا لپاره ترتیب[1] او ځانګړنې[2] جوړول او تنظیمول: د قاموس تر ټولو مهمه برخه ترتیب او ځانګړنې دي، چې قاموس لیکونکی باید ورسره بلد وي، چې په خپل قاموس کې کوم کلمات داخل کړم او د کومو اړتیا نشته چې باید په قاموس کې یې رانه وړم، خو په یوه عمومي قاموس کې د ژبې د ټولو پېژندل شویو او ناپېژندل شویو سروییونو ته اړتیا شته ده.
- ✓ د سرویيونو لپاره د کلماتو او تاړو انتخاب، قاموس لیکونکی باید دغه وړتیا ولري؛
- ✓ د متلازمو کلماتو[3]، عبارتونو، او بېلګو انتخاب؛
- ✓ د هرې کلمې د اصلي بنې[4] تیارول؛
- ✓ په قاموس کې کلمات تعریفول، مانا کول، او تنظیمول؛
- ✓ د کلماتو د تلفظ مشخصول؛
- ✓ قاموس لیکونکی به په دوه‌ژبیزو قاموسونو کې د هر سرویي لپاره مترادفات پیدا کوي.

د قاموسونو د چاپي او برېښنایي بڼو لپاره سټایل مشخصول، چې له کارونکو سره د اړتیا په وخت کې په اسانۍ مرسته وکړی شي.

**پایله**

قاموس لیکونکی به په ژبه او ژبپوهنه پوه وي او په اړونده ژبه کې به مطالعه لري او د لیکوالۍ له اصولو او لیکلو سره به بلدتیا لري او د خلکو په عنعنات به خبر وي. په ژبه کې په شته کنایو او دویمو ماناوو به خبر وي. که دوه ژبیز یا څو ژبیز قاموسونه جوړوي د اړوندو ژبو له وییونو سره به بلد وي او د وییونو د اصلي ماناوو ترڅنګ به په دویمه مانا هم خبر وي.

**ماخذونه**

ابهری، عاطفه. جعفری، زهرا، زادګان، ندا. سلسه سبزي، کبری. سمراد، سوسن. صناتی، مرضیه. طاهري، فرزانه. قطره، فریپا، ګرکانی، ندا. (۱۳۹۵) فرهنګ‌نویسی مباحث نظری و کاربردی، تهران: کتاب هبار.

ساغر، شریفي. قطره، فریبا. (۱۳۹۷). درآمدی بر فرهنګ نویسی، تهران: خیابان بهار

[1] Macrostructure
[2] Microstructure
[3] Collocations
[4] Lemma Form

نورزی، عزت الله (۱۳۹۸). د قاموس لیکنې لارښود، د ماستری تېزس، کابل پوهنتون.

هلالي، عبدالحکیم. (۱۳۵۴). پښتو قاموس لیکنه. کابل: پښتو ټولنه د ژبپوهنې څانګه.

Adamska-Salaciak, A. (۲۰۰٦). Translation of Dictionary Examples – notoriously Unreliable, in Corino etal.

Atkins, B. T. s. (۱۹۸۵), Monolingual & Bilingual learner's Dictionaries: a comparison: in R.F. Ilson (ed.) Dictionaries, lexicography & language learning oxford: Pergamon.

B.T. Atkins and Michael Rundell. (۲۰۰۸). The Oxford Guide to Practical Lexicography, Published in the United States by Oxford University Press inc. New York.

Marie-Claude L' Homme. (۲۰۰۵). Terminology and Lexicography Research and Practice, Amsterdam_/_Philadelphia: John Benjamins Publishing Company

## د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د ښوونیز بهیر ستونزو او خنډونو ته کتنه

رحیم الله حریفال[1]

**لنډیز**

د پښتو ژبې له زده کړې سره د نورو ژبو د ویونکو لېوالتیا پخوانۍ مخینه لري او دلایل یې هم مختلف دي، کله چې موږ د پښتو ژبې تاریخ ته پام کوو، نو ګورو چې په ډېرو برخو کې د څېړنو او تحقیقاتو پیل بهرنیانو یا هم ویلای شو چې ختیځپوهانو کړی دی.

په اوس کې هم د ګڼو دلایلو له امله بهرنیان او د نورو ژبو ویونکي پښتو ژبه زده کوي او په دې وروستیو کې شاهدان یوو چې د بهرنیانو له لوري د پښتو لنډ ښوونیز کتابونه لیکل شوي او لیکل کېږي چې وروستۍ بېلګه یې د یوې فرانسوۍ میرمنې د پښتو ــ فرانسوي کتاب لیکل دي، خو که موږ د ګاونډیو ژبو د نورو ژبو ویونکو ته د ژبې د زده کړې بهیر مطالعه کړو، هغوی دې برخې ته ډېره پاملرنه کړې ده، غني نصاب، ډیجیټلي مواد او آنلاین پروګرامونه لري، خو موږ په پښتو ژبه کې له بده مرغه د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې نصاب لا نه لرو او څه نا څه کتابونه هم چې لیکل شوي دي، بسنده نه دي او دا کتابونه د انفرادي هڅو په نتیجه کې لیکل شوي دي، په دولتي کچه موږ په پښتو ژبه کې داسې منظم سیستم نه لرو چې د وخت غوښتنو او اړتیاوو ته په پام سره بدلونونه په کې راوستل شوي وي او وخت پر وخت د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې د نورو ژبو ویونکو ته اسانتیاوې را منځ ته شوې وي، نو په دې څېړنیزه مقاله کې به د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د ښوونیز بهیر پر ستونزو  او خنډونو رڼا واچول شي او د حللارو په اړه به یې بحث وشي، تر څو یوې مثبتې پایلې ته ورسېږو او دې برخې ته د پښتو ژبې د څېړنیزو او علمي بنسټونو او همدارنګه د پښتو ژبې د خواخوږو او څېړونکو پام را وګرځول شي.

**ار وییونه:** ژبه، ښوونیز بهیر، نصاب. حللارې

**سریزه**

کله چې د یونسکو سازمان د ناروغو او روغو ژبو وېش ته نظر وکړو، نو بیا نورو ته د پښتو

---

[1] - د افغانستان د علومو اکاډمۍ څېړنوال غړی

برېښنالیک: harifaal@yahoo.com

شمېره: +۹۳۷۷۲۵۲۵۲۶۲

ژبې د ښوونې پر ارزښت ښه پوهیدی شو. هو، د ملګرو ملتونو د یونسکو سازمان ژبې پر دوه ډوله ویشلې دي: ۱. روغې ژبې ۲. ناروغې ژبې.

روغې هغه ژبې دي چې د وخت په تېریدور سره څانته نوي زده کوونکي جلبوي او د خلکو په منځ کې د اهمیت وړ وي او پاته نورې ناروغه ژبې دي چې د وخت په تېریدو سره ورکیږي.

ددې لپاره چې خپله ژبه (پښتو) د روغو ژبو په کتار کې ودروو دا زموږ مسؤولیت دی چې د خپلې ژبې لپاره کار وکړو، ترڅو د پښتو ژبې د اهمیت په نظر کې نیولو سره نوي زده کوونکي د پښتو ژبې د زده کړې لپاره لېواله شي. (۴: ۲ مخ)

بل خوا که په عمومي توګه د هېواد ښوونیز نصاب ته نظر وکړو، نو ستونزې او مشکلات لري، یواځې په تېرو شلو کلونو کې، څو ځله د ښوونځیو نصابونه تغییر او تبدیل شول، که د نورو مضمونونو خبره یوې خوا ته پرېږدو او د پښتو ژبې پر مضمون بحث وکړو، نو له ورایه څرګندېږي چې په دې برخه کې ګڼې ستونزې موجودې دي، نه یواځې د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې په ور زده کولو کې ګڼ مشکلات شته دي، خپله د پښتو ژبې اکثریت ویونکي څه ډول چې اړتیا ده، خپله ژبه نه شي لیکلای او یا هم ویلای شو چې زده یې نه ده.

عبدالخالق رشید په خپله یوه مقاله کې په څرګندو ټکو لیکلي دي: د عیني کتنې او علمي ارزونې له مخې زموږ تر اوسه نوي سلنه پښتو او پارسي ویونکي په خپلو ژبو نه سم پوهېږي او نه یې سمې لیکلای شي. دا ځکه چې په دغه برخه کې موږ د یو نظم او یوه تعلیمي سیستم کلک بنسټ تر اوسه پورې نه دی اېښی. (۲: ۲۵ مخ)

دلته موږ د پښتو ژبې د مضمون پر تعلیمي نصاب خبره نه کوو، بلکې پر دې غږېږو چې د نورو ژبو ویونکي ولې د پښتو ژبې د زده کړې په بهیر کې له ستونزو او ګواښونو سره مخامخ دي؟ ستونزه چېرې ده او څه ډول کولای شوی چې په دې برخه کې مناسبې کړنلارې او لارې چارې وړاندې کړو.

څو کاله وړاندې مې دوو بهرنیانو ته د پښتو ژبې د ښوونې بهیر مخ ته ووړ، خو له څو میاشتو وروسته دا دواړه بهرني شاګردان ګیچ شول او دا پرېکړه یې وکړه چې د پښتو ژبې زده کړه مشکله ده او نه شو کولای، نو دلته یو ځل بیا دا خبره ذهن ته راغله چې ستونزه چېرې ده او په دې لړ کې به مې چې د درس لپاره تیاري نیوله، نو په خپلو شخصي هڅو به مې څه نا څه درسي مواد چمتو کول او دا به مې هم په پام کې نیول چې زده کوونکو ته درس او د زده کړې بهیر سترې کوونکی نه شي، خو متأسفانه بیا هم ونتوانیدم چې په دې

برخه کې بریالی را ووځم.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

په عمومي توګه هم په داخل او هم په بهر کې د پښتو ژبې د زده کړې مینه وال ډېر شوي دي او ورځ تر بلې د ډېرېدلو په حال کې دي. دغې ورځ تر بلې ډېرېدونکې اړتیا ته په مقابل کې موږ د یوه منظم او هراړخیز سیستم درلودونکي او شاهدان نه یوو، نو د دې څېړنې اهمیت دا دی چې زموږ پام یوه سیستماتیک پروګرام ته راګرځوي، تر څو په دې برخه کې وړ او عملي ګامونه اوچت کړو.

د څېړنې مبرمیت په دې کې دی چې کله په یوه برخه کې اړتیا موجوده وي، ستونزې او مشکلات موجود وي، نو په کار ده چې په اړه یې څېړنې ترسره شي او دا خنډونه په ګوته کړي او له نورو سره شریک کړي، خو د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې د بهیر او ننګونو په اړه موږ نوې او مبرمې څېړنې او لیکنې نه لرو.

**د څېړنې موخه**

د څېړنېستره موخه دا ده چې د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې د بهیر ستونزې څرګندې او په ډاګه شي او له بلې د څېړنې په ترسره کولو سره نور څېړونکي هم دې ته وهڅول شي چې په دې برخه کې څېړنې او لیکنې وکړي او په پایله کې د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې بهیر لا نور منظم او بشپړ شي.

**د څېړنې پوښتنې**

د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې یو منظم بهیر لرو او کنه؟

د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې د ښوونیز بهیر خنډونه او ګواښونه کوم دي؟

**د څېړنې میتود**

په دې څېړنه کې به د تشریحي ــ تحلیلي میتود تر څنګ له پرتلیز(مقایسوي) میتود څخه هم کار واخیستل شي.

**د دویمې ژبې زده کړه**

د هر ملت ژبه نه یوازې دا چې د اړیکو نیولو وسیله ده، بلکې د یوه هېواد د بېلابېلو قومونو د یووالي جوهر او ارزښت دی او د نړۍ په کچه د هغوی د پېژندنې وسیله ده. د هېواد له پولو څخه بهر د یوې ژبې پراخېدل او د نورو ژبو د ویونکو له خوا د نوموړې ژبې زده کول د دوو ملتونو او دوو هېوادونو د نږدېوالي لامل ګرځي او د ملي اقتدار نخښه ګرځي.(۳: ۴ مخ)

بل مهم ټکی دا دی چې اوس مختلف هېوادونه او ملتونه په نورو هېوادونو او د نړۍ په

کچه د خپلو ژبو د پېژندنې او د نورو ژبو ویونکو ته د ور زده کولو لپاره منظم پروګرامونه او تګلارې جوړې کړي او پلې کوي یې، په دې برخه کې ستر ستر لګښتونه کوي، تر څو وکولای شي د خپلو ژبو له لارې نړۍ او نورو ملتونو ته خپل فرهنګونه او شته ارزښتونه ور ولېږدوي.

که څه هم د دویمې ژبې زده کړه یوه ستونزمه، پېچلې او ډېر وخت اخیستونکې چاره ده. تر ټولو ډېر مسؤولیت زده کوونکي ته ورګرځي چې خواري وکړي، وخت ورکړي او پلټنه وکړي، خو خبره پر دې ځای نه ختمېږي، دا د سیکې یو مخ دی چې د ژبې په زده کوونکي پورې اړه لري، خو د سیکې بل مخ بیا د دغې ژبې اړوند مسؤولو ادارو او اشخاصو ته ورګرځي چې دوی د خپلې ژبې د ښوونې لپاره منظم سیستمونه او چوکاټونه جوړ کړي او په داسې لارو چارو غور وکړي چې د نورو ژبو د ویونکو لپاره د پښتو ژبې د زده کړې بهیر اسانه او په زړه پورې کړي، تر کومه ځایه چې ما په دې برخه کې مطالعه کړې ده، له بده مرغه موږ داسې منظم او پر علمي اصولو ولاړ سیستم او چوکاټ نه لرو چې د نورو ژبو د ویونکو لپاره د پښتو ژبې د زده کړې بهیر اسانه او چټک کړي.

**د نورو ژبو ویونکي ولې پښتو ژبه زده کوي؟**

د پښتو ژبې د زده کړې بهیر په دوو برخو وېشلای شو چې یوه برخه یې د هېواد دننه ده او دا برخه یې پښتو د هېواد د ملي او رسمي ژبې په توګه زده کوي او دا یوه لازمي چاره ده او د دې برخې ډېره اتکا بیا پر تعلیمي نصاب ده او مسؤولیت یې تر ډېره بریده د پوهنې وزارت ته ورګرځي او زده کوونکي چې کله له ښوونځي څخه فارغېږي. باید پښتو ژبه یې زده وي، خو متأسفانه په دې برخه کې د بریالیتوب سلنه په نشت حساب ده، حتی په شپږو او اوو کلونو کې لا هم زده کوونکي د پښتو ژبې له عامو کلمو او وییونو سره نه بلدېږي.

بله برخه بیا د بهرنیانو ده چې په دې وروستیو وختونو کې د هغو بهرنیانو شمېر مخ په زیاتېدو دی چې د پښتو ژبې زده کولو ته یې ملاوې تړلي او لاملونه یې ګڼ دي چې دلته یې ځیني مهم لاملونو ته اشاره کوو او دا عوامل څکه موږ ته مهم دي چې د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې په برخه لا نور کارونه ترسره شي او په کومو برخو کې اړتیا ده؟

۱ . له تېرو څه باندې څلوېښتو کلونو را په دې خوا په افغانستان د شوروي اتحاد تر یرغل وروسته، افغانان د نړۍ بېلابېلو برخو ته مهاجر شول او افغانستان د نړۍ پر یوې مهمې موضوع بدل شو او تر اوسه پورې د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې افغانان ژوند کوي، همدغه نږدېوالی او د فرهنګونو رنګارنګي او تنوع د دې لاملو شوه چې له افغانستان سره د بهرنیانو

مينه او علاقه زياته شي او د افغانستان د ښه پېژندلو او د دې هېواد د اوسېدونکو د فرهنګونو د پوهېدلو لپاره د پښتو ژبې زده کړه، مهمه اړتيا ده، نو له همدې امله ډېرې بهرنيانو د پښتو ژبې زده کړې ته مخه کړه.

۲. افغانستان د نړۍ يو لرغونی او تاريخي هېواد دی چې د زياتو تاريخي ځايونو درلودونکی دی. د تاريخي ځايونو تر څنګ د سياحت او ګرځندوی لپاره هم ښه مناسب او د لېدو وړ ځايونه لري چې دا هم د دې لامل شوی چې بهرني سيلانيان پښتو ژبه زده کړي، تر له دې لارې هم افغانستان وپېژني او هم د دې هېواد د ستر تېر پښتنو له بډايه او ځانګړي کلتور څخه خبر شي.

۳. يو شمېر بهرني محصلان د افغانستان او د سيمې په هېوادونو د خپلو دوکتوراوو او تحصيلي دورو د بشپړولو لپاره علمي رسالې او څېړنې کوي، چې په دې وروستيو کې يوې بهرنۍ د دکتورا محصلې د افغانستان او چين په اړه د دکتورا ډيزرټيشن ليکه، نو د خپلې موضوع د بشپړولو او د افغانستان د پېژندلو لپاره اړه وه چې پښتو ژبه زده کړي. د څلورو مياشتو لپاره ما خپله په انلاين بڼه د پښتو ژبې د ښوونې بهير مخ ته ورسره يوړ.

۴. په دې برخه کې نورو لاملونو هم شامل دی، حتی کله نا کله بهرنيان د خپلو وظيفوي مسؤوليتونو له امله هم مجبورېږي چې پښتو ژبه زده کړي، لکه ژورناليستان، د سياسي او نړۍ‌والو اړيکو د برخې متخصصان او داسې نورې کته ګورۍ او ډلې دي.

پورته ياد شوي او دې ته ورته نور ګڼ لاملونه دي چې د نورو ژبو ويونکو د پښتو ژبې زده کړې ته مخه کړې ده. اوس مسئله دا ده چې دې ورځ تر بلې زياتيدونکې اړتيا ته په کته موږ د نورو ژبو ويونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې څه کړي او دا ترسره شوي، کارونه بسنه کوي؟ په دې برخه کې کومې ستونزې لا هم پر خپل ځای پرتې دي او څه کولو ته اړتيا او ضرورت دی؟

### د ښه نصاب او منظم سيستم جوړول

کله چې د نړۍ پرمختلليو ژبو ته پام وکړو، نو هغوی د خپلې ژبې د ښوونيز بهير لپاره منظم او پر علمي بنسټونو ولاړ سيستمونه جوړ کړي دي او بيا وخت پر وخت د دغه سيستم ارزونه کوي، نيمګړتياوې يې معلوموي او اړتيا ته په پام بدلونونه او تغييرات په کې راولي، خو متأسفانه موږ د پښتو ژبې لپاره د داسې منظم سيستم شاهدان نه يو، حتی د لومړنيو زده کوونکو لپاره هم څه نه لرو، چې د هغه سيستم په اساس د پښتو ژبې ښوونکې د نورو ژبو ويونکو ته پښتو ژبه ور زده کړي.

د دويمې ژبې زده کول په سيستماټيکه توګه کېږي. په لومړي سر کې بايد د زده کوونکو

سويې او وړتيا ته په پام داسې نصاب جوړ شي چې پر زده کوونکو نه غمېږي او په دېره ابتدائي بڼه زده کوونکي له پښتو ژبې سره بلد شي او بيا گام په گام دا ښوونيز بهير مخ ته ولاړ شي.

موږ چې کله د نورو ژبو ويونکو ته پښتو ژبه ورښيو، نو له هغو آثارو او منابعو څخه پيل کوو چې د پوهنتون په دوره کې تدريسږي، لکه «پښتو غږپوهنه او وييپوهنه» چې له لومړيو څو پاڼو وروسته نوره بيا د لومړنۍ دورې پر زده کوونکي غمېږي او نه شي کولای چې موضوعات يې زده او ذهن ته وسپاري، نو له همدې امله د پښتو ژبې له زده کړې لاس واخلي.

بل دا چې موږ د پښتو ژبې د ښودلو لپاره داسې منظم چوکاټ او بهير نه لرو چې په هغه کې دې د لوستلو، ليکلو او اورېدلو مهارتونه ځای پر ځای شوي وي، نو دا مسؤوليت ټولو ته متوجه دی چې په داسې سيستم کار وکړو چې هم تدريج په پام ونيول شي او هم د ژبې د زده کړې ټولو مهارتونه په کې ځای پر ځای شوي وي. دا کار له يوې خوا منظمې هڅې غواړي او له بلې خوا مالي لگښتونو ته اړتيا لري چې په دې برخه کې ډېر مسؤوليت دولتي ادارو او علمي مرکزونو ته ورگرځي چې د ژبې له پوهانو او متخصصانو سره په گډه د پښتو ژبې د ښوونې يو منظم سيستم جوړ او وخت پر وخت و ارزوي، نو له څو کلونو وروسته به داسې يو منظم سيستم منځ ته راغلی وي چې په پايله کې به يې د نورو ژبو د ويونکو لپاره د پښتو ژبې زده کړه اسانه او په زړه پورې شوې وي.

**د واحد او کره ليکدود ستونزه**

زموږ د پښتو ژبو يوه بله نيمگرتيا دا ده چې د يوې کره پښتو پرځای، له خپلو لهجو سره ډېره خواخوږي لرو او داسې فکر کوو چې زموږ گړدود کره او معياري دی، په داسې حال کې چې د پښتو ژبې ټولې لهجې ارزښتمنې او د کره ليکدود په بشپړاوي او معيار کې خپله ځانگړې ونډه او مقام لري، حتی په علمي لحاظ د ژبو په اړه ويل کېږي چې يوه ژبه پر بله ژبه په ژبني لحاظ کومه لوړتيا نه لري. همدارنگه د يوې ژبې د بېلابېلو گړدودونو په اړه په نوې ژبپوهنه او ژبني مسايل نومې اثر کې لولو « زما په فکر د دې توپير د ښودلو لپاره تر دې هم ښه لاره دا ده چې سړی ژبه يو سيستم وگڼي او کوم ډله ييز توپير چې په خپله دغه سيستم کې ليدل کېږي، هغه لهجه وبولي، خو کله که خپله سيستم بېل وي هغه بېله ژبه وگڼي». ( ۱: ۹۷ مخ)، خو متاسفانه زياتره وينو چې موږ خپلې لهجې لوړې گڼو او بيا چې کله د يوه کره ليکدود خبره را منځ ته کېږي، د علمي اساساتو پرځای سيمه ييزې او قومي خواخوږۍ ته مخه کوو او داسې انگيرو چې که په معياري ژبه کې زموږ د لهجې کلمې او

ترکیبونه راشي، نو دا به خپل ګړدود ته خدمت کړی وي او له همدې امله وینو چې یو شمېر لیکوالان په همدغه کشمکش کې کښېوتي دي او دغه کار بیا د پښتو ژبې د لیکدود په واحده بڼه کې ستونزې را منځ ته کړې دي چې دغه ګډوډۍ او د په لیکنۍ برخه کې رنګارنګی بیا د پښتو ژبې د زده کړې په برخه کې د نورو ژبو ویونکو ته په سرخوږۍ بدلېږي، نو که غواړو چې ژبه موږ نورو هېوادونو او ملتونو ته ورسېږي، په کار ده چې د پښتو ژبې د ښوونې کتابونه او نصاب په واحد او کره لیکدود ولیکل شي.

**پرلیکه/ آنلاین بڼه د ژبې ښوونه**

په اوس وخت کې آنلاین زده کړې / ښوونه یوه حتمي چاره ګرځېدلې ده، ځکه انساني ژوند ډېر بوخت شوی دی او هر څوک چې پوښتي، نو د وخت له کمښت او چارو له زیادښت څخه سر ټکوي، بل دا کله چې په نړۍ کې د کوېډ ۱۹ ویروسي ناروغي خپره شوه او انسانان د ډېر وخت لپاره په کورونو کې بند پاتې شول، نو د نړۍوالو پام آنلاین زده کړو ته واوښت او ډېری خلکو خاطر آنلاین زده کړو ته مخه کړه او نن ورځ په آنلاین بڼه د ژبو د زده کړې په برخه ډېر پرمختګ شوی دی او د ژبو د ښوونې پرمختللي مرکزونه په آنلاین بڼه د ژبو د ښوونې ټولګي او پروګرامونه لري، خو له بده مرغه د پښتو ژبې د ښوونې لپاره په دې برخه کې هم کار نه دی شوی او کومې فردي هڅې که شوې هم دي، ډېرې لږې او ګټورې نه دي ثابتې شوي او په نشت یې حسابولی شو، په آنلاین بڼه د پښتو ژبې د ښوونې بهیر هم هغه مهال بریالی کېدی شي، چې د پښتو ژبښودنې منظم سیستم او نصاب موجود وي، له یو بشپړ سیستم وروسته بیا د آنلاین زده کړې په برخه کې هڅې وشي.

**د ژوندیو او زړه راښکونکو سرچینو نشتوالی**

د ماشومانو او ځوانانو لپاره د حفظ کولو او په میخانیکي توګه زده کړه ډېره ستړې کوونکې او بې ګټې وي، په نوره نړۍ کې د نورو ژبو ویونکو ته د یوې ژبې د ښوونې په برخه کې بېلابېلې ژوندۍ سرچینې جوړې شوي او په دې برخه کې ترې ګټه اخیستل کېږي، د بېلګې په توګه، کارتون، لنډ او جالب کلیپونه، انیمشن او ګڼې نورې وېډیوګانې.

زموږ او ستاسو خپلو ماشومانو ته که پام وکړو، هغه ماشومان چې تر اوسه یې خپله ژبه سمه نه ده زده، خو د همدغو ژوندیو سرچینو د اغېزو په پایله کې یې ډېرې انګریزي کلمې او لغتونه زده کړي دي، خو متأسفانه د پښتو ژبې د ښوونې په بهیر کې موږ په دې برخه کې هېڅ نه لرو.

نن ورځ ټولنیزې رسنۍ کور کور ته رسېدلې دي او په اجتماعي ژوند کې یې ستر بدلون را

منځته کړې دی، خو متأسفانه موږ څه ډول چې اړتیا ده، له دغو وسیلو څخه ډېره ګټه نه ده اخیستې او لا هم پر کتاب محوره ښوونه او روزنه باورمن یو.

**پایله**

زموږ په زیاترو فرهنګي، علمي او ادبي ناستو کې پر دې ویناوې کېږي چې څه ډول په ادبي برخه کې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره ځان سیال کړو، د ادبي آثارو د ژباړې او په نورو برخو کې د علمي آثارو د لیکلو او پنځولو خبرې کېږي، خو یوه اړینه برخه او ځانګه مو له بده مرغه هېره کړې ده او یا مو څه ډول چې اړتیا ده، هسې پام نه دی ورته کړی او په دې برخه کې هره ورځ ستونزې زیاتېږي، هغه کارونو چې باید ځو لسیزې وړاندې ترسره شوي وای، نن یې بشپړوو او د کومو کارونو چې نن ضرورت دی، هغه به بیا ځو کاله وروسته ترسره کوو، نو په دې توګه داسې لوري ته روان یوو چې سبا به ډېره ناوخته شوې وي او د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د زده کړې او ښوونې بهیر او نظام جوړول به په ناشوني کار اوښتی وي، نو که غواړو چې ورځ تر بلې مو په مخ ستونزې ډېرې نه شي، نو اړتیا ده چې لوړه او لویه کچه د نورو ژبو ویونکو ته د پښتو ژبې د ښوونې د نظام او عالي نصاب جوړولو او د نورو کوچنیو اړتیاوو د ترسره کولو لپاره لستونې را بډ وو، اوس هم ناوخته شوې ده، سبا به بیا ډېره ناوخته وي.

**مأخذونه**


تړی، حبیب الله. نوې ژبپوهنه او ژبنې مسایل، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۹ ل.

رشید، عبدالخالق.'' ژبه او لیک '' د ژبې د معیاري لیکدود اصول، د سیمینار د مقالو ټولګه: کندهار، ۱۳۹۹ ل.

رضاوندی، منوچهر. '' مهم ترین مشکل اساتید آموزش زبان فارسی''، لاسرسی: https://www.irna.ir/news [اخیستنه: ۲/لیندۍ/ ۱۴۰۲ ل].

ذاکر، جلالي. ''د پښتو ژبې د پرمختګ؛ ستونزې او ننګونې''، لاسرسی: https://www.tolafghan.com/articles/ [اخیستنه: ۱۱/مرغومي/۱۴۰۲ ل].

# دویناکړ له زاویې د بیان، امر او پوښتنې سناریو څېړنه

رحمت‌الله حکیمي[۱]

**لنډیز**

د ادراکي ژبپوهنې له اړخه وینا اصلاً په وینایيز چاپیریال، چلن او کړ( فعل) کې مفهوم پیدا کوي. په دې برخه کې وییونه یوازې معلومات نه لېږدوي، بلکې د ویناوال او مخاطب تر منځ د مفهومي اړیکو پراخ جال رامنځته کوي. ویناکړ( **speech act**) له وینا سره همهاله کړ( فعل) ښیي. د کړنې له لارې د ویناوال او ښکېل ویناوال تر منځ مفهومي اړیکي ټینګوي، چې ډېر تمرکز یې د ژبې په کارونه دی. د ویناوال او مخاطب تر منځ د بیان، امر او پوښتنې بېلا بېلې سناریوګانې په بېلا بېلو بڼو په وینا کړ کې ځان را څرګندوي، چې له دودیزو ګرامرونو سره په تفاوت یوازې مجرد مفهوم نه، بلکې د پوښتنې، وړاندیز، ژمنې، هیلې، امر، هڅونې،اعلان، د خدماتو وړاندې کولو او په ټوله کې د ویناوال ذهنیت او دروني مقاصد په عمل کې را برسېره کوي. لومړي ځل انګلیسي فیلسوف ( J.L Austin ) د وینا کړ تیوري رامنځته کړه، وروسته بیا امریکایي فیلسوف ( J.R Searle ) وده ورکړه او د ویتګنشتاین هغه نظریې لا تحقق وموند چې د کارونپوهنې پر بنسټ ژبه د بېلا بېلو فعالیتونو ټولګه ده. د وینا کړ تیوري د ادراکي، چارواڵې او وینا ژبپوهنې په ګډ تعامل ولاړه ده.

**آر وییونه:** وینا، ویناوال، ویناکړ، ژبنۍ سناریو

**سریزه**

معاصره ژبپوهنه د افهام او تفهیم په ګڼو چینلونو بحث کوي، چې په هغې کې ادراک، چلن او عمل ډېر مهم توکي دي. په دودیزو ګرامرونو کې هره جمله په خپل ګرامري سکښت کې مانا لري؛ ولې معاصره ژبپوهنه هر څه په ژبني تعامل او د کارونې په ساحه کې را ته مفهومي کوي. وینا کړ هم د ژبې په کارونه تمرکز کوي. د کړ( فعل) له اړخه مو په وینا پوهوي، تر ډېره پورې له چلنیزو فعلونو څخه په کې استفاده کېږي. په دې مقاله کې د

[۱] - د پکتیکا پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې پوهنمل استاد

برېښنالیک: rahmatullah.hakime@gmail.com

شمېره: ۰۵۴۹+۹۳۷۸۷۳۶

وینا کړ له زاویې د بیان، امر او پوښتنې سناریو د (اوب، فروفایل جوړونې، د ویناوال چلن او وجې) له اړخه څېړل او سپړل شوې ده. د دې سناریوګانو بېلا بېل مانیز وریانتونه په ګوته شوي دي، چې د ویناوال ذهنیت، د ژبې بهر شرایط او موخې ته په پام هر څه په عمل کې مفهومي شوي دي.

**اصلي متن**

وینا کول له یوه اړخه په خپل ذات کې عمل دی، له بلې خوا که د یو عمل د ترسراوي په پار تر سره شي؛ نو وینا کړ ترې جوړېږي. وینا کړ د ادراکي ژبپوهنې له اړخه د پراګماتکیس هغه فرعي ساحه ده، چې وینا ته په کاروني پورې تړاو ورکوي. په دې برخه کې کلمې او جملې یوازې معلومات نه لېږدوي بلکې د بالفعل عمل د ترسراوي دنده هم لري. د (**speech act**) تیوري د لومړي ځل لپاره د (J.L Austin) له خوا په (۱۹۶۲ م) کال (How to do thing with words) (کلمې څه ډول کار کوي؟) اثر کې معرفي شوه، جان لانګ شاو آستین انګلیسي فیلسوف ؤ (۱۹۱۱ – ۱۹۶۰م) د دغه تیوري بنسټ کېښود، چې وروسته بیا د امریکایي فیلسوف (J.R Searle) له خوا نوره وده هم ورکړل شوه. آستین د وینا کړ تیوري له د وینایيزې توتې، خبرې کوونکي او هغه عمل څخه رغېدلې بولي، کوم چې په یوه ځای کې ویل کېږي او په لاندې موډل کې یې ښیي.




(۱-۱)

له دې تیورۍ څخه په ژبپوهنه، فلسفه، ارواپوهنه، حقوقي او ادبي تیوریو کې استفاده کېږي. د دې پوهانو په اند کلمې یوازې د معلوماتو د لېږد را لېږد وسیلې نه دي، بلکې د چلن او عمل د تر سراوي چاره هم پر مخ وړي. آستین د ویتګنشتاین په څېر په دې باوري شو، چې په کلمو باندې ډېرې کارونه ترسره کولای شو. موږ یوازې د شیانو د شیانو هغسې ښودنه نه کوو،کوم ډول چې دي، بلکې پوښتنه کوو، امر کوو، کیسه وایو، وعده ورکوو. وړاندیز کوو، پند، تشویق او تهدید ... او نور ترسره کوو، چې دا ټول د کلمې په اساس ترسره کېدلای شي.

د دغه تیورۍ په تل کې د چلن او کردار د ترسراوي روح پروت دی. استاد ښکلي د خپلې پوهنوالۍ اثر « د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ګرامر څېړنه » کې د وینا کړ په اړه لیکي:« هغه کړه، چې د چلنیزو فعلونو پر مټ تشریح کیږي وینا کړ یا وینا چار ورته وایي، لکه امر کول، پوښتنه کول، غوښتنه کول، ژمنه ، نذر اعلامول » ( ښکلی، ۱۴۰۲ ل: ۳۴۵)

د وینا کړ تیوري خوځنده اړیکې ته په پام لاندې جملې په نظر کې ونیسئ.

۱ ـ دروازه پورې کړه.

۲ ـ سترې مشې.

۳ ـ احمده! مهرباني وکړه کوټه پرېږده.

۴ ـ احمد کوټه پرېږدي.

۵ ـ ایا احمد کوټه پرېښوه؟

٦ ـ ژمنه کوم، چې سبا ته به کورنۍ دنده راوړم.

۷ ـ قول دی، چې نور به دروغ نه وایم.

۸ ـ قول راکړه، چې نور به دروغ نه وایې.




(۱ – ۲)

پورته ټولو جملو کې له وینا سره همهاله عمل وینو، چې یا ترسره کیږي، یا یې د ترسراوي هیله کېږي، یا یې سپارښتنه کېږي، یا یې پوښتنه کېږي او د عمل د تر سراوي حکم ورسره ملګری دی. له دې ښکاري چې ژبه یوازې د معلوماتو وړاندې کول نه دي، بلکې له دې ورها خوا ډېرې دندې ترسره کوي.

له دې پورته څرګندونو ښکاري، چې وینا د عمل له مخې ارزولای او تفسیرولای شو.
آستین خپله تیوري په لاندې موډل کې وړاندې، چې د بیان، امر او پوښتنې سناریو هم په کې ځان را ښکاره کوي. په لاندې جدول کې وینو، چې وینا کړ د بیان په دریو لارو (تغیر نه منونکی/ ثابت، د لارښوونې او وضاحت) کې وړاندې کړ.




(۳-۱)

(Napoleon Jr . Mahoney) په خپله لیکل شوې مقاله (Speech Act Theory from Austin to Searle) کې لیکي: ((د وینا کړ تیوري یو له هغه سختو هڅو څخه ده، چې په سیستماتیک ډول د ژبې کارونه تشریح کوي.))

( Napoleon Jr : ۱ )

نوموړی په خپله مقاله کې ځینې مثالونه وړاندې کوي چې وینا کړونه ترې ښه روښانه معلومیږي:

۱ – I advise you to seek permission from your parents.

۲ _ I order you to read your Book.

۳ – I promise to attend the graduation.

٤ – I now pronounce you husband and wife.

(Napoleon: ۵ – ٦)

له پورته جملو څخه ښکاري چې ویناوال نه یوازې وینا کړې بلکې فعل یې هم تر سره کړی دی. (زه) په حقیقت کې د (نصیحت کولو، امر کولو، ژمنې کولو او اعلانولو) چاره تر سره کړې ده. له دې ښکاري چې ژبه یوازې د معلوماتو لېږد نه دی، بلکې په عمل کې هم د ویناوال ګڼې موخې ورسره تړل شوې دي.

ژبه په عمل کې په دایرة المعارفي مفهوم بدلیږي، چې د دې عمل په محراق کې ویناوال ولاړ دی او مانیز انتشار کوي. استاد ښکلی لیکي: «د شلمې پېړۍ تر منځه د ژبې په اړه دا تصور مجود ؤ، چې کلمې او جملې د انسانانو تر منځ د اړیکې آر توکي ګڼل کېدل او ژبه مازې د معلوماتو د لېږد یوه وسیله ګڼل کېده. د جملو سموالی د بهرنۍ مصداق له مخې ارزول کېده؛ خو ویټګنشتاین د کارونپوهنې پر بنسټ ژبه د بېلا بېلو فعالیتونو ټولګه بولي، نوموړی د ژبې په کارونه ټینګار کوي او په دې اند و، چې مانا باید د کارونې له مخې وڅېړل شي. ویټګنشتاین وینا او عمل د ژبنۍ لوبې (Language game) په مفهوم وړاندې کوي او د پوښتنې، وکړه، مه کړه، غوښتنې، مننې، سلام اچولو ... غوندې بېلګې ژبنی عمل بولي. نوموړی وایي چې وینا یو عمل دی، چې موږ په کې ژبه کاروو او له دې لارې هممهاله ژبني توکي عمل کوي.» (ښکلی، ۱۴۰۲ ل: ۳۴۵)

د یوې کلمې مانا په وینایيز فعالیت او ژبني عمل کې راښکاره کیږي. په ژبه کې کلمې او عبارتونه یوازې د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره نه دي، بلکې د وینا کړ له زوایې د (بیان، امر او پوښتنې) په سناریو کې د بېلا بېلو مفاهیمو او مقاصدو لپاره د بیان چاره تر سره کوي. استاد ښکلی لیکي: « تر ویټګنشتاین وروسته د وینا کړ په اړه مهمې خبرې جان آستین وکړې. د وینا کړ په اړه د آستین نظریه د منطقینو له خوا د وړاندې شوې ماناپوهنې د لاندې درې اصولو مخالف ؤ. ۱ ـ خبري جملې د ژبې اصلي جملې دي. ۲ ـ له ژبې نه د معلوماتو د رسولو لپاره کار اخیستل کېږي. ۳ ـ د وینایيزو ټوټو رښتیا او دروغ ټاکلای شو. آستین د دې پر خلاف په دې اند ؤ چې خبري جملې د ژبې اصلي نه دي. د ژبې بنسټي دنده د معلوماتو رسول نه دي او د ټولو وینایيزو ټوټو د مانا رښتیا او دروغ نشو ټاکلای.» (ښکلی، ۱۴۰۲ ل: ۴٦)

د بیان، امر او پوښتنې سناریو د یوه وینایيز فعالیت صحنه ده، چې مرکزي کرکټر یې ویناوال دی. په ادراکي ژبپوهنه کې د دودیزو ګرامرنو پر خلاف ویناوال یوازې متکلم، فاعل او د مخاطب په وړاندې په ستیج ولاړ کس نه دی چې یوازې په فزیکي ډول د لوډ سپیکر دنده ولري، بلکې د مفاهیمو په بدلون کې مهم نقش لري. په وینایيز فعالیت کې ولاړ کس دی چې د وینا مهمه برخه ګڼل کېږي. همدا وینایيزه چاره ده، چې د کلمو مجرد او قاموسي مفهوم په دایرة المعارفي مفهوم بدلوي. ډېرې پیغامونه له وینایيز فعالیت وروسته د ویناوال لیدلورې، وجهیتونو او موخې ته په پام مفهومي کیږي.

په ځینو مواردو کې یوه ژبنۍ موضوع په دوه لیدلورو (چلن او ادراک) سره تفسیریږي. دا هم همداسې موضوع ده. په وینایيز فعالیت کې د ویناوال له ځرګندونو څخه دا درک

کیږي، چې ویناوال په غوصه دی، خفه دی، خوشحاله دی، ارمان لري، موړ پوهوي، ځان پوهوئ، خدمات وړاندې کوي، امر کوي، ځان مطرح کوي ..... او نور، چې د ( بیان، امر او پوښتنې ) په سناریو کې د مفاهیمو دغه درک په ادراکي ژبپوهنې پورې اړه لري. په وینابیز فعالیت کې هم اورېدونکی درک کوي او هم د ویناوال ادراک راته معلوموي. د چاروالې ژبپوهنې له اړخه یاده موضوع د ژبې په وګړمنځي برچار پورې اړه لري، چې په وینابیزه صحنه کې د وګړو تر منځ خپل منځي اړیکې څرګندوي، د ویناوال او مخاطب په تعامل او راکړه ورکړه بحث کوي. په دې سناریو کې که مخاطب معلومات وړاندې کړي وي مخاطب یې پوه کړی وي بیاني، که معلومات یې غوښتي وي ځان یې پوه کړی وي پوښتني او که حکم یې کړی وي د خپل نظر تحمیلول یې مقصدي وي امر او یا د خدماتو وړاندې کول دي. دا پوهاوی او را پوهای له ادراکي اړخه د بېلا بېلو زوایو او لیدلوریو څخه صورت نیسي، لاندې جملې وګورئ.

۱ـ که مطالعه وکړئ ذهن به مو پیاوړی شي. ـــ د وینال موخه: ( غوښتنه ده د امر په بڼه )

۲ ـ د ذهني پیاوړتیا لپاره مطالعه وکړئ. ـــ د ویناوال موخه : ( معلومات وړاندې کول د امر په بڼه )

۳ ـ د ذهني پیاوړتیا لپاره مطاله کوم. ـــ د ویناوال موخه: ( د معلوماتو وړاندې کول )

۴ ـ اوس کولای شئ په وړیا ډول د کتابکور اداري په کتابتون کې د خپلې ذهني پیاوړتیا لپاره ارزښتناک کتابونه مطالعه کړئ. ـ د ویناوال موخه: ( د خدماتو وړاندې کول دي ، نه امر )

پورتنۍ ټولې فقرې په وینابیز فعالیت کې د تفهیم وړ ګرځي. که پاس جملې په دقیق ډول وګورئ کله پوښتنه د امر په بڼه، کله غوښتنه د پوښتنې په ډول، کله امر د خدماتو وړاندې کولو په ډول، کله معلومات وړاندې کول د مخاطب له لوري د تائید په موخه، کله پوښتنه د خپل چلن د ښکاره کولو په بڼه ... او داسې نورو موخو لپاره ویل شوي دي. د ( بیان، امر او پوښتنې) سناریو د دودیزو ګرامرونو غوندې په مطلق ډول د معلوماتو وړاندې کول، پوښتنه او امر کول نه دي، بلکې د ویناوال لیدلوری ته په پام له مخاطب سره د تفهیم ګڼې اړیکې جوړوي. همدا علت دی چې بن ونیست او ګیوم ویناوال د فزیکي ویناوال ( زه ) سربېره د وینا یوه مهمه برخه ګڼي. فکر وکړئ په وینا ژبپوهنه کې ویناوال داسې رول لري، لکه د سوسور په ژبنۍ تیورۍ کې لانګ او د نام چامسکي په تیوري کې پراډایم. استاد ښکلی لیکي: « بن ونیست وینا له مختلفې زاویې مطالعه کړه او هغه په وینا کې « زه» د ذهنیت را برسېرېدنه ده. نوموړي وینا د ( زه ، اوس او دلته ) په مثلث کې

مطالعه کړه. دا هماغه ځيز دی، چې کوليولي ورته د وينا وضعيت وايي. ›› ( ښکلی ، ۱۴۰۰ ل: ۱۵۳ )

د وينايز فعاليت په لاندې بڼه کې د ( بيان، امر او پوښتنې ) مثلث ته پام وکړئ، چې له نورو مثلثونو سره کومې اړيکي لري.




(۱_۴)

د ، بيان، امر او پوښتنې ، سناريو کې د معلوماتو د اخيستنې او ورکولو پروسه صورت نيسي استاده حميدزۍ د حسن بازوبندي په حواله په خپل اثر ( نظريه های زبانشناسی) کې ليکي: ‹‹ د معلوماتو ورکولو پروسې ته ، giving، او د معلوماتو اخيستنې پروسې ته ، demanding ، وايي. د تعامل په برخه کې دوه تنه ، ليکوال/ ويونکی او مخاطب، او يا له دې ډېر دخيل وي، چې تر منځ يې خبر، معلومات او خدمات تبادله کېږي.›› ( حميدزی ، ۱۴۰۲ل : ۱۴۵)

دلته غواړو د بيان، امر او پوښتنې سناريو په لاندې برخو کې تر بحث لاندې ونيسو.

۱ ـ د اوب له اړخه. ۲ ـ د فروفايل جوړونې او تمرکز له اړخه. ۳ ـ د ويناوال د چلن له اړخه

۴ ـ د وجې له اړخه

**۱ ـ د اوب له اړخه د بيان، امر او پوښتنې سناريو:** وينا کړ ځانګړی ژبنی چاپيريال لري، د هغې ځانګړنو ته په پام خپل مفهوم پيدا کوي. نو هغه اړخ چې وينا د بهرنيو شرايطو سره په پام مفهومي کوي اوب ، قرينه ، بلل کېږي. استاده حميدزۍ ليکي: ‹‹ د لېچ په باور د بافت مفهوم په دې دليل مطرح شو، تر څو ژبه د ذهني فعاليت له ساحې څخه را وباسو او په هغه مشاهدې او علمي ازموينې وشي. دا نظريه په حقيقت کې هغه عيني چاپيريال ښي، چې ژبه په هغې کې د استفادې وړ ګرځي، ډېرې چارې چې د ژبې سره کومک کوي په هغه موقيعت کې ترسره کېږي.›› ( حميدزی، ۱۳۹۸ل: ۱۱۳ )

اوب په دوه ډوله دی: **الف** ـ ژبنی **ب** ـ نا ژبني/ چې نا ژبنی اوب بیا په دوه برخو ویشل شوی دی:۱ـ موقیعتي.
۲ ـ فرهنګي
د وګړمنځي برچار له مخې یو ژبنی تعامل چې د ویونکي او مخاطب / ویونکي او څو مخاطبانو تر منځ په ژبنیو اړیکو بحث کوي هم له موقیعتي او فرهنګي اړخه مانیز بدلون پیدا کوي. لاندې بېلګو ته پام وکړئ.

۱ـ لرې شه، پړی راغی.

۲ ـ زیری مې در باندې ملګري سرخ رویه را وګرځېدل.

پورتنی فقرې په خپله فرهنګي قرینه کې مفهوم پیدا کوي. په لومړی کې د امر په بڼه وینا په چلنیز ډول وړاندې شوې، چې هدف ترې ، مار راغی لرې شه، چې وې دې نه چیچي ، په دویمه کې معلومات یوازې د بیان په ډول نه دي وړاندې شوي، بلکې کړ هم ورسره ملګری دی او د بیان کړ رنګ یې خپل کړی دی ( سرخ رویه) زموږ په فرهنګي قرینه کې د کامیاب کس لپاره ویل کېږي. استاد ښکلی لیکي : ‹‹د لنګکر په اند وینا کړونه پر معیاري کلتوري ماډولونو ولاړ وي، دا ماډلونه په ټولنیز تعامل کې را ښکاره کېږي او د بېلا بېلو ژبنیو موخو لپاره په ادراکي حوزو کې کار ترسروي.

لاندې فقرې د مهال او مکان په موقیعتي اوب کې د بیان کړ له زوایې وګورئ:

۱ ـ هغه بله راکړئ.

۲ ـ را اخلم یې.

۳ـ کولای شې هغه راکړې؟

۴ـ دغه درکړم ؟

۵ ـ شرط ترې چې دا ښه ده.

٦ ـ ته قول راکړه، چې ښه ده.




( ۱ـ ۵ )

پورتنۍ ټولې فقرې د موقیعتي قرینې له اړخه د ( پېر او پلور ) په ژانر کې مفهومي کېږي. یا به د لباسو دوکان وي، یا د قرطاسیې، یا به نانوایي وي ..... یا نور. همغه موقیعت ته پام پورتنۍ فقرې مفهومي کېږي. که یې د لباسو دوکان فرض کړو؛ نو د پېرونکي او پلورونکي تر منځ د ( امر، بیان او پوښتنې) سناریو په داسې ډول رامنځته کېږي چې بالفعل عمل هم ورسره ملګری دی. په لومړۍ جمله کې هم په امري وجه کې بیان له کړ سره یو ځای رامنځته شوی، د خولۍ انتخاب کوي، چې هغه سره خولۍ راکړئ. که پېرونکی ورته ووايي، چې بېره مې ده؛ نو پلورونکی به ووايي ‹را اخلم یې›. دلته یې د بیان کړ له زاویې معلومات پېرونکي ته ورکړي دي. په درېیمه جمله کې امر د غوښتنې په بڼه شوی. په څلورمه فقره کې ‹ دغه › اشاره همغه شي ته چې د مشتري هدف دي او ‹ درکړم › فعل دی، چې د پوښتنې په بڼه رامنځته شوی. په پنځمه جمله کې هم وینا شوې او هم د جنس د ښه والي لپاره په شرطي بڼه کړ رامنځته شوی دی. په شپږمه جمله کې بیا هم د بیان کړ له اړخه هم د ‹قول › فعل تر سره شوی، چې د جنس د ښه والي پرې تائیدیږي او هم د جنس د ښه والي معلومات وړاندې شوي دي. استاد ښکلی لیکي: «په وینا کړونو کې له فرهنګي اوب ها خوا موقیعتي اوب او شرایط هم مهم دي، څوک په ښادۍ کې د تسلیت وینا کړ نه کوي او په غم کې د مبارکۍ وینا کړ. آستین په دې اند ؤ چې بریالی وینا کړ ( ۴ ) معیاره لري: ۱ ـ د ویناوال او اورېدونکي تر منځ هوکړه وي، چې له مخې یې ویناوال په ټاکلو شرایطو کې ټاکلی وینا کړ وکړي. ۲ ـ هوکړه باید په خپل موقیعت او ځای کې وکارېږي، مثلاً که چا ته امر کوئ، باید له ټولنیز پلوه تر تاسې په ټیټ دریځ کې وي. ۳ ـ هوکړه باید له هیلې سره سمه تر سره شي. مثلاً له چا نه ښښنه غوښتل باید په سمه بڼه وي . ۴ ـ هوکړه باید بشپړه وي، مثلاً غوښتنه کې باید دوه اړخه موجود وي.» ( ښکلی، ۱۴۰۲ ل: ۳۴۷ )

۲ ـ **د فروفایل جوړونې او تمرکز له اړخه:** که ویونکی د فقرې یو توکی یا یوه برخه فروفایل کړي، په هغه تمرکز وکړي، فقرې ورسره مانیز بدلون پیدا کوي. فروفایل جوړونکي توکي معمولاً د فقرې سر ته راځي. د بېلګې په ډول لاندې فقرو ته پام وکړئ.

| بیان | پوښتنه | امر |
|---|---|---|
| زه کتابونه راوړم. | نن شپه سپوږمۍ تندر نیسي؟ | ته او احمد دواړه راشئ. |
| کتابونه زه راوړم. | سپوږمۍ نن شپه تندر نیسي؟ | احمد او ته دواړه راشئ. |

د بیان کړ له زاویې څخه پورتنۍ درې ډوله فقرو کې د ویناوال موخه او تمرکز معلومیږي. د بیان په فقرو کې لومړی ‹ زه › او دویم ‹ کتابونه › فروفایل شوي. د لومړۍ فقرې هدف دا دی چې بل کس کتابونه نه راوړي،‹ زه › یې راوړم. دلته د کتاب راوړونکی

کس معلوم شوی. په دويمه فقره کې( کتابونه ) فروفايل شوي، يعنې د وېناوال موخه دا ده، چې بل شی ( قلمان، کتابچې ، خط کش او نور ) نه راوړوم، کتابونه راوړم . پوښتنيزو فقرو کې د آهنگ له مخې که په ( نن شپه ) تمرکز وشي، هدف يې دادی، چې بل وخت سپوږمۍ تندر نه نيسي او که ( سپوږمۍ ) تمرکز وشي هدف به يې دا وي چې بله سياره يا لمر تندر نه نيسي او همدا ډول د امر په فقرو کې وينو چې لومړی په (ته ) او په دويمه کې په ( احمد ) تمرکز شوی. څوک چې لومړی فروفايل شوي په هغه د وېناوال ډېر کار ورېند دی . له دې ښکاري چې وينا کړونه د فروفايل له اړخه هم مانيز بدلونونه مني.

**۳ ـ د وېناوال د چلن له اړخه د بيان، امر او پوښتنې سناريو:** اورېدلي به مو وي چې ځينې کسان وايي: (( له خبرو يې ښکارېده، په غوصه و. )) له دې ښکاري چې په ژبني تعامل کې د وېناوال چلن هم د مانيز اړخه د سناريو لوری بدلوي. دا چاره د وينا کړ له زوايې په چلنيزو فعلونو کې هم تر سره کېدلای شي. تر ډېره په مکالمه يي بڼه کې را ښکاره کېږي. لاندې ديالوگ ته پام وکړئ.

- چای واچوه!
ـ دغه دی صيب.

دروازه خلاصه شوه، په ونه ډنگر، پاڼه په لاس کس وويل:

ـ اجازه ده!
ـ يو خو تاسو پوزو ته راوستي يو، يوه شېبه ارام کوم .
ـ که نه وي ورسته به راشم.
ـ ماغزه مې مه راخوره، وايه څه خبره ده؟
ـ که لطف وکړئ، دغه غوښتنليک راته امضاء کړئ.
ـ پاڼه کېږده، يوه بجه يې بيا پوښتنه وکړه.
ـ سمه ده، مننه.

شېبه وروسته پنځه کس په دروازه راننوت، احمد له چوکۍ پورته شو، مخې ته ورغئ له ستړي مشي او روغبړ وروسته يې ورته وويل:

ـ چې دا لمر له کومې خوا را وخوت؟
ـ هله لطيفه! ښه د زعفرانو چای راوړه.
ـ احمده! سخته ناروا مو شروع کړې، آخر اداره مجبور شوه د پلټنې لپاره يې درته راولېږم.
ـ نه نه صيب مور. څه نه دي کړي، هسې تاسې ته اوآزې درځي.
ـ اوازې مه اوازې پرېږده! دغه استعلام را ځواب کړه.

پورتنی ډیالوک د وګړو په وړاندې د یوه دفتري کس چلن ښيي، موږ د دفتري کس له خبرو څه په وینا کې پوهېږو چې لومړی خبرې یې له ملازم سره کړې، په آمرانه لهجه یې ورته ویلي چې چای واچوه. دویمي مکالمه یې له مراجع سره کړې، چې په دې کې هم آمرانه انداز پروت دی. ولې بلمقابل د راغلي مراجع له خبرو ښکاري، چې دی خپل آمر ته راغلی، نو ځکه ډېره احترامانه غوښتنه ترې کوي، وايي:« که لطف وکړئ دغه غوښتنلیک راته امضاء کړئ.» له مکالمې ښکاري چې لومړني دواړه کسان د آمر تر لاس لاندې دي، چې یو یې ملازم او بل مراجع دی. له درېیم کس سره یې چې کومې خبرې کړي دي، له دې ښکاري، چې د موقف له مخې د دفتري کس څخه لوړ کس دی، نو ځکه تشریفاتي او احترامانه چلند ورسره شوی دی. له دې ښکاري چې د بیان، امر او پوښتنې سناریو موږ ته د ویناوال چلند هم معلوموي.

**۴ ـ د وجې له اړخه د امر، پوښتنې او بیان سناریو څېړنه:**

وجه په ژبني تعامل کې د ویناوال موخه ټاکي، چې په وګړمنځي برچار کې د حاضرو وګړیو تعامل راته په ګوته کوي. استاد ښکلی لیکي: « د وګړ منځي نقش مطلب مازې د جملو او کلمو کارونه نه ده، بلکې موخه له وینایيزې ټوټې سره د ښنو تړښت دی، چې په ژبني تعامل کې د ښکېلو وګړیو تمایلات، انګېرنې، ننګېرنې او لومړیتوبونه را برسېره شي .» ( ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۳۹ )

وجه د همدغه وګړمنځي برچار یو مهم اړخ بلل کېږي، چې په واسطه یې د ویناوال مقاصد او تمایلات ښودل کېږي. داکتره حمیدزی لیکي: (( هالیدي د فقرې په سطحه هر جوړښت ، چې په ځانګړي ډول بیان یا ګرامري ښکارندې ته وینایز نقش ورکړي وجه نوموليې ده )) ( حمیدزی ، ۱۳۹۸ل: ۱۴۶)

وجه یو له هغو جوړښتونو څخه دی، چې له یوه اړخه په وینایيز فعالیت کې د وګړو تر منځ متقابل کردارونه راښيي، له بلې خوا جملې ته له زماني اړخه د کارونې په ساحه پورې ارتباط ورکوي. د وجه له مخې بیان په درې ډوله دی.

الف: خبري وجه. ب : پوښتنیزه وجه. ج : امري وجه

په خبري او پوښتنیزه وجه کې د معلوماتو د لېږد او غوښتنې چاره تر سره کېږي، چې په ژبني چاپېریال کې ډېرې د ارزښت وړ دي او په ژبه کې لومړنی نقش لري. امر په ژبه کې د امر او وړاندیز په بڼه راځي چې په ژبه کې دویمي نقش لري.

**الف ـ خبري وجه:** له نامه یې ښکاري چې مخاطب ته معلومات ورکوي. استاد ښکلی لیکي: « د دې وجهې لومړنی چار( نقش ) مخاطب ته د خبر یا معلوماتو لېږد دی.» (

ښکلی ، اجمل: ۱۴۰ )
خبري وجه په خبري، التزامي او په نامستقیم ډول د غوښتنې لپاره هم راځي.
په دقت سره کتاب لولم.
لوړ وینو، چې له خبري وینا سره همهاله فعل هم رامنځته شوی او مخاطب ته یې معلومات انتقال کړي دي

**ب ـ پوښتنیزه وجه:** په پوښتنیزه وجه کې له مخاطب څخه د معلوماتو غوښتنه کېږي. دا معلومات به یا د هو او نه په ځواب تر لاسه کوي او یا به په منځپانګیز ډول. د بېلګې په ډول لاندې جملې د پوښتنیزې وجې له مخې تحلیلوو.

۱ ـ فهیم راغی، ته راځې؟
په پورته جمله کې د وینا په چلنیز فعل کې پوښتنه رامنځته شوی ده.
یادونه: آهنګ هم کولای شي چې په لفظي بڼه یوه بیانه ( خبري) فقره په تعجبي او پوښتني بدلوي. مخاطب کولای شي د ویناوال آهنګ ته په پام له ویل شوې فقرې څخه مفهوم واخلي. ددې ډول فقرو مانیز بدلون یوازې په آهنګ پورې تړل شوی دی. که په هوار آهنګ سره وویل شي بیاني که په ټیټ پیل او لوړ پای ته ورسیږي پوښتنیز او که په لوړ پیل او ټیټ ختم شي تعجبي فقره جوړوي.

احمد راغی.
احمد راغی؟
احمد راغی!



**ج ـ امري وجه:** په دې وجې سره مستقیمه غوښتنه، امر او د خدماتو وړاندې کول تر سره کېږي. استاد ښکلی لیکي: «فقره په دې وجه کې د وکړه( امر) یا مه کړه( نهې ) په بڼه وي. نقش یې له مخاطب نه د شیانو او خدمتونو غوښتنه او په ټوله کې فرمان دی.» (ښکلی ، ۱۴۰۱ ل : ۱۴۱ )

لاندې فقرو ته پام وکړئ، چې په امري وجې سره کومه چاره تر سره کوي:
۱ ـ دلته راشه.
۲ ـ کولای شې راشې.
۳ ـ اوس کولای شئ په وړیا ډول د ژمني کورسونو لپاره په کابل سنټر کې داخله وکړئ.
۴ ـ که کړکی پورې شي ښه به وي.
پورته فقرو کې وینو چې امري وجه په لومړی فقره کې د امر ( فرمان) په بڼه، دویمه کې د اجازې په بڼه او په دریيمه کې د خدماتو د وړاندې کولو په بڼه او څلورمه د وړاندیز په بڼه

راغلې ده.

**پایله**

د وینا کړ او ژبني تعامل له اړخه د بیان، امر او پوښتنې سناریو په ادراکي ژبپوهنه کې بېلا بېل مفاهیم ښکېل ویناوال یا مخاطب ته لېږدوي. دلته مفهومسازي او تعبیر په چلن او وینا کې نغښتی، په چلنیزو فعلونو کې د ویناوال له خوا کړه وړه تر سره کېږي. له یوه اړخه د مخاطب او یناوال په ژبني فعالیت مو خبروي، له بلې خوا د مسایلو په وړاندې را ته د ویناوال چلن، دروني تمایلات، لیدلوری او موخه روښانه کوي. نو یاده موضوع د ادراکي او چاروالې ژبپوهنې له اړخه یو مهم بحث دی، چې په وسیله یې وینا بېلا بېلا تعبیرونه او مفاهیم پیدا کوي.

**اخځلیکونه**

حمیدزی، راحله، ۱۳۹۸ل، گداز مقوله ومیزان به دستور نقش گرایی نظام هالیدی، کابل: نشر کابلستان.

حمیدزی، راحله، ۱۴۰۲ل ، نظریه های زبانشناسي، کابل : سمون خپرندویه ټولنه .

ښکلی، اجمل، ۱۴۰۰ ل، د وینا ژبپوهنه، کابل : دانش خپرندویه ټولنه .

ښکلی، اجمل، ۱۴۰۱ ل، د ژبپوهنې نظریې، کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل ، ۱۴۰۲ ل، د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو گرامر څېړنه: د پوهاندی ناچاپ اثر.

Napoleon Jr . Mahoney macaque, ۲۰۱۸, speech act theory from Austin to Searle:

Publication or A Journal for Humanities, social sciences, Business and Education.

## په فرهنګي بډاینه کې دڅېړنیزې مقالې ارزښت

عبدالحنان عصمت[۱]

**لنډیز**

دا چې څېړنیزه مقاله دڅېړنې داصولو سره سمه لیکل کیږي اودڅېړنې اصول پکې مراعاتیږي، نو له همدې امله په فرهنګي بډاینه کې دڅېړنیزې مقالې داهمیت اوارزښت په اړوند دهراړخیزو معلوماتو راټولول اوددې موضوع داهمیت په ډاګه کول ضروري دي، او په دې مورد په عامه توګه دځینو پوهانو نظریات را نقل کول به بې ځایه نه وي، ترڅو دفرهنګي بډاینې په اړوند دڅېړنیزې مقالې لیکنې اسلوب دلوستوونکو اوشاګردانو په وړا ندې په ښه توګه آسان شي، اودپښتوادب دبډاینې په مقصد او په ځانګړې توګه دڅېړنیزو مقالو دفن په اړوند تري لنډ لنډ اوپه زړه پورې معلومات په آسانه توګه ترلاسه کړل شي، لازمه ده چې دڅېړنزو مقالو په برخه کې دپام وړ کار وشي، اوزه هم دهمدې مقصد پراساس غواړم چې دځوانو لیکوالو پام د پښتو ژبې ادبیاتو بډاینې خوا ته را وا ړوم؛ ترڅو زمونږ ملي ادبیات له تیوریکي پلوه هم قوي شي، اوپه عامه توګه دملي ژبو لیکنې دقواعدو اوضوابطو مطابق ترسره شي، او دا لړی د ټولو لیکوالانو ترمنځ جریان پیداکړي، د ملي ژبو لیکنیز آثار دنړېوالو لیکنیزو آثارو په قطار کې ښه ځـای ومومـي، له زیاتو کوششونو سره سره بیاهم د دې دعوه نه کوم چې نورومخکینیو لیکوالانو څخه به مې ښه لیکنه کړي وي، نو له همدې امله له هغو نظر خاوندانو او پوهانو څخه مخکې له مخکې بخښنه غواړم چې په دې مورد یې نه ستړې کیدونکې کوششونه او هلې ځلې کړي دي.

**آر وییونه:** مقاله، څېړنه، فرهنګ، بډاینه، ارزښت.

**سریزه**

که څه هم داسلامي مقدساتو د ارزښتونو په نظرکې نیولوسره دپښتو ژبې ادب اوفرهنګ

---

[۱] - د کابل پوهنتون د عربي څانګې پوهنوال استاد

برېښنالیک: h.esmat۵۲@yahoo.com

شمېره: +۹۳۷۰۰۰۳۰۸۸۸

دبډاینې لپاره فرهنګي ټولنو زیاتې هلې ځلې کړي دي؛ خو دڅېړنې په برخه کې اوبالخصوص دڅېړنیزې مقاله لیکنې په اړوند لازمه ده چې په ښه توګه پاملرنه ورته وشي، اوزما په نظر دمقاله لیکنې هنر ډیر مهم دی، ځکه چې د وخت سره سم دلیکنې چوکاټ دهر اړخیزو معیارونو په پام کې نیولوسره دپوهانو افکار اونظریات ټولنې ته دهمدې څېړنیزو مقالو له لارې وړاندې کیږي، نو له همدې امله په دې لیکنه کې په مختصره توګه دمقالې تعریف، په فرهنګي بډاینه کې په بشپړ توګه دڅیړنیزې مقالې ارزښت، مناقشه، پایله او په آخرکې مأخذونه بیان شوي دي.

**دموضوع اهمیت**

دموضوع اهمیت په دې کې دی چې نیغ په نیغه یوقوم ارزښت پورې اړه لري، دیوقوم اویوې ټولنې ارزښتونه دلیکنېپه ذریعه ښه ساتل کیږي، نولیکنه باید له اصولو سره سمه ترسره شي ؛ ترڅود ارزښتونو میراث راتلونکو نسلونوته په ښه توګه ورانتقال شي.

**۱-۱- فرضیه او دتحقیق سوالونه**

بدون له شکه چې پښتو ژبه یو له اریایي ژبوڅخه ده، نو ددې ژبې فرهنګي بډاینه څنګه کیدلای شي؟

ایا په پښتو ژبه کې تحقیقي مقالې لیکل شوي دي؟ ایا په پښتو ژبه کې دڅیړنیزې مقالې ارزښت شته؟ ایا دڅیړنیزو مقالو له لارې پښتو ژبه بډایه کیدای شي؟

**د موضوع موخې**

بې له شکه چې لیکنې دځانګړو موخو پر اساس ترسره کیږي، ددې لیکنې ځینې موخې په لاندې توګه دي:

۱- دپښتو ژبې بډاینې په پار د څېړنیزو مقالو ارزښت برملا او څرګندول دي.

۲- دفرهنګي بډاینې په پار په پښتو کې علمي منابع زیات شي؛ ترڅو راسپارل شوی امانت په ښه توګه راتلونکي نسل ته ورانتقال شي.

۳- دفرهنګي بډاینې په اړوند په دقیقه توګه دڅېړنیزو لیکنو تنظیمول؛ ترڅو دعلم مینه وال په اسانه توګه خپل معلومات ترلاسه کړای شي.

**د موضوع په اړوند مخکنی لیدلوری**

د فرهنګي بډاینې په مقصد که څه هم ډیر کارونه شوي دي اولیکوالو لیکنې کړي دي؛

خو دفرهنګي بډاينې موضوع داسې موضوع ده چې ډېر څه ته اړتيا لري او بايد په مختلفو اشکالو کار ورته وشي، نوماهم دهمدې مقصد په اساس (په فرهنګي بډاينه کې دڅېړنيزې مقالې ارزښت) ترعنوان لاندې مقاله وليکله ترڅو د راتلونکي نسل لپاره يوه ښه مرجع وګرځي او په اسانۍ سره ورڅخه ګټه واخلي.

**په مختصره توګه دمقالې تعريف**

مقاله هغه ليکنه ده چې ديوې ځانګړې موضوع په باره کې ليکل شوي وي، اوپه مستقله توګه او يا په ورځپاڼه اومجله کې خپريږي، ښاغلی ماحوزي ليکي: کيدای شي چې مقاله دکتاب يوې برخې اويا يوڅپرکي ته هم شامله شي(ماحوزي، ۱۳۷۱ل:۳۴۱مخ). دپورتني مطلب په تاييد سره ښاغلی همت ليکي چې: مقاله دمعلوماتو مفصل مضمون او دکتاب يوه برخه يايو باب اوفصل ته هم وايي (همت، ۱۳۸۵ل:۲۸٦ مخ).

ښاغلی حيدري ليکي چې: مقاله ديوې خاصې موضوع په باره کې هغه ليکنه ده چې علمي، ادبي، تحقيقي، مذهبي، انتقادي اودليکنې داسې نورو ورته ډولونو کې شا مليږي، يا په بل عبارت: مقاله هغه ليکنه ده چې دليکونکې لاسته راوړنې يا نظريات په يوه موضوع ياخاص مورد کې لوستونکو ته انتقالوي، په دې وسيلې سره يوه مهمه نکته دتحقيقاتو، ازميښتونو اويا دخپلو شخصي عقايدو په استناد روښا نه کوي، يا ديوې ادبي، اجتماعي، سياسي، تربيتي او ... نظريې په باره کې دخپلې عقيدې اظهار اوڅرګندونه کوي؛ ترڅو لوستوونکي له هغې موضوع څخه واقف او خبر شي (حيدري، ۱۳۸۰ل: ۲۵مخ).

مقاله ليکنه که څه هم په خپل ذات کې ډېر مشکل کارنه دی مګر داچې هرهنر ځانته اصول لري، نوځکه ښاغلی مصري ليکي چې: دا نشاء يامقاله ليکنې کار سخت نه بلکې يوآسان اوخوندورکارهم دی، خو په دې شرط چې ددې لوړ او ارزښتناک فن د يادولو - زده کولو - لپاره دزړه له کومې ملا وتړو، او د دې زړه وړونکي فن په چاپيريال کې په شوق اورغبت سره ګامونه پورته کړو؛ ترڅو د ذهني قوت اواستعداد په مرسته ښه فکر اوښه ليکنه وکړو(مصري، ۱۳۷٤ل: ۱۰ مخ).

بې له شکه چې مقاله دنثري ليکنې له ډولونو څخه ده اود يوې خاصې موضوع په مورد مسايل پکې مطرح کيږي؛ نوپه دې اساس ډاکتر سيروس شميسا ليکي چې: مقاله په دوه ډوله ده يورسمي (Formal) او بله غير رسمي(Informal) نوموړی زياتوي چې:

رسمي مقاله په خاص نظم اومیـتود اوخاصه پوهه، تقریباً په فني شکل مطرح کیږي، لوستوونکي یې دفاضلانو اوحضراتو له جملې څخه وي، په غیر رسمي مقالو کې چې زیاتره دخودمانی جنبه لري اولیکونکی پکې په جدي توګه مطلب نه رانیسي اوهڅه کوي چې په عادي اوآشـنا لحن خپل مطالب په عام فهمه ډول مطـرح کړي (شمیسا، ۱۳۸۳ل:۲۸۱ مخ).

**په عامه توګه دمقاله لیکنې ارزښت**

دا چې مقالې معمولا په مجلو کې چاپیږي او مجلې هم خپل ډولونه لري او بدون له شکه چې په هره سطح کې مجلات په بنسټیزه توګه لوستونکوته دمعلوماتو ورکولو لپاره لیکل کیږي، او دمجلو لوستونکي هم مختلفې طبقې لرې، هرڅوک غواړي چې خپل معلومات زیات کړي، نو همدا لیکنې دي چې د وګړو دمعلوماتو زیاتولو لپاره ټېر وهي، که څه هم رادیو، تلویزیون انترنیت او الکترونکي معلومات ورځ په ورځ دپرمختیا په حال کې دي او ډیر مهم هم دي؛ ځکه چې ټولنې اوعلاقه مندانوته ډیر زر مطلوب معلومات رسوي، خو دمجلې اوبالخصوص دڅیړنیزې مقالې ارزښت په خپل ځای کې ساتل شوی دی، چې ډیر لوستوال یې دمهمو اسنادو په توګه په شخصي اویا دولتي ارشیفونوکې خوندي کوي، دپلټنو پر بنسټ ثابته شوې ده چې هرلیکوال هغه لیکنې ډیرې خوښوي چې په روانه سلسه توګه ولوستل شي، د ناسمې لیکنې له امله پکې ډوبک ډوبک نشي، نو په دې خاطر مقاله باید په غوره علمي محتوی سربیره په ښه او مزین ډیزاین، ښکلا، کیفیت او صحافت سره لوستونکوته وړاندې شي.

په دې کې شک نشته چې په عامه توګه دیوڅه شي لیکل اویا یې په صوتي وسایلو کې ثبتولو څخه موخه دهمیشه لپاره دهغه ثابتول اوساتل وي، که مونږ په دقیقه توګه دېته متوجه شو چې پښتون قوم به له کومو وختونو اوله کوم ځای او په څه ډول پښتو ژبه زده کړي وي؟ هیڅوک هم داحکم په قطعي توګه نه شي کولای، که چا څه نظریات هم وړاندې کړي وي ترهغه دچا زړه داطمئنان اوبه پرې نه څښلي چې ترڅویې په کومه بله معتمده مرجع باندې حواله نه وي ورکړي، داچې نن مونږ دپښتو شفاهي ادبیاتو په اړوند یادونه کوو داهغه موضوعات یادي چې دڅه مودې راهیسې لیکل شوي دي، یعنې دشفاهي ادبیاتو په موردهم زمونږ اعتماد اواستناد په همغو لیکل شویو آثارو باندې دی، که

نه دابه ډیره ګرانه وای چې تراوسه پورې شفاهي ادبیات په همغه بڼه ساتل شوي وای.

امکان شته چې پښتـنو به ډېرې سرښندنې او افتخارات ترسره کړي وي، خو د اوسني وخت پوهان په اطمئناني توګه یوازې په همغه اندازه معلومات لري چې کوم په پاڼو کې ثبت شوي دي، اوکه د دوی معلومات د اټکل له مخې زیات شي بیاهم په مکمله توګه ترهغه پورې دشک په مقابل کې د زړه دوا نه شي کیدای چې ترڅویې پرکتبي اسنادو باندې اعتماد نه وي کړی؛ نومعلومه شوه چې همدا لیکنه ده چې دقوم نوم، هویت، سرښندنې، ویاړنې، افتخارات، عنعنات، فرهنګ، دود اودستور ساتي او محفوظ کوي یې، په خاصه توګه ویلی شو چې څېړنیزې مقالې هغه لیکنې دي چې دټولنې په مختلفو موضوعاتو کې په دقیق اوصحیح ډول لیکل کیږي، د ټولنې دهویت اوفرهنګ ساتلو ترڅنګ په موثقه توګه دټولنې ژبه علمي کوي.

**د فرهنګ تعریف**

فرهنګ یا کلتور له یوې پخوانۍ یوناني کلمې (Culture) څخه اخیستل شوی دی، چې په یوناني ژبه کې دا کلمه دکرنې، څارنې اوپالنې په معنی ده، خوپه اصطلاح کې کولای شو کلتور داډول تعریف کړو: دیوې انساني ټولنې دود اودستور کلتور ګڼل کیږي، کلتورپه ټولنې پورې تړاو لري، چیرې چې انساني ټولنه موجوده وي، هلته به حتما کلتور وي، یعنې دانسان اوکلتور ترمنځ نه پریکیدونکې اړیکې موجودې دي او همدا کلتور دی چې دانسان په مادي او معنوي ژوند کې ځای لري، کلتور دانسان له پیدایښت سره سم رامنځته شوی دی.

کلتور ته فرهنګ هم ویل کیږي، چې په انګریزۍ کې ورته ( Culture ) وایي، او(Culture ) په حقیقت کې یوه فرنسوي اصطلاح ده، چې له لاتیني کلمې څخه مشتقه شوې ده، دزراعت په معنی ده چې دزمکې په طرف میل او توجه او د زمکې پرنمو، بډاینې او زیات کوشش دلالت کوي( Kim، ۲۰۱۷م).

دا هغه کړه وړه دي او هغه علامې او نښې دي چې یوه ټولنه له بلې ټولنې څخه بیلوي، لکه: ژبه، لباس، دین، ډوډۍ، اصول، ناسته ولاړه، رواجونه، هنرونه او داسې نور، یایې داسې هم تعریفولای شو چې: د وګړو ترمنځ پیژندګلوي اومشترک سلوک چې د دوی ټولنیز ژوند څخه ترلاسه کیږي فرهنګ ویل کیږي، فرهنګ دټولنې هویت مشخص

او تقویه کوي.

فرهنګ له هغو مادي او معنوي، فکري او عاطفي ځانګړتیاوو څخه عبارت دی، چې یوې ټولنیزې ډلې یا هم ټولنې ته هویت ور ښني چې ژبه، ادبیات، دیني باورونه، د ګډ ژوند لارې اود بشر حقونه په خپله غېږ کې را نغاړي، کلتور د یوه ملت ټول مادي او معنوي ارزښتونه احتوا کوي او یو پراخ مفهوم لري او تمدن یې مادي اړخ منعکسوي(www.reference.com، آب ۲۰۲۰-۰٤-۰٦) . کلتور دهغو افکارو، معتقداتو، اوښستونو یوه ټولګه ده چې په یوه ټولنه کې داسې راڅلیږي چې په رڼا سره یې له نورو ټولنو ځانګړې کوي او دا هغه عامل دی چې پر أفرادو باندې دسیاسي سلوکو د جوړښت لپاره په بنسټیزه توګه تأثیر کوي(العنزي، ۲۰۱۴م: ۳۸).

دهرقوم خپل عنعات او روزنیزې ځانګړتیاوې وي، مثلا: رسول الله-صلي الله علیم وسلم- په لاندې حدیث شریف کې دهرقوم ځانګړتیاوو ته داسې اشاره کوي: عَنْ عَائِشَةَ- رضي الله عنها- أَنَّ أَبَا بَكْرٍ- رضي الله عنه- دَخَلَ عَلَيْهَا وَالنَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عِنْدَهَا يَوْمَ فِطْرٍ أَوْأَضْحًى وَعِنْدَهَا قَيْنَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاذَفَتْ الْأَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ- رضي الله عنه- مِزْمَارُ الشَّيْطَانِ مَرَّتَيْنِ فَقَالَ النَّبِيُّ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَإِنَّ عِيدَنَا هَذَا الْيَوْمُ(البخاري، ۱۴۲۲هـ: ٦٧/٥). ترجمه: له عائشه- رضي الله عنها= څخه روایت دی، فرمايي چې دلوی اختر او یا دکوچني اختر په ورځ، دوو نجونودانصارو ترمنځ پیښې شوي بعاث په نوم جنګ سندرې ویلې او رسول الله- صلی الله علیه وسلم- هم حضور درلود، چې حضرت ابوبکر- رضي الله عنه- پرې رانوت، نو دوه ځله یې وفرمایل: ایا دشیطان شپیلۍ غږوئ؟ نورسول الله- صلی الله علیه وسلم- ورته وفرمایل چې ای ابوبکره! پریږده هرقوم عید او خوشحالي لري، زمونږ همدا دعید ورځ ده.

**د فرهنګ ډولونه**

فرهنګ مختلف ډولونه لري چې ځینې مادي او ځینې یې معنوي دي، نو په دې اساس ویلای شو چې فرهنګ په عمده توګه په دوه ډوله دی:

۱- مادي فرهنګ: مادي فرهنګ پرمادي شیانو او هغو ځایونو پورې اړه لري چې وګړي ورڅخه کار آخلي او د وګړو په پوهه، احساساتو او د دوی په مختلفو فرهنګونو په پیژندګلوۍ کې رول ادا کوي، یا: فرهنګ له ټولو هغه شیانو څخه عبارت دی چې دلیدلو

او لمس کولو وړ وي، لکه: هنري آثار، لاسي صنایع، تاریخي بناوې، خط، نقاشي، موسیقي او ټول هغو مادي لاسته راوړنو ته شاملیږي چې دهرې دورې ټولنه یې په میراث پریږدي(Kim، ۲۰۱۷م).

۲- معنوي فرهنګ: معنوي فرهنګ د افکارو اونظریاتو هغه مجموعه ده چې وګړي یې دمختلفو خپلمنځي رواجونو لپاره له ځان سره لري، لکه: عقاید، ټولنیز آداب، ارزښتونه، اوداسې نورمشترک کارونه، پوهان وایي چې معنوي فرهنګ دمادي فرهنګ اومشترکې ژبې ترڅنګ دټولنې په احساساتو، سلوکو او افکارو په جوړښت کې اساسي رول لري( Material، ۲۰۲۱م) فرهنګ د افکارو، ارزښتونو، موخو او هغو طریقو څخه عبارت دی چې یوه ټولنه، قوم، ډله، مؤسسه، تنظیم او فرد له نورو څخه ځانګړی کوي(Kim، ۲۰۱۷م).

**دفرهنګ ارزښت**

فرهنګ په ټولنه کې ډیر اساسي رول لري؛ ځکه چې دټولنې پرمختګ، دانفرادي اوټولنیز ژوند دحدودو ټاکل کیدو لپاره اساسي عامل بلل کیږي، فرهنګ دټولنې افرادو ته دټولنې پرمختګ احساس ورکوي، فرهنګ دټولنې په امن او استقرار کې مهم رول لري، دمختلفو ښارونو، کلیو او یومسیر ته منسوب شویو وګړو ترمنځ اړیکوکې سهولت رامنځته کوي؛ ځکه چې په یو فرهنګ کې سره شریک ټول وګړي په دوستانه توګه د ځانګړي تاریخ او آیډیولوژۍ احساس ویاړ لري، داهغه څه دي چې د دوی ترمنځ یوالی او اتفاق، دخپلو نیکونو تاریخ له معرفت اوپیژندګلوۍ سره یې اړیکې ټینګوي، فرهنګ په ډیره لوړه کچه وګړوته دزیاتو ټولنیزو موقفونو اوخپلمنځي پوهې، یوتربله دود، دستور او دګړو وړو، عادتونومراعتولو توان ورکوي، تردې چې یو وګړي ته له نورو هغومختلفوفرهنګونو سره چې دوخت په تیریدو تغییرات پکې راغلي وي دمشترک ژوند کولو توان ورکوي(www.reference.com، آب ۲۰۲۰-۰٤-۰٦)

فرهنګ یوڅو مهم عناصر لري چې له جملې څخه یې ارزښتونه او عقاید هغه مهم عناصردي چې یوه ټولنه دښو اوبد پربیلونې قادرولای شي؛ ځکه هر وګړی په ټولنه کې یوه اندازه هغه عقاید لري چې برحق یې بولي، ځینې نور کړه وړه یې بیا له نورو وګړو سره مشترک وي، فرهنګ دټولو باورونو، کړنو، علومو، ارزښتونو او موخو هغه اساس دی چې

دهرې ټولنې دژوند کولو شیوه ځانګړې کوي.

**دڅېړنیزې مقالې ارزښت**

د فرهنګي بډاینې لپاره ترټولو مهم کار د معیاري او څېړنیزو مقالو لیکنه ده؛ څکه چې په عربي ژبه کې متل دی: (العلم صید والکتاب قید) یعنې علم دښکار په شان دی، کتاب او لیکنه یې دلومې او رانیونکي په شان ده، لنډه داچې ترڅو دیوې ټولنې دفرهنګي بډاینې لپاره په مختلفو موضوعاتو کې لیکنې زیاتې نه شي دټولنې فرهنګ خوار پاتې کیږي، مثلاً دسراج الاخبار جریده چې په (۱۹۱۱م ) کال کې پیل او د پښتو ژبې لپاره یې په خپلو پاڼوکې په کتبي بڼه خدمت کړی دی، دپښتنو لپاره دڅومره زیاتې ستاینې وړګرځېدلې ده! ښاغلی زیور صاحب لیکي چې: (سراج الاخبار دپیل نه دوه کاله وروسته داخلاقیاتو په ستون کې د ژبې او دهغې داهمیت ترسرلیک لاندې یوه مهمه اوپه زړه پورې مقاله چاپ کړې ده، چې پکې دپښتو ژبې دملي توب په باب څرګندونې شوي دي، دموضوع داهمیت له مخې دامقاله دسراج الاخبار له اصلي متن څخه یوڅه دلته را اخلو: (یووخت د اروپایي هـیوادونو او دولتونو رسمي ژبه فرانسوي وه، تراوسه پورې هم ځینې سیاسي غوره مسایل او دسولې تړونونه په فرانسوي ژبه لیکل کیږي، دهند دولت چې دعثمانیانو پرضد له پیل او تاسیس نه ترډېره وخته پورې ټولې رسمي او دولتي چارې په فارسي ژبه ترسره کیدې، اوس په کار دي چې دخپلې ملي افغاني ژبې موضوع رامنځته کړو، چې زموږ اصلي موضوع ده، لومړی په دې باید پوه شوو چې هرملت اوقوم په خپلې قومي او ملي ژبې ژوندی دی، په دې توګه محمود طرزي پر(۱۲۹۶ش) کال دجوزا په دوهمه نېټه د(ادبیات ملي افغاني) ترکلیشې(عنوان) لاندې داسې لیکلي دي: " هرقوم به ادبیات خود زنده مي ماند، ملتي که زبان شان ازمحور خارج شود، هستي وموجودیت شان نیز نابود میګردد، محافظه زبان اصلي وفطرتي هرملت به درجهٔ محافظهٔ زندګي شان اهمیت دارد، مارا ملت افغان وخاک پاک وطن عزیزما را افغانستان میګویند، چنانچه عادات، اطوار واخلاقي مخصوص داریم زبان مخصوص را نیز مالک میباشیم که زبان را (زبان افغاني) میګوید، این زبان راباید مانند جان محافظت کنیم، در ترقي واصلاح آن جدا کوشش ورزیم، تنها مرد مان افغاني زبان نه بلکی همه افراد اقوام مختلفهٔ ملت افغانستان را واجب است که زبان افغاني وطن ملي خودرا یادګیرند، درمکتب های ما مهمترین آموزشها باید

تحصيل زبان افغاني باشد" (زيور، ۱۳۸۵ل: ۵۷- ۵۸ مخونه).

د فرهنګ په وده او پرمختګ کې د ټولنې ټول غړي خپل رول او ځای لري، د ژوند شرايط، سوله او جګړه، فقر او شتمني، پوه او ناپوهي او داسې نور... د يوه ملت او ټولنې په کلتور خپل مثبت او منفي اغېز لري.

کلتوري ټولنې د خپلو ناستو په ترڅ کې د يو ملت د ژبې، شعر او هنر د غوړېدا لپاره علمي ــ څېړنيز بحثونه کوي او د علمي بحثونو په پايله کې د خپل فرهنګ او کلتور لپاره ډېر څه په ميراث پرېږدي، او د همدغو فرهنګي ټولنو په وسيله ګڼ شمېر ځوان کادرونه او استعدادونه ټولنې ته وړاندې کېږي.

همدا ځوانان دي چې بيا د کلتوري ټولنو د پرمختګ او غوړېدا لپاره زحمتونه کاږي او په دې ډول د فرهنګ په وده کې خپل مسؤوليت اداء کوي.

نودفرهنګي بډاينې لپاره په مختلفو موضوعاتو کې دليکنو اوپه خاصه توګه دڅېړنيزو مقالو زياتوالی ډېرامهم دی، ښاغلی مرادي ليکي چې: که څه هم دمقالې دتهيه اوتدوين تاريخ اوورڅخه ګټه آخيستل دومره پخوانی ماخذ نه دی، يعنې په اتلسمه پيړۍ کې ــ دصنعتي انقلاب، دڅېړنې اوتحقيق دپراختيا نه وروسته - علمي مقالې له ځانګړي مقام اواهميت څخه برخمنې شوي دي، اما په شلمه پيړۍ کې وليدل شول چې مجلو اوخپرونو په روزافزونه اوچشمګيره توګه زياتوالی پيداکړ، د اوسنۍ پيړۍ په لومړيوکې د دورانې خپرونو تعداد دلسو زروعنوانونو په شاو خواکې برآورد شوی و، چې په دې آواخرو کې يې تعداد له يولک څخه اووښتی دی، که د دې خپرونو منځنۍ کچه په هرو دروماشتو کې وسنجول شي اوفرض کړای شي چې هره خپرونه په متوسطه توګه لس مقالې لري، دهرفصل په آخرکې به په ټوله نړۍ کې په مختلفو ژبو باندې يوميليون مقالې دانساني علم په مختلفو رشتوکې خپريږي.

ديادونې وړخبره داده چې د مقالې دحجم اوپراختيا له پلوه کوم څرګند حد او اندازه نه ده معلومه، ښاغلی فسايي دې مطلب ته وضاحت ورکوي او ليکي چې: مقاله هميشه په نثر باندې وي اوغالباً لنډه وي اوکله يې دلغاتو تعداد سلوته رسيږي خوکله اوږديږي اوحتی دکتاب حد اواندازې ته هم رسيږي (فسايي، ۱۳۸۰ل: ۲۷۵ مخ).

په څېړنيزومقالو کې زيات سوچ اوفکرته ضرورت دی ترڅوهغه اصطلاحات اوجملې

وکارول شي چې دلوستوونکودپوهې اومسلک سره برابرې وي، ډاکتر منصور ثروت هم په دې باب ليکي چې: دعلمي مقالې په ليکنه کې بايد توجه وشي چې مقاله دکومې ډلې لوستوونکو لپاره ليکل کيږي، ايا دغه لوستوونکي دنخبه ګانو اوعلماو له لومړني طراز اوکرښې څخه شميرل کيږي اوکه دليسانس اوډيپلوم په سويه دي؟ که دلومړنۍ ډلې څخه وي نوبايد دليکونکي انشاء درنده، محکمه، مستدله، مستنده او اشاره يي وي؛ ځکه چې دغه لوستوونکي ديوې لنډې اشارې په وسيله دليکونکي مقصد اومنظور ترلاسه کولای شي، دهمغه علم له مقدموڅخه ووزي، که له دوهمې ډلې څخه وي بايد زيات روښانه توضيحات اوهمدا راز ساده، روانه انشاء اومطلب ورته وليکل شي (ثروت، د.ت: ۱۰۱مخ).

ديوې علمي مقالې ارزښت په دې کې دی چې لوستونکی په آسانۍ سره وکولای شي چې منطق او استدلالونه يې وسنجوي، دپاراګرافونو له کتنې او دمقالې اصلي اوفرعي اجزاوو څخه دليکونکي فکر اوهدف په روښانه توګه پيداکړای شي (ماحوزي، ۱۳۷۱ل: ۳۴۳مخ).

له بله پلوه ښاغلی ګيوي څرګندوي چې: په علمي مقالوکې دکار اوهدف بنسټ په تخيل اوعاطفې نه بلکې په منطقي، استدلالي اوبرهاني دلايلو اوستنو باندې ولاړوي، ددې ډول ليکنو لارښود ذوق اواحساس نه بلکې عقل اوفکردی، ترپلټنې لاندې نيول شوې موضوع باندې لازمه احاطه اوآشنايي، په څېړنه کې دقت، په رپوټ او نقلولو کې امانت داري، دمطالبو په تدوين اوپيوستوالي کې دعمل صحت اودښې نتيجې لاسته راوړنې هڅه دمقالو او تحقيقي ليکنو له لوازمو اوشرايطو څخه ګڼل کيږي (ګيوي، ۱۳۸۳ل: ۱۲۹مخ).

څېړنيزې اوتحليلي مقالې چې دعلمي مقالو په قطار کې راځي بايد د اوسني دور سره سم دهغو ځانګړتياوو لرونکې وي چې ليکوالانو په مختلفو ليکنو کې توضيح کړي دي، مثلاً ښاغلی ګيلاني ليکي چې: څېړنيزې مقالې هغه ليکنې دي چې څېړونکی پکې دخپلې څېړنې جريان اومحصول بيانوي، په دغومقالوکې لازمه ده چې ديوپيغام يا نظر، دعوی اوياهم کم ترکمه ديوتازه اونوي بيان لرونکې وي، په داسې مقالوکې بايد دڅېړونکي برخه مشخصه اومعلومه شي چې اياڅېړنه بې سابقه ده - مطلب داچې مخکې خو نه وي ترسره شوي- اوکه سابقه داره –پخونۍ- ده؛ نوکه پخوانۍ وي دا بايد څرګنده شي چې څېړونکی دمخکينيو څېړنو نتايج تکميلوي اوکه اصلاح کوي يې، اويايې په نويودلايلو اوشواهدو

سره تائيدوي، ياېې ردوي، په هرصورت قاعده داده چې بايد سوابق وړاندې کړل شي اوله نظره تيرشي، په دې شان بايد څېړنيزه مقاله له ځان سره يو ډول نوې خبرې ولري، دڅېړونکي برخه، ددې برخې کچه اونوعيت مشخص شي، همدا راز بايد څېړنيزه مقاله مستنده وي، منابع يې معتبر، موثق اودښه اصل لرونکي وي، مثلاً: هغه متن چې نقل قول ترې کيږي که دېخوانيو متونو له جملې څخه وي نوبيا ښه مطمئن اوپه انتقادي توګه تصحيح شوی متن اويا خطي نسخه وي، همدا راز بايد هڅه وشي چې نقل قول په مستقيمه توګه، داول لاس له منابعو څخه ترسره شي، په دقيقه توګه دماخذونو ادرس اوحواله وښودل شي.

څېړنيزاثر بايد استوار، منظم مرتب اومناسب جوړښت ولري، د اسلوبو له مخې تبويب – په بابونو وويشل شي- فصل بندي شي، ژبـه يې له معياري ژبې څخه لرې نه شي، ابهام اوپيچيدګي پکې لارپيدا نکړي.

پاتې دې نه وي چې بې خاصيته اوحجم زياتوونکي نقل قولونه، بې ځايه ذوقي تفنن، مجامله، تعارف، بې بنياده يا متعصبانه قضاوتونه دڅېړنيزې مقالې وزن اواعتبارکموي، هغه مطالب چې دڅېړنيزې مقالې په متن کې راځي بايد له حاشيو جداوي، دڅېړنيزې مقالې ارزښت په دې کې دی چې نوې لار پرانزي، يا موجوده لار ښه هواره کړي، يا ادامه ورکړي اونويو پيڅوته يې وباسي (ګيلاني، ۱۳۸۶ل: ۲۵-۲۶مخ) دهمدې رايې اونظر په تائيد پوهنوال فيض محمد فياض هم داسې ليکي چې: يوه رساله يا ليکنه هغه وخت موفقه، مطلوبه او اوچته بلل کيږي، چې پرهر اړخيزې اوپراخې مطالعې پيل شوي وي، په هغې کې دنورو پوهانو له نظرياتو څخه هم استفاده شوي وي، خود رسالې ليکوال ته نه ښايي چې تل دنورو رايه يو مسلم حقيقت وبولي؛ ځکه زياتره نظريات سم نه وي، نولومړی بايد دنورو افکار او نظريات په سمه توګه مطالعه کړي، دهغو پراصولو باندې سوچ وکړي، هغه څه چې سم ګڼي، هغه تائيد کړي، هغه چې سمه او درسته پايه نه لري هغه ردکړي، رساله بايد دعلم په موضوع کې دابتکار اواضافي معلوماتو متضمنه وي، پرداسې ډول چې څېړونکی او درسالې ليکوال دليکلو مرحلې ته ورسيږي، بايد هڅه وکړي چې ليکنه يې پرلوستونکي آغيز وکړي، دا په دې مفهوم چې داسې دلايل په بحث کې بيان کړي چې لوستونکی ورسره خپله مينه اوملګرتيا وښيي، ليکوال بايد درک کړي

چې وظیفه یې له ټولو نه مخکې داده چې لیکنه یې لوستونکی ترآخره پورې دموضوع لوستلو ته جلب او تشویق کړي، نو کله چې لیکوال دخپلومعلوماتو په اثر یوه نظریه قایمه کړي باید ټول دلایل او معلومات دهغې دڅرګندولو لپاره راټول اوپه یوه ښکلې، دقیقه، څرګنده توګه، له هرډول ابهاماتو څخه خالي وي، دسالمو اسلوبو په وسیله یې وړاندې کړي (فیاض، ۱۳۷۹ش: ۸۶۰ مخ).

په علمي رپوټونو، د بررسیو نتایجو، د درجو، په څېړنیزو اوآزمیښتي کاربردونوکې معمولاً له مجهول فعل څخه استفاده کیږي (طوسي، ۱۳۸۲ل: ۱۵۵مخ).

ثاقب لیکي چې: مقاله یاسر لیکنه د اوسنۍ زمانې په مطبوعاتوکې دومره مهم رول لوبوي چې دیوملک، یو اولس او ټولنې دفرهنګي هویت ښکارندویي کوي، دمملکت دسیاسي، اقتصادي اوټولنیز نظام څرګندویي کوي.

که چېرې دمنځنۍ آسیا (برصغیر) تاریخ ته ځیر شو، د ورځپاڼو او اخبارونو دخپریدا ترټولوسترلامل به له ښکیلاک سره دسیالۍ جذبه ومومو، ددغه مهال مشرانو اولارښودونکو دخپل اولس دلارښوونې او د دښمن ځواکونو د دسیسو شنډولو لپاره اخبار دیوې مهمې وسیلې په توګه کاراوه، د دوی په اخبارونو کې اداري مخونو ته د لومړیتوب ارزښت ورکول کیدو؛ ځکه د دوی لارښودې لیکنې به ډیرې په اداري مخونوکې خپریدې، ځینې سرلیکنې به دومره زړه راښکونکې وې چې پرچارواکو به یې دویرې پیرې کښیـنول، په دغه پیړۍ کې سرلیکنو تر خبرونو ډیرارزښت درلود (ثاقب، ۱۳۸۶ل: ۷۱ مخ).

ښاغلی مرادي لیکي: داچې دکتاب پیژندنې اطلاعاتودلاسته راوړنې ذخیره اودداسې علمي اوفني اطلاعاتو لوی حجم نورو وسایلو ته محتاج و، اونورې دکتاب پیژندنې وسیلې ددې مهم کار په ترسره کولو باندې نه وې قادرې؛ همغه وو چې مقالو اونورو لنډو لیکنو تهیه اوتدوین رونق واخیستو (مرادي، ۱۳۸۲ل: ۶۰ مخ).

ریاض ثاقب زیاتوي چې علامه سیدجمال الدین افغاني داداري مخونو پرارزښت ډیر ټینګارکاوه اوویل به یې چې: ښه خبرونه رنځپوه دی، رښتینی ناصح دی، منکسرښوونکی، عاجز مؤدب دی، بیدار څاروان، هوښیارساتونکی، دسوداګرو لپاره لارښود، دواکمنو لپاره سلا کار، دروښاندو لپاره رڼا اودښه دود اوتمدن ټینګه کلا اودانساني ورورولۍ ټینګه رسۍ ده، اتم جارج ویل: (ټایمز ورځپاڼه سمندر نه ځواکـمنه ده).

لويديزوال کارپوه (Merz) وايي چې: سرليکنه دخپلواکو دولتونو په ټينګښت کې ستر اورغنده رول لوبوي، اوپه لنډه توګه ويلای شو چې سرليکنه دعامه افکارو دغنډاوي اولارښوونې دنده ترسره کوي، چې داسرليکنې دادب اوشاعرۍ دنورو ډولونو په څير په بيلابيلو برخو ويشل شوي دي، دغه ډولونه دسکالو، اسلوبواودلوستوالودزړه راښکون پربنسټ رامنځته شوي دي، چې دسکالوله مخې په سياسي، ټولنيزو، اقتصادي، ساينسي اوځانګړوسيمه ييزو ملي اونړيوالو سرليکنو ويشل کيږي، او داسلوبو له مخې جذباتي، يا استدلالي اوکله کله جذباتي اواستدلالي دواړه اړخونه راخپلوي (ثاقب، ۱۳۸۶ل: ۷۴ مخ).

همدا راز ښاغلی ماحوزي هم ليکي چې: په نننۍ نړۍ کې مقاله ليکنه يعنې داطلاعاتو، علومو، تجربو، ليدنو، انديښنو، نظريوآفرينونو اوپه متنوعو اخلاقي، عاطفي، اجتماعي، تاريخي، علمي، ادبي، ديني، عقيدوي اوانساني ژوند په مختلفو بڼو اوټولو ليدلوريو پورې پيوند لري، نوله دې جهته مقاله لويه حوزه اود پولو- حدودو- نامنونکی پراخ قلمرولري (ماحوزي، ۱۳۷۱ل: ۳۴۱ مخ).

ښاغلی مصري ليکي چې: ځينې جامع اوڅېړنيزې مقالې يوې شناخت نامې ته، دمطالبو فهرست اودرج شويو مسايلو معرفت او پيژندنې ته ضرورت لري، چې ليکونکی يې بايد په دقيقه توګه تنظيم اوترتيب کړي، او په يومناسب ځای کې يې وليکي ترڅو دمقالې مطالبو اوموادو ته دلوستونکي دلاس رسيدو کار ښه آسان کړي (مصري، ۱۳۷۴ل: ۷۰-۷۲ مخ).

دیادونې وړ ده چې مقاله دشخصې اومحدودې سيمې دخلکو لپاره نه بلکې دټولوهغولوستونکو لپاره ليکل کيږي چې ورسره رغبت لري، نو په دې اساس بايد څېړنيزه مقاله بايد دڅېړنيزو اصولو پربنياد وليکل شي، او دکومې خاصې محلي لهجې پورې تړاو ونه لري، نو ددې له امله هغه لغتونه اواصطلاحات عام فهمه نه وي بايد دسريزې اويا مقالې په سرکې واضح شي، په دې مورد ښاغلی رضايي ليکي چې: که په مقاله کې داسې لغتونه یاځانګړي اصطلاحات کارول شوي وي چې زيات لوستونکي يې پيژندکلوي ته احتياج لري هغه معمولاً دمقالې له پيل کيدونه مخکې بايد ذکر او تعريف شي(رضايي، ۱۳۸۵ل: ۵۳ مخ).

فني ليکنه په خپل ذات کې ډير ډولونه لري چې هرډول يې ځانګړې طريقې لري،

گیلاني لیکي چې: دمختلفو لیکنو ژبه سره یو شان نه ده؛ مثلاً: په علمي لیکنو کې هغه ژبه کارول کیږي چې له ادبي اوذوقي لیکنو سره اساسي فرقونه لري، علمي ژبه شفافه وي، اوعموماً الفاظ اوتعبیرونه پکې مستقیم دلالت لري؛ په داسې حال کې چې د ادبي اوتخیلي آثارو ژبه زیاتره تصویري وي، اودلالتونه پکې غیرمستقیم وي (گیلاني، ۱۳۸٦ل: ۱۲۸ مخ).

**مناقشه**

دا چې د ادبیاتو بهیر د ودې اوتکامل په لور په ډیره چټکتیا سره روان دی، اوزیات شمېرادبي آثارلیکل شوي اوڅه دلیکنې په حال کې دي؛ خومتأسفانه چې زمونږ په پخوانیو اواوسنیو پښتو لیکنوکې دلیکنې دچوکاټ له مخې زیات توپیرونه لیدل کیږي.

که څه هم پوهانو دلیکنې دسمون په خاطر په متفرق ډول ځینې قواعد دعامو لیکنو په ترڅ کې لیکلي دي، خو متاسفانه چې د اوسني وخت ادبي بهیر ته ځواب نشي ویلای.

په دغه اثرکې هڅه شوې ده چې دغې تشې ته تر یوه حده دلیکوالو توجه راواړوي؛ ترڅو لیکوالان خپلې څېړنیزې مقالې اوعام ادبي آثار په ښه توگه او دڅېړنزې مقالې لیکنې فن دقواعدو سره سم ولیکي او له دې حاضر اثر څخه هم یوڅه استفاده وکولای شي.

دامقاله له یوې خوا دخارجي آثارو څخه راژباړل شوې او دمقاله لیکنې اوڅېړنې نوي میتودونه پکې ښودل شوي دي، له بلې خوا دڅېړنیزې مقالې لیکنې فن چوکاټ پکې په ډیره واضحه توگه تشریح شوی دی.

داچې پخوا دمقاله لیکلو شعوري او روزنیز میتودونه په سمه توگه موجود نه وو، لیکوالان به دتېوریکي څېړنو اولارو موندلو په برخه کې له ستونزو سره مخ کیدل؛ خو څرنگه چې علمي اوادبي پنځونې پای اوبشپړتیا نه مني، نودغه مقاله هم یوازې اوس مهال کې دفرهنگي بډاینې په پار دڅېړنیزو مقالو دلیکنې لپاره یوتېوریکي لارښود اثر حسابیدلای شي.

**پایله**

شک نشته چې زمونږ ملي ژبې، ادب اوفرهنگ لکه دعربي ژبې په شان داسلام دمقدس دین قواعدو سره سم بشپړ تړاو لري، چې رسم الخط یې یوه څرگنده نمونه کیدای شي، که څه هم فرهنگي ټولنو داسلامي مقدساتو دارزښتونو په نظرکې نیولوسره دملي ژبو ادب

اوفرهنګ دبډاینې لپاره زیاتې هلې ځلې کړې دي، خو داچې څېړنیزه مقاله دڅېړنې داصولو سره سمه لیکل کیږي، نودا څېړنیزه مقاله سړي ته دا ښیي چې څنګه کولای شي دیوې ځانګړې موضوع په باب حقایق ولټوي؛ ځکه چې څېړنه دیوې ټاکلې موضوع په باب رښتینې ژوره اوعالما نه پلټنه ده، چې په هغې کې واقعیتونه، معناوې او تطبیقي موارد هم تر آزموینې لا ندې نیول کیږي، اوعمده موخه یې داده چې څېړونکي ته دڅېړنې دچارو د پرمخ بیولو لپاره ځانګړې روشونه (میتودونه) ور وښیي؛ حقایق کشف کوي؛ مسایلوته دحل لارې پیداکوي؛ ستونزې رفع کوي، او محقق یا څېړونکي ته داسې معیارونه ورزده کوي چې دهغو له مخې کولای شي سم فکر او عمل وکړي، له دې سربیره دبشري پوهې، پوهاوي اومعلوماتو پراختیا او پرمختیا دڅېړنې هــدف دی، نوځکه ویلای شو چې دفرهنګي بډاینې لپاره څېړنیزه مقاله ډیر ارزښت لري.

داچې دهرې ژبې ادب اوفرهنګ په زیاته پیمانه دلیکنې له لارې بډایه کیږي، نو دپښتو ژبې ادب اوفرهنګ د بډاینې په مقصد د دې مقالې په لیکنه کې له معتمدو اومعتبرو منابعو څخه ډیرې مهمې اوګټورې خبرې ترلاسه شوي دي، چې په ځانګړې توګه دڅیړنیزې مقالې پیژندنې په مورد څېړونکي لیکوالان او د فرهنګ مینه وال د پښتو ژبې د فرهنګي او ادبي پرمختیا اوبډاینې په مقصد ورڅخه په اسانه توګه ګټه اخیستی شي اوهمدا راز یوه ښه معتمده اوپه زړه پورې مرجع کیدای شي.

زما ددې هڅو اوکوښښونو سره سره ښایي دا مقاله ځینې نیمګړتیاوې هم ولري، نوهیله من یم چې ښاغلي څېړونکي اوپوهان یې دسمون په غرض ورته زما پاملرنه راواړوي.

سره له دې چې ددې مقالې په لیکلوکې ډیر زیار ایستل شوی دی، د پښتو ژبې د فرهنګي اوادبي خدمت دهدف لپاره مهم مطالب پکې راټول شوي دي، خو د دې سره سره نوموړې مقاله په مکمله توګه بسنه هم نشي کولای، باید دپښتو ژبې د مادي اومعنوي شتمنیو د پرمختیا اوبډاینې لپاره نورهم ګړندي ګامونه پورته شي.

**ماخذونه**

Kim, Zimmermann (۱۳-۰۷-۲۰۱۷), "What Is Culture?"

www.livescience.com, Retrieved ۱۲-۰۳-۲۰۲۱. Edited

Material, and Non-Material Culture" www.cliffsnotes.com Retrieved ۱۲-۰۳-۲۰۲۱. Edited..

أ ب "Why Is Culture so Important to Society?", www.reference.com, ۰٦-۰٤-۲۰۲۰، Retrieved ۱۲-۰۳-۲۰۲۱. Edited

البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة(۱۴۲۲هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. محمد زهير بن ناصر الناصر. الطبعة الأولى. دمشق: دار طوق النجاة.

ثاقب، رياض، (۱۳۸٦ل). نوی خبريالي. ژباړن نذير احمد سهار. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

حيدري، غلام رضا(۱۳۸۰ل). آيين نگارش۲ . ايران: قزوين ـ سا يه گستر چاپ وصحافي الهادي ـ قم.

رضايي، غلام محمد (۱۳۸۵ل). روش تحقيق وشناخت مراجع ادبي. تهران: چاپ نيل.

زيور، زيورالدين (۱۳۸۵ل). دپښتوادبياتوتاريخ اوسنۍ دوره، مهتمم: پوهندوی ډاکټر زرغونه زرو. افغانستان: دساپي دپښتو څېړنو اوپراختيا مرکز.

شميسا، سيروس(۱۳۸۳ل). انواع نثرادبي. تهران : انتشارات فردوس.

طوسي، بهرام (۱۳۸۲ل). راهنمای پژوهش واصول علمي مقاله نويسي. مشهد: مؤسسۀ چاپ و انتشارات دانشگاه فردوسي مشهد.

فسايي، منصوررستگار (۱۳۸۰ل). انواع نثرفارسي. تهران: انتشارات (سمت).

فياض، فيض محمد(۱۳۷۹ش). «دمونوگرافونو، تيزسونو اون ورو علمي آثارو د ليکلو لارښوونې»، ستوري دادب په آسمان کې، دمحمد داود. پيښور: دانش خپرندويه ټولنه).

گيلاني، احمد سمعي (۱۳۸٦ل). نگارش وويرايش. تهران : مطبوعۀ (سمت).

گيوي، داکتر حسن احمد. (۱۳۸۳ل).از فن نگارش تا هنر نويسندگي. تهران : چاپ

مهارت.

ماحوزي، داکترمهدي (۱۳۷۱ل). برگزيدهٔ نظم و نثر يا فارسي ونگارش (ج۲- ۱). ايران: انتشارات اساطير.

مرادي، نورالله (۱۳۸۲ل). مرجع شناسي، شناخت خدمات وكتاب هاى مرجع. تهران: سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ وارشاد اسلامي.

مصري، محمد (۱۳۷٤ل). هنر انشانويسي ونامه نگاري گلزار. ايران: مؤسسه انتشارات ياران.

همت، عبدالمالک (۱۳۸۵ل). دمقالې ليکلواصول اودمطالعې اوڅېړنې لارښود. کويټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

العنزي، عبدالله حميد(۲۰۱۴م). دور وسائل الإعلام المحلية الكويتية في تعزيز الثقافة السياسية لدى الشباب الكويتي. الطبعة الجديدة. الكويت: جامعة الشرق الأوسط.

## د مفهومي استعارې پر بنسټ د پښتو ښېراوو او دعاوو څېړنه

محب الله ترابي[1]

**لنډيز**
د انسان د ادراک يوه وسيله استعاره ده، چې انسان يې په مټ بېلابېل انتزاعي مفاهيم درک کوي او دا بحث په ټوله کې د ادراکي ژبپوهنې اړوند دی، چې په دې غږېږي، چې انسان پر ژبه څرنگه پوهېږي او مفاهيم څنگه درک وي. موږ دلته د ادراکي ژبپوهنې په يوې اړينې برخې، چې مفهومي استعاره ده، بحث کوو او پښتو ښېراوو او دعاوو ته د همدې نظريې په مټ کتنه کوو او گورو چې پښتانه په ښېراوو او دعاوو کې د دې استعارې په مټ څنگه گڼ مفاهيم د درک وړ کړي دي؟ هو، دې خبرې ته مو بايد پام وي، چې دا استعارې قراردادي وي او په يوه فرهنگ کې له بل سره توپير کوي. د دې څېړنې ډول کتابتوني دی او د تشريحي مېتود په مټ مو سرته رسولې ده.

**آر وييونه**: مفهومي استعاره، ښېراوې، دعاوې.

**سريزه**

د استعارې بنسټ درک او د يو شي تجربه د يو بل شي پر اساس ده. انسان له استعارو پرته د فکر کولو او د هستی د پېژندنې څواک نه لري. موږ ټول انتزاعي مفاهيم د مادي شيانو په مټ چې بنسټ يې په استعارو ولاړ دی درک کوو. د مفهومي استعارو اړوند بحثونه د نړۍ په نورو ژبو کې پرېمانه دي؛ خو په پښتو ژبه کې لومړنۍ مقاله د پوهاند دوکتور اجمل ښکلي «استعاره؛ د انسان د ادراک وسيله» ده، چې د مفهومي استعارې او د ډولونو په اړه يې خورا ښکلی بحث کړی دی. له دې ها خوا موږ دوه تيزيسونه لرو، چې يو د مينې سادات دی او بل زمري ملگري، چې د تيورۍ اړوند يې ډېره تکيه په همدې مقاله دی. خو د زمري ملگري تيزيس کې موږ په پښتو متلونو او گړنو کې د مفهومي استعارې څېړنه وينو، چې په تطبيقي اړخ کې ښه کار دی. تر دې کار ورهاخوا په پښتو ژبه کې د دې استعارې اړوند نور کارونه نه دي شوي او يا ښايي زما تر نظر نه وي راغلي. دا مقاله د پښتو

[1] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهندوی استاد
برېښناليک: torabimuhib@yahoo.com
شمېره: ۰۰۹۳۷۹۹۳۴۶۰۶۱+

فوکلور په یو بل اړخ لیکل شوې، چې هغه ښېراوې او دعاوې دي. په دې مقاله کې موږ پښتو ښېراوو او دعاوو ته د مفهومي استعارو د تیورۍ په بنسټ کتنه کوو. ستونزه دا ده، چې موږ د پښتو فوکلور دا اړخ ګورو چې پښتانه په ښېراوو او دعاوو کې څنګه د دې استعارې په مټ مفاهیم مفهومي کوي؟

**د څېړنې مواد او مېتود**

د دې څېړنې په ترسراوۍ کې له بېلابېلو پښتو او پارسي اثارو او مقالو څخه استفاده شوې ده. پښتو ښېراوې او دعاوې راټولې شوې دي او بیا د همدې تیورۍ پر بنسټ څېړل شوي دي. په ټوله کې ویلای شو، چې دا څېړنه کتابتوني ده او د تشریحي مېتود په مټ بري ته رسېدلې ده.

**موندنې**

په ژبه کې انتزاعي مفاهیم څنګه درک کېږي او کومې وسیلې دي، چې موږ پرې د مهال، مینې، خوښي، غم او دې ته ورته مفاهیم، مفهومسازي کوو؟ د بېلګې په ډول موږ وایو، چې له ستونزو سره مخ شوم. درد نیولی یم. اختر تېر شو. مرګ را نژدې کېږي.

په پورته جملو کې ستونزه، درد، اختر او مرګ څنګه درک کوو؟ موږ چې په عیني نړۍ کې د موجودو موانعو (لکه دېوال، غر...) سره مخ شوي یو او زموږ مخه یې ډب کړې ده؛ نو همداسې موږ د همدې مفاهیمو د حوزې څخه د ستونزې د مفهومسازۍ لپاره هم کار اخلو. همداسې مو په عیني نړۍ کې د یو شي د نیولو تجربه کړې ده او کله چې ناروغ شوي یو، بیا مو د درد په څېر مفاهیمو ته هم د «د یو شي د نیولو» د حوزې څخه کار اخیستی او دا مفاهیم مو پرې مفهومي کړي او د درک وړ کړي دي. همداسې وروستۍ جملې هم دي، چې موږ خپل جسم ولاړ (ساکن) ښوولی او اختر او مرګ مو د موټر، چې را نږدې کېږي یا تېرېږي، د مفهوم په مټ مفهومي کړي دي.

د داسې موضوعاتو د سپړنې ډګر ادراکي ژبپوهنه ده، چې د شلمې پېړۍ په اتمه لسیزه کې رامنځته شوه. ادراکي ژبپوهنه دې پوښتنې ته ځواب وایي، چې انسان پر ژبه څرنګه پوهېږي او څنګه مفاهیم درک کوي؟ په دې لړ کې د انسان هغه وړتیاوې او فعالیتونه رااخلي، چې په ادراک او پوهېدو کې یې کاروي. د انسان د ادراک یوه مهمه وسیله استعاره ده. د لیکاف او جانسن د ادراکي ژبپوهنې یو مهم اثر، استعارې چې موږ یې په اساس ژوند کوو، کې په دې بحث شوی، چې د انسان د ادراک لویه برخه استعاري ده. د دوی په اند، انسان څو عیني مفاهیم د انتزاعي مفاهیمو د بامفهومه کولو او پوهېدو وړ کولو لپاره پور کوي. (ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۸۷)

د دې پوښتنې په ځواب کې، چې موږ ولې ځينې مفاهيم د نورو مفاهيمو پر بنسټ درک کوو، ايا د هغوی مستقيم او بېواسطې درک شونی نه دی؟

ويلای شو، چې موږ خپلې ټولې تجربې د اشياوو، پديدو، فعاليتونو، پېښو او نورو په واسطه په ذهن کې د موجودو رغښتونو په چوکاټ کې مفهومي کوو او ذخيره کوو. هر مفهومي رغښت له بېلابېلو برخو او ټوکونو، چې يو له بله سره اړيکې لري، جوړ دی او د همدې رغښت اصلي طرحه بيانوي. مفهومي نظام د همدغو ځوټوکيزو رغښتونو له لارې تنظيمېږي او انسجام مومي.

کله چې يو څوک يوه نوې تجربه کوي يا به ووايو چې کله يو څوک له يوې تجربې سره مخېږي، په اتومات ډول د دې تجربې رغښت په ذهن کې د مفهومي نظام له رغښتونو سره پرتله کوي که چېري له هغه سره ورته مفهومي رغښت ومومي، نو بيا يې درک کولای شي. په دې ډول د تجربو او مفاهيم طبقه بندي د مفهومي نظام تنظيم او د درک امکان ته لاره هواروي.

ډېری انتزاعي مفاهيم دقيق او مشخص رغښت نه لري او نشو کولای چې د دوی بشپړ درک ته لار پيدا کړو. د انسان ذهن داسې مفاهيم د محسوسو او عيني مفاهيمو پر بنسټ، چې مشخص رغښت لري، درک کوي او په همدې ډول دې انتزاعي مفاهيمو ته يو شکل ورکوي. دا پروسه د مفهومي استعارو د جوړولو لامل کېږي. هغه مفاهيم چې له دې لارې د درک وړ کېږي، استعاري مفاهيم بلل کېږي. (براتی، ۱۳۹۶ش، ۵۶ مخ)

د دې نظريې( مفهومي استعارې) اصلي ټکی دا دی، چې استعاره يوازې د ژبې يوه سبکي ځانګړنه او د ادبي ژبې اړوند نه ده، بلکې پخپله ذهن او تفکر په بنسټيز ډول استعاري ماهيت لري. په همدې دليل دې ته د ژبنۍ استعارې سره په تقابل کې مفهومي استعاره وويل شوه. ( راحله، ۱۴۰۲ل، ۱۵۶مخ)

د استعارې بنسټ درک او د يو شي تجربه د يو بل شي پر اساس ده. ليکاف او جانسن دا ادعا هم وکړه، چې استعاره په ادبي ژبې پورې تړلې مسئله نه ده، بلکې يوه مفهومي مسئله ده، چې ځای يې د انسان ذهن دی، نه ژبه. نهه کاله وروسته ليکاف او ترنر پخپل کتاب( فراتر از عقل سرد ۱۹۸۹م) کې خپل ليدلوری د استعارې په باب پراخ کړ او په ورځنيو خبرو او اشعارو کې يې ډېرې داسې بېلګې وړاندې کړې، چې زيات مفاهيم لکه ژوند، مرګ او وخت په استعاري ډول درک کېږي. ( ملګری، ۱۴۰۲ل، ۱۸)

**د مفهومي استعارې اړخونه**

ليکاف او جانسن د استعارې دوه اړخه ښوولي، چې يو يې سرچينه او بل يې موخه ده.

هغه مفهومي حوزه چې پور ترې کېږي، سرچینه او هغه چې ورته پورېږي موخن قلمرو ګڼل کېږي. لکه: روژه ماتوم. ګورئ، موږ د مادي شیانو د ماتولو تجربه لرو؛ نو روژه مو هم پرې مفهومي کړې ده. مانا دا چې د ماتولو یو خصوصیت ورته پور شوی دی؛ «ماتول» سرچینه او «روژه» موخن قلمرو بلل کېږي. اصلاً استعاره د یوې مفهومي حوزې پېژندل دي د بلې مفهومي حوزې په مټ. «په دې توګه لیکاف په اصل کې استعارې ته په مفهومي نظام کې د دوو قلمرونو ترمنځ د تړونکي یا نقشې په سترګه ګوري، چې څو مفاهیم پکې راټول وي. » (ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۸۷مخ)

په ټوله کې ویلای شو، چې استعاره د ورځني ژوند ټولې برخې رانغاړي او زموږ ورځنی تصوراتي سیستم، چې موږ یې پر بنسټ فکر کوو، استعاري دی او دا کار د خپلو حواسو او عیني نړۍ د تجربو په مټ ترسره کېږي؛ نو ځکه «خو په مفهومي استعاره کې بحث په همدې دی، چې انتزاعي مفاهیم د عیني او محسوسو مفاهیمو پر بنسټ درک کېږي.» ( ملګری، ۱۴۰۲ل، ۱۸) . د مفهومسازۍ په دې چاره (استعاره) کې لیکاف تشخیص او مجاز هم ورشاملوي.

**د مفهومي استعارې ډولونه**

**۱- لوریزې( جهتي ) استعارې**

ډالر لوړ روان دی.

حالات تر کنترول لاندې دي.

احمد مخته روان دی.

هېواد ورځ په ورځ شاته روان دی.

لوریزې استعارې هغه دي، چې « د لوري په ورکولو مفاهیم مفهومي کوي. په دې لوریو کې پاس، لاندې، مخکې، وروسته، خواکې، لرې او ... راځي. څرنګه چې د انسان بدن په فضا کې واقع دی، نو له فضا نه ماورا مفاهیم له جسم سره په تړاو کې درک کوي.(ښکلی، ۱۴۰۱ل، ۱۹۰مخ)

په پورته جملو کې وینو، چې د ډالر د ارزښت خبره مطرح شوې ده؛ نو لوړ ورسره لکه د یو شي د پورته ختلو غوندې لوری ښیي. همداسې دویمه جمله ده، چې څواک پاس دی، چې مکان ښیي. په درېیمه او څلورمه جمله کې د احمد د پرمختګ خبره او د هېواد د شاتګ خبره د مخته او وروسته لوریو باندې مفهومي شوې دي. مانا پرمختګ لوړ دی او شاتګ ټیټ. دا ټول مفاهیم انسان له خپل جسم سره په تړاو کې یا د مکاني لوریو په واسطه د درک وړ کوي.

**۲- وجودي استعارې**

هغه خالي ذهنه دی.

ذهن مې ښه کار نه کوي.

په پورته جملو کې وينو، چې ذهن د يو ظرف غوندې ښوول شوی دی، چې خالي دی او په دويمه جمله کې ذهن ماشين دی. يعنې د ظرف او د ماشين د مفهومي حوزو ځينې ځانګړنې ورته پور شوي دي او له دې لارې د درک مرحلې ته رسېدلي دي. دا چې ذهن ته د مادي څيز په څېر کتل شوي او و جود ورکړل شوی؛ نو ځکه يې و جودي استعارې بولو. پوهاند دوکتور اجمل ښکلی يې داسې راپېژني:« هغه استعاره چې مفاهيمو ته د عيني شيانو په سترګه ګوري او د مادي شيانو د خصوصيت په مټ شتون يا و جود ورکوي او بيا يې موږ د جوهر خاوند څيز ګڼو.» ( ښکلی، ۱۴۰۱ل، ۱۹۱)

وجودي استعارې ځينو په درې نورو ډولونو هم وېشلي دي.

**الف: ښکارندې ( پديده يي) استعارې:** چې د فيزيکي او مادي شيانو د تجربې په مټ صورت نيسي.

**ب: تشخيصي استعارې:** د وجودي استعارو تر ټولو څرګند ډول همدا تشخيصي استعارې دي، چې پکې اشياوو، مادي څيزونو او نورو ته د انسان ځانګړنې ورکول کېږي.

**ج: ظرفي استعارې:** ډېرې عاطفي اصطلاحات په ظرفي حالت کې بيانېږي. مثلاً: په فکرونو کې ډوب دی. مانا فکر يو حجم لرونکی څيز دی. ( حاجبی، فخري او عادل، ۱۴۰۱ش، ۷۴مخ )

**۳- رغښتي استعارې:** په رغښتي استعاره کې يو مفهوم د بل مفهوم په چوکاټ کې تنظيمېږي. په دې استعاره کې د درک رول او نقش دا دی چې د موخنې اوېجې د درک امکان د سرچينې اوېجې د رغښت له لارې ويناوال يا اورېدونکي ته کېږي. لکه: وخت سره زر دی. دلته د وخت ارزښت د سرو زرو د ارزښت او قيمت د تجربې په مټ مفهومي کېږي. ( حاجبی، فخري او عادل، ۱۴۰۱ش، ۷۴مخ )

دوکتور اجمل ښکلی د ليکاف او جانسن په حواله کاږي، چې: «رغښتي استعارې هغه دي چې يو رغښتي مفهوم د بل لپاره وکارېږي. زياتره قضيه يي استعارې دا ډول رانغاړي.» (ښکلی، ۱۴۰۱ل، ۱۹۳). قضيه اصلاً يوه خبري جمله وي، چې يا رښتيا وي او يا دروغ. انشايي يا ناخبري جملې په قضيه کې نه راځي.

موږ په خپلو خبرو کې وايو چې: و مې ليدې چې څه دې ويل. مانا ليدل، پوهېدل دي. يا وايو چې: ژوند سيالي ده. هغه واقعي بايلونکی دی.

موږ په دې څېړنه کې د پښتو فوکلور يوه برخه، چې ښېراوې او دعاوې دي، څېرو او د مفهومي استعارو د تيورۍ پر بنسټ ورته کتنه کوو؛ نو تر هر څه مخکې بـه لـږه غونـدې اشاره ښېراوو او دعاوو ته هم وکړو.

**پښتو ښېراوې او دعاوې**

لومړی بايد ووايو چې ښېراوې او دعا وې له ديني اړخه خپل ارزښت او اهميت لري، چې دلته زموږ د بحث موضوع نه ده.مـوږ پښـتو ښـېراوې او دعـاوې د پښـتني فوکلـور د يـوې ارزښتمنې برخې په توګه معرفي کوو.

ښېراوې او دعاوې په بېلابېلو ژبو او اقوامو کې پـه مختلفـو بڼـو مو جودې دي، چـې د هرې سيمې د خلکو روحيات پکې مطالعه کولای شو. موږ دلته لومړی توک معرفي کـوو او دويم هغه يې د لومړي عکس ګڼلای شو.

ښېراوې اکثره په رمزي ژبه ويل کېږي، ځينې وخت ممکن په عادي ژبه هم وويل شي؛ خو بيا يې په مخاطب اغېز نه وي او يا کم وي. مثلاً، موږ مستقيماً يو چا ته ويلای شو، چې مړ/ مړه شې، خو داسې نه کوو؛ بلکې ورته وايو، چې «زېړ تلې شې» يـا « تـر مـوټر لانـدې شې» يا « خدای دې واخله» ... وايو، چې په مخاطب يې اغېز ډېر شي.

مطيع الله روهيال د ښېراوو په اړه د استاد محمد معصـوم هوتـک نظـر داسـې وړانـدې کوي: « ښراوي د ښرا ويونکي په ابتکار پوري مستقيمه اړه لـري. ښـرا واردواره يـو شـخص جوړه کړي او وروسته بيا پـه محـيط کـي عامـه سي وريسـې پسي۔کلتـوري او د اسـتعمال اورشو ئې پراخه سي.» همدارنګه بل ځای هم لنډه ياودنه کوي، چې ښـېراوې کـه پـه هـر لحاظ کېږي؛ ښېرا کوونکی ترې يوه پايله اخلي او د خپل زړه د تسـلي لپـاره د مخاطـب د بربادۍ او خرابۍ هيله کوي[۱].(روهيال)

پوهاند دوکتور لال پاچا ازمون دا دعاوې او ښېراوې په دوو ډولونو وېشلې دي، چې يو يې ديني او مذهبي دعاوې او ښېراوې دي او بل يې سنتي يـا کليـوالې دعـاوې او ښـېراوې دي. همدارنګه ليکي، چې له همدغو دعاوو او ښېراوو نه د يو قوم، قبيلې او سيمې پېژندنـه هم کېږي او پر اصلي مانا سربېره مجازي مانا هم ښندي. ( ازمون، ۱۳۹۹ل، ۲۳۲مخ )

د دعاوو په اړه موږ د دې بحث په پيل کې وويل چې د ښېراوو معکوسه مانا تعبيرېږي. مانا که په ښېراوو کې د مخاطب د بربادۍ هيله نغښتې وي؛ نو پـه دعـا کـې يـې د ښـېرازۍ هيله وي او بس.

---

۱ -https://larawbar.net/۲٥٤۹۲.html

## د مفهومي استعارو پر بنسټ د پښتو ښېراوو څېرنه

### لمن دې زرغونه مه شه

کله چې چا ته د بې اولاده کېدو ښېرا کوو؛ نو وايو، چې لمن دې زرغونه مه شه. تاسې وګورئ، چې موږ د زرغونېدو له مفهومي حوزې استفاده کړې ده. د فصلونو او بوټو د زرغونېدو مشاهده مو کړې او بيا مو د بې اولادۍ غوندې د انتزاعي مفاهيمو د مفهومي کولو لپاره ترې استفاده کړې ده. زرغونېدلو ته سرچينه اوبجه او بې اولادي موخنه اوبجه بلل کېږي.

واړه دې د بل در ته کېنه

تاسو فکر وکړئ، چې په دې ښېرا کې د مفليسۍ او غريبۍ مفهوم څنګه مفهومي شوی دی! موږ د شتمنو په دروازه کې د نادارو واړه ليدلي دي او همدا حالت راته د هغوی د ناداري او غريبۍ بيان کوي. نو په دې ښېرا کې هم مفليسي د بل درته په کېناستلو مفهومي شوې ده. چې مفليسي پکې موخنه اوبجه او د بل در پکې سرچينه اوبجه ګڼلای شوی.

### ښه ورځ و مه وينې

ورځ د باصرې د حس په مټ مفهومي شوې ده. موږ ډېر عيني شيان وينو؛ نو ورځ مو هم د ليدلو وړ يو څيز ګڼلی. ليدل سرچينه اوبجه او ورځ موخنه اوبجه ګڼلای شو. په ټوله کې دا ښېرا په غم د يو چا اخته کېدو هيله کوي او د خوښۍ په تقابل کې ودرېږي. نو داسې هم ويلای شو، چې خوښي، چې ښه ورځ ګڼل شوې، د ليدلو او نه ليدلو وړ څيز په مټ درک شوې ده.

### د زړه خوږ دې ونيسه / د زړه خوږ درولوېږه

ګورئ! دا ښېراوې په يوه مانا کارېږي، چې هغه د زړه په رنځ ککړېدل يا اخته کېدل دي. خو تاسو فکر وکړئ، چې رنځ هم لکه يو څوک چې څه شی نيسي يا د يو چا غېږ ته چې څه ورلوېږي داسې معرفي شوی دی. موږ په غېږ کې د يو شي د رالوېدو او يا د يو شي د نيولو ډېرې عيني تجربې لرو؛ نو کله چې د رنځ غوندې مفهوم سره مخ شوي يو؛ نو بيا مو د يو شي د نيولو غوندې مفاهيمو په مټ د درک وړ کړی دی.

### شرم دې ودرېږه

دا ښېرا عموماً هغه وخت کارېږي، چې يو کس بې نزاکتي او بې حيايي وکړي؛ نو ورته ويل کېږي، چې شرم دې ودرېږه، مانا وشرمېږې. دلته ګورو چې شرم او حيا د «درېدلو» د مفهوم په مټ د درک وړ شوې ده. موږ د ډېرو عيني شيانو د درېدو ننداره کړې يا مو په خپله ځينې مادي شيان ودرولي؛ نو ځکه شرم هم د همدې مفهوم په مټ مفهومي شوی

دی.

**درنه دې ووهه**

کله چې چا ته ووایو، چې درنه دې ووهه، مانا دا چې په داسې آفت واوړې چې رغېده دې نه وي. دلته موږ په لاعلاجه ناروغۍ د اخته کېدو انتزاعي مفهوم د «درنې» په مفهوم درک کړی دی. مانا دا چې موږ د درنو مادي شیانو مشاهده او تجربه کړې؛ نو مو د آفت غوندې مفهوم د مفهومي کولو لپاره هم د درنو شیانو د مفهومي حوزې څخه استفاده کړې ده.

**پزه دې پرې سه**

پزه پرې کېدل له شرمېدلو کنایه هم ده. لیکاف او جانسن کنایه هم په مفهومي استعارو کې راولي. که چا ته وایو چې پزه دې پرې سه، نو مطلب دا چې وشرمېږې. د شرمېدلو د انتزاعي مفهوم د مفهومي کولو لپاره مو د پزې د پرې کېدو یا د نورو عیني شیانو د پرې کېدو له حوزې څخه استفاده کړې ده او په دې ډول مو شرمېدل مفهومي کړي دي.

**کور دې وران سه**

په حقیقي بڼه د کور د ورانېدو تجربې خو هسې هم افغانانو کړې دي. یا یې کورونه وران شوي او یا یې د نورو وران کړي دي، له بده مرغه! خو پښتانه چې کله چا ته وایي کور دې وران شه؛ نو مانا دا چې مېرمن دې مړه شه. اصلاً دلته د مجاز مسئله مطرح کیږي. کور یو مکان دی، چې دلته یاد شوی او موخه ترې په دې مکان کې چې څوک اوسي هغه ده او دا هم طبیعي خبره ده، چې په کور کې کلیدي انسان د کور مېرمن وي. یا یې د ظرفیت علاقه گڼو چې ښځه یا مېرمن پکې د مظروف غوندې اوسي. د کنایې په څېر مجاز هم موږ مخکې یادونه وکړه، چې لیکاف او جانس یې په مفهومي استعارو کې راولي.

**تندر دربادنې راپرېوځه**

که د یو چا په غم ککړېدل غواړو؛ نو وایو، چې تندر دربانـدې را پرېوځه، دلته د غم غوندې مفهوم موږ د تندر د راپرېوتو په عیني تجربه د درک وړ کړی دی. تندر پکې د سرچینې او غم پکې د موخنې اوبجې حیثیت لري.

**خدای دې پښه پرته له تیږې په بل څه مه لگوه**

په ستونزې د اوړېدلو لپاره همدا پورته ښېرا کوو. په تیږه پښه لگول مو تجربه کړي، چې د ستونزې د درک لپاره مو ترې استفاده کړې ده. «ستونزې» موخن قلمرو او «تیږه» سرچینه قلمرو گڼلای شو.

**بېخ دې ووځه**

موږ د ونو او نورو بوټو د ریښو د ایستلو شاهدانو یو؛ نو کله چې د چا د تباهۍ غوښتنه

کوو؛ ورته وایو چې بېخ دې ووځه. د « تباهۍ » غوندې انتزاعي توک د له « ریښو سره د بوټو د ایستلو » په مفهوم مفهومي شوی دی.

**ملا دې ماته سه**

موږ د ډېرو شیانو د ماتېدو شاهدان یو؛ نو که د چا د زور، کبر او توان د نابودۍ غوښتنه کېږي؛ پښتانه ورته وایي، چې ملا دې ماته سه. ګورئ دلته د کبر او توان غوندې انتزاعي مفاهیم د یو عیني څیز غوندې مات شوي دي. کبر او توان موخنه اوېجه شوه او ماتېدل پکې سرچینه اوېجه.

**بې وزرو شې**

ګورئ دا ښېرا د بې اولاده کېدو، بې وروره کېدو او بې ملاتړه کېدو لپاره ویل کېږي. ځکه اولادونه او وروڼه د انسان ملاتړي وي. پښتانه متل کا، چې توربره ته بې وروره مه شې او ورور ته بې زویه. نو معلومه خبره ده چې وروڼه او اولادونه د انسان ملاتړي وي. اوس وګورئ، د ملاتړ غوندې مفهوم په دې ښېرا کې د وزرو په عیني مفهوم مفهومي شوی دی. ورز پکې د سرچینه اوېجه او ملاتړ پکې موخنه اوېجه ګڼلای شو.

**په ګوزڼ ووال «ووهل» سې**

تاسو به په ښوونځیو کې د ښوونکي په لښته وهل خوړلي وي؛ نو ګوزڼ چې انتزاعي مفهوم دی د وهلو فعل په مټ د درک وړ شوی دی.

د ښېراوو ګنې بېلګې وړاندې کولای شو؛ یو څو نورې یې بې سپړنې پرېږدو، چې د لوستونکو د تمرین سبب شي.

سرتوره سې

بېخ دې شین سه

سترګې دې ووځه

خوله دې سره سه

خدای دې ارمان مه کاږه

**د مفهومي استعارو پر بنسټ د پښتو دعاوو څېرنه**

**کور دې له غنمو ډک شه**

په دې دعا کې تاسو فکر وکړئ، چې د یو چا د شتمنېدو هیله کوو؛ نو ورته وایو، چې کور دې له غنمو ډک شه، د لته د شتمنېدو غوندې انتزاعي مفهوم د غنمو غوندې په عیني مفهوم باندې د درک وړ شوی دی

**خدای دې له موږ سره پرده وکه**

ګورئ! کله چې د چا دحیا د ساتنې او شخصیت د ژغورنې غوښتنه کوو؛ نو وایو چې خدای دې پرده وکړه. دلته د حیا د ساتنې انتزاعي مفهوم د پردې په کلمه باندې مفهومي شوی دی. موږ پرده په عینې شکل لیدلې ده، چې د خونو منځ پرې د نورو له سترګو پټېږي، د دې تجربې پر مټ یې د حیا د ساتنې لپاره هم کاروو.

**خدای دې په تود باد لا مه وهه**

زموږ بدن د تود باد د حس کولو تجربه کړې، چې د انسان د لږ اذیت سبب هم نه کېږي؛ نو کله چې د یو چا د ډېر حفاظت او امن غوښتنه کوو، وایو، چې خدای دې په تود باد لا مه وهه. حفاظت په تود باد د درک وړ شوی دی.

**له نېستۍ دې خدای وساته**

موږ ډېر ځله له دښمنو یا وحشي او مضرو شیانو څخه د ژغورنې هڅه کوو؛ خو دلته د نېستۍ غوندې انتزاعي مفهوم د یو شي یا یو چا د ساتنې په مټ د درک وړ شوې ده.

**بدې ورځې مه ووینې**

په دې دعا کې دوې خبرې اړینې دي. یو ځل بدې ورځې د غمونو پر ځای کارېدلې ترکیب دی، چې د مجاز خبره پکې مطرح ده. بله دا چې همدا غمونه بیا لکه د مادي شیانو غوندې لیدل شوي دي. «د یو شي لیدل» سرچینه اوېجه او « غمونه » موخنه اوېجه ګڼلای شو.

**کنډو مه سئ**

ډېرو خوږو ملګرو او آن خاوند او مېرمنې ته په ګډه کله کله همداسې دعا کوو، چې مانا یې دا ده، چې خدای مو مه بېلوه. د کنډوونه لیدلي، چې د دېوالونو د اتصال د له منځه تلو سبب شوي. نو دلته وینو چې د وصل او نه بېلېدو مفهوم د کنډو په مفهوم د درک وړ شوی دی. وصل موخنه اوېجه او کنډو سرچینه اوېجه ګڼلای شو.

**بې وزرو مه شې**

د ښېراوو په برخه کې مو د دې دعا عکس ولوست. د هماغه مفهوم بڼه اړخ دلته تصور کړئ.

نورې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

خدای دې له بدو سترګو وساته

له بلا چپ سې

له بلا هېر سې

د ښې ورځې خاوند شې
خدای دې سرلوړی لره
خوښې مو مله
خوښې مو ډېره
غمونه دې لیرې
خدای دې پر هره بلا برسېره لره
سرتوره مه سې
خدای دې داسې ورځ نه در ویني چې پرې خپه کېږې به

**پایله**

په دې څېړنه کې دا واضحه شوه، چې مفهومي استعارې څه دي او کوم ډولونه لري؛ سربېره پر دې موږ په دې هم بحث وکړ، چې پښتانه د خپل فولکلور په یوې ډېرې اړینې برخې « ښېراوو او دعاوو » کې څنګه د مفهومي استعارو په مټ بېلابېل انتزاعي مفاهیم مفهومي کوي او د درک وړ یې ګرځوي. تاسې د ډېرو ښېراوو او دعاوو بېلګې ولوستې چې د ډېرو انتزاعي مفاهیمو د مفهومي کولو لپاره یې له عیني توکو او عیني تجربو څخه استفاده کړې ده. موږ ته دا هم جوته شوه، چې پښتو ښېراوې او دعاوې هم اکثره استعارې دي. پر دې سربېره دا هم جوته شوه چې واقعاً استعارې د انساني ژوند ټوله برخه رانغاړې او دا په زغرده ویلای شو، چې ذهن او تفکر پخپله په بنسټیز ډول استعاي ماهیت لري.

**ماخذونه**


ازمون، لال پاچا.(۱۳۹۹ل). پښتو فولکلوري ادبیات. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

براتي، مرتضی. ( ۱۳۹٦ش). بررسی و ارزیابی نظریه استعاره مفهومي. فصلنامه علمي- پژوهشی مطالعات زبانی و بلاغی. شماره۱٦.
https://www.sid.ir/paper/۲۳۵٤۹۰/fa

حاجبی، ناساز تقی پوری او فخری، کامران پاشایي او عادل زاده، پروانه.( ۱۴۰۱ش). نقد تطبیقی طبقه بندی استعاره های مفهومی از دیدگاه لیکاف و جانسون با طبقه بندی جدید با شواهدی از آثار افغانی و ایشي ګورو. فصلنامه علمي پژوهشي زبان و ادب فارسی. شماره ۵۰. ایران: دانشګاه ازاد اسلامی، دانشکده علوم انساني.

راحله، حمیدزی.( ۱۴۰۲ ل). نظریه هایی زبانشناسي. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

روهیال، مطیع الله. (؟). پښتو ښراوې. https://larawbar.net/۲۵٤۹۲.html

ښکلی، اجمل.(۱۴۰۱ ل). د ژبپوهنې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

ملگری، زمری.( ۱۴۰۲ل). په پښتو متلونو او گړنو کې د مفهومي استعاري څېړنه. کابل: کابل پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه.

.

# د شیدا ټولنیز فکر

نصیراحمد طاهري[۱]

**لنډیز**

په دغه څېړنه او لیکنه کې، د کاظم خان شیدا په اجتماعي مفکوره څېړنه شوې. د کاظم خان شیدا اجتماعي مفکوره د دوو برخو څخه ډکه ده او په خپلو شعرونو کې یې ځای کړې، چې یوه برخه یې ټولنیز ښه کړه وړه دي او بله برخه یې ټولنیز بد کړه وړه دي. ما دغه دواړې برخې په خپله څېړنه کې ځای کړې دي. د دې سره سره مې لومړی د کاظم خان شیدا لنډه پېژندنه هم راوړې او څه ناڅه مې د هغې په سبک هم لیکنه کړې ده. دا چې دغه موضوع او څېړنه ما د بېلابېلو کتابونو د مطالعې او تحقیق څخه وروسته کړې. په دې لحاظ مې د څېړنې روش تحلیلي او توضیحي دی او د څېړنې ډول کتابتوني دی. دا چې دا موضوع مې د د څېړنې لپاره ولې وټاکله، ځواب یې دادی، چې په یاده برخه کې کوم څېړونکي علمي مقاله لا تر اوسه چا نه وه لیکلې او په همدې خاطر یې ارزښت هم ډېر دی. بله مهمه خبره ، چې د څېړنې موخې رانغاړي هغه داده، چې شیدا د هندي سبک او هندي ادبي ښوونځي پیرو دی، ایا په شعرونو کې یې ټولنیز افکار شته او که نه؟ همدې پوښتنې ځواب زما د څېړنې موخې رانغاړلې دي. بله مهمه خبره داده، د شیدا په شعرونو کې یوازې ټولنیز ښه کړه وړه شته او که دد ټولنیزو بدو کړو وړو یادونه هم شوې؟دا برخې زما دڅېړنې عمومي موخې رانغاړلی شي او په راتلونکې څېړنه کې ورته پوره ځوابونه هم ویل شوي.

**کلیدي کلمې:** ټولنه، سبک، شیدا، کړه وړه.

**سریزه**

کاظم خان شیدا، د پښتو ادب د دویمې دورې شاعر دی.شیدا د خوشحالن د کورنۍ څخه دی، یعنې د افضل خان خټک زوی، د اشرف خان خټک لمسی، د خوشحال خان خټک کړ وسی دی.د ژوند زمانه یې ۱۲هجري پیړی ده.(هېوادمل، ۱۳۷۹: ۲۲۱)

---

[۱] - د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو څانگې پوهنوال استاد

برېښنالیک: nasirahmad.taheri۲۰۱۵@gmail.com

شمېره: ۹۳۷۰۰۳۵۱۵۴۵+

شیدا د هندي ادبي ښوونځي پیر و؛ خو د هندي ادبي ښوونځي ټولې ځانګړنې یې پښتو شعر ته راوړې او د هندي ادبي ښوونځي ټول اساسات یې پښتو شعر ته راوړل. زه هم یقني یم، چې شیدا د هندي سبک پیر و؛ خو دا فکر هم راسره و، چې د شیدا په شعرونو کې ټولنیز افکار هم شته، په همدې موخه مې دا موخوع د علمي کنفرانس لپاره وټاکله.

**د مسالې بیان**

د کاظم خان شیدا په شعرونو کې ټولنیز افکار، یوه نوې او بکره موضوع ده، [ې لا تر اوسه د کوم څېړونکي له لوري نه ده څېړل شوې او نه هم کوم څېړونکي په دغه برخه کې علمي کنفرانس ورکړل شوی؛ نو د ټاکل کېدو یوازینۍ علت یې هم همدا و.بل دا چې کاظم خان شیدا د هندي ادبي ښوونځي پیرو شاعر و او دا هم ښکاره ده، چې د هندي ادبي ښوونځي ټول خصوصیات یې پښتو شعر ته راوړل. دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې د شیدا د اشعارو ټولنیزه مفکوره څه ډول ده؟ ایا شید په شعر کې ټولنیز فکر شته؟ او که ټولنیز فکر یې په شعرونو کې وي، بیا کوم ډول ټولنیز افکار لري؟ دا او دېته ورته نورې پوښتنې هم ځواب شوې.

**د څېړنې موخې**

دا چې ما دا موضوع د علمي کنفرانس او څېړنې لپاره ولې وټاکله، ځینې موخې مې په ذهن کې وې. د یادې موضوع په ټاکلو کې مې لومړۍ موخه داوه، چې د روښانه کړم، د شیدا په شعرونو کې ټولنیز افکار ډېر دي، چې د وړاندیزونو په څېر هم شته. دویمه موخه مې د دې موضوع د ټاکلو څخه دا وه، چې د شیدا د شعر ټولنیز ښه کړه وړه او ټولنیز بد کړه وړه، دواړه برخې د بېلګو د راوړلو سره راوړم او دا هم روښانه کړم، چې شیدا د هندي ادبي ښوونځي د ځانګړنو تر څنګ، د خپل ولس او ژبې خصوصیات هم په شعرونو کې راوړي دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱ـ د شیدا د شعرونو ټولنیز افکار په کومو برخو کې بیان شوي؟

۲ـ د شیدا په شعرونو کې د پښتو ژبې او ولس نور اصطلاحات شته او که نه یوازې د هندي سبک خصوصیات لري؟

**د موضوع شالید**

تر کومه ځایه چې ما ته ښکاره ده، په دغه برخه کې، کوم څېړونکي څېړنه نه ده کړې او یا د کوم څېړونکي له لوري په دغه برخه کې علمي کنفرانس هم نه دی وړاندې شوی؛ نو د

شالید په برخه کې ویلای شم، چې دا موضوع نوې او بکره ده.

### د څېړنې روش

د هرې موضوع څېړل او لیکل، یوې لارې او روش ته اړتیا لري، چې باید د هغې لارې او روش په رڼا کې، سرته ورسېږي او یا هم وڅېړل شي. په همدې موخه ما هم یادې موضوع د څېړلو لپاره له تحلیلي ـ توضیحي روش څخه ګټه پورته کړه او یاده موضوع مې پرې بشپړه کړه او د څېړنې ډول بیا کتابتوني دی.

### د کاظم خان شیدا په شعرونو کې ټولنیز فکر

شیدا د خوشحال خان د کورنۍ شاعر و؛ خو د خوشحال خان پیرو نه و. کاظم خان شیدا د هندي سبک ټول خصوصیات پښتو شعر ته راداخل کړل. هېواد مل صاحب لیکلي:((د هندي سبک بشپړتیا پړاوونه موږ د کاظم خان شیدا ختیک په اشعارو کې ګورو.ده په خپلو ډېرو ښکلیو او عالي اشعارو کې ددغه سبک ټو اساسات او شرایط ومنل او ددغه سبک ټول خصوصیات یې په پښتو شاعرۍ کې بشپړ کړل.))(هېوادمل، ۱۳۷۹: ۲۲۱)

له پورته خبرو څخه واضح شوه، چې شیدا د هندي سبک ټول خصوصیات پښتو شعر ته را داخل کړل او د یو بېل سبک خاوند وبلل شو.شیدا په شعر کې د هندي ادبي ښوونځي رنګ غالب ښکاري؛ خو د افغاني کلام رنګ هم پکې لیدلی شو. د دغې خبرو د لاښه ثبوت لپاره، د نازک خیال شیدا په کتاب کې راغلي دي:((باید وویل شي، چې د شیدا کلام بیخي هندي رنګ نه لري، بلکې د ده کلام د افغاني او همدي سبکونو د امتزاج آینه ده چې که چېرې مقایسه شي، نو هندي رنګ ورباندې غلبه لري.))(شینوار ساد، ۱۳۷۹: ۳۴)

د شیدا په شعرونو کې د ټولنیزو افکارو ترڅنګ نورګڼ افکار هم شته او آن تر دې چې د شعر په باره کې یو ډېر په زړه پورې بیان لري او ویلي دي:

مضمون د شعر لکه پیکر وي
رنګین الفاظ یې رخت او زېور وي
ورته ضرور دي دا دواړه څیزه
پیکر که هر څو دلربا تر وي (هېوادمل، ۱۳۷۳: ۳۱۵)

د محتوا په لحاظ د شیدا دیوان رنګین او د مطالعې وړ دی. په اشعارو کې یې هر ډول مضامین، چې په ټولنیزو فکرونو کې حساب دي، راغلي دي؛ لکه: صلح کل، تعاون او همدردي، لوړ همت، سخاوت، حرص، بخل، رښتیا، وفا، وعده، تواضع، قناعت، راز ساتنه، احسان پېژندنه، مېړنی، نامرد او ډېر داسې نور. (نایل، ۱۳۹۶: ۱۰۱)

دلته په ټولو برخو او خواوو بحث کول، ډېر وخت او کار غواړي، ما د خپلې علمي مقالې د آدانې په نظر کې نیولو سره، یو څو د نمونې په توګه یاد کړل، چې دا ټول د د شیدا په شعرونو کې شته.د څېړنې په دې برخه کې خپلې اصلي موضوع ته راګرځم.

د شیدا په شعرونو کې ټولنیز افکار په پوره دقت راوړل شوي، شیدا له ټولنې او ټولنیزو ارزښتونو سره ضم را لوی شوی؛ طبیعي خبره ده ، چې په شعر کې یې اجتماعي فکر اوځار دی . شیدا بشر دوست ، نوع پرور او دده په اصطلاح د صلح کل مبلغ ښکاري. د بینوا په قول: (( د انسان د اجتماعي سعادت اساس په صلح کل بنا بولي)) ( هېوادمل، ۱۳۹۷ : ۹ ) دده لاندې اشعار یې ښه ثبوت دی:

ځان د روغ د لیوني شه، که هوښیار یې
صلح کل د ځان پیشه، لکه صحرا کړه ( شیدا، ۱۳۹۳ : ۱۸۸ )

دا سمه خبره ده ، چې د ټولنې نیکمرغي د صلح کل پر بنسټونو ولاړه ده او د ټولنې وګړي په صلح او ارامۍ کې ژوند وکړي. شیدا هوښیار هغه بولي، چې له هر چا سره په صلح کل کې ژوند ولري. لکه څنګه چې صحرا روغ او لیوني دواړو ته ځای ورکوي؛ نو دی دې هم د متفاوتو وګړو سره د صحرا غوندې چلن وکړي.

زه غواړم، دغه ټولنیز افکار په دوو برخو وویشم، چې یوه برخه یې ټولنیز ښه کړه وړه دي او بله برخه یې ټولنیز بد کړه وړه دي، چې په یوه ټولنه کې د نابودو او یا ناسمو خلکو له لوري سرته رسېږي. د شیدا په شعرونو کې دا دواړه ډوله ټولنیز فکرونه شته او په خورا دقیق ډول ورته متوجه شوی. پورتنۍ بېلګه د ټولنیزو ښوو کړو وه. دلته به دواړهبرخې په پوره وضاحت سره راوړم.

**۱ـ د شیدا په شعرونو کې ټولنیز ښه کړه وړه**

شیدا متوجه شوی، چې ټولنیز ښه کړه وړه د هر انسان لپاره په ټولنه کې اړین او ضروري دي.باید د ټولو انسانانو خاصیت وي او نورو ته هم دا فکر ورکړي، چې ټولنیز ښه کړه وړه د خلکو سره ولري.

په مثال رنګ یم ، د حنا ګوره
زیب کړم له دست سره، جوړ یم له پا سره ( شیدا، ۱۳۹۳ : ۳۵۸ )

په پورته بیت کې هم د صلح کل خبره ده ، شیدا په ښه ډول تر ځان د لوړ او ټیټ سره د خپل مناسبت مثال وړاندې کړی دی. وایي لکه څرنګه چې نکریزې له لاسونو سره چې لوړ دي او له پښو سره چې ټیټې دي ښکلا لري ، زه هم همدغسې د نکریزو غوندې د لوړ او ټیټ سره یو ډول ښکلی ښکارم . د خلکو سره د غوره تعامل څرک یې له لاندې بیت

څخه هم ښکاري :

شگفته کړه، لکه لمر جبین هر چا ته
چې په تله دې سیه پوش تمام جهان شي( شیدا، ۱۳۹۳: ۳۴۵ )

په پورته بیت کې شیدا وایي ، چې له هر چا سره داسې کړه وړه ، اخلاق، معامله او تندی ورین کړه، لکه لمر چې که سبا خدای مه کړه نه وي، نو خلک به ستا په نشتون کې داسې تورې جامې اغوندي، چې ټول جهان به ورته تور او تیاره ښکاري لکه د لمر په تلو سره چې شپه راځي.

له خلکو سره مرسته، همدلي، د نیازمندو لاسنیوی، د ژرندې په څېر هر انسان د بل انسان سره رویه ولري، هر کله او هر وخت د بل سره مرسته وکړي، یوبل ته د ورورولۍ لاس ورکړي، زړونه یې باید صاف وي، بدبیني او بدنیتي ونه لري، د اجتماعي مفکورې، چې ټولنیز ښه کړه وړه بیانوي، بل اړخ دی، چې شیدا یې په لاندې ډول ورته نغوته کوي:

همیشه د بل په کار کې قدم سایه
ځاربده تر خپل همت لکه آسیا کړه
تر غرمې دې د اقبال زوال لیده شي
و عالم و ته زړه صاف لکه سبا کړه
نتیجه یې روښني ډېره گرمي ده
تل په شان د تناره خشکه غذا کړه ( شیدا، ۱۳۹۳: ۱۸۸ )

د اجتماعي مفکورې په مورد ، چې ټولنیز ښه کړه وړه بیانولی شي، هغه د علم حاصلول دي؛ نو هغه کس چې نورو ته علم وربښيي، شیدا څومره مبارک گڼلي لکه چې وایي:

افروخته یې وي محفل په شان د شمع
چې سوخته د بل په کار کې خپل دماغ کا( شیدا، ۱۳۹۳ : ۹۷ )

بل ځای کې شیدا له خلکو سره ښېگڼه کول ، د هغوی عیبونه پټول د خپل ځان ساتل او پاسباني گڼلې وایي :

تل د بل پاسبان د خپل صورت پاسبان وي
حلقه وگوره پر دا تر ځان چاپیره ( شیدا، ۱۳۹۳ : ۱۸۳ )

د ټولنیزو ښو کړو وړو نورې بېلگې هم شته، مثلاً د قناعت په برخه کې ډېرې ښې خبرې لري او ټولو ته یې دا پیغام دی، هغه څه چې الله (ج) ورکړي په هغې قناعت ولري او نورو ته طمع ونه لري. د ډېرو پیسو او مال د جمع کولو هیله ونه ساتي. دلته غواړم، چې

نور شعرونه یې هم راوړم:

په لږ قانع شه خاطر کړه جمع
لرې له زړه کړه د ډېرو طمع
چې قناعت یې په سیم ونه کړه
سر بریده شوه په زرو شمع (شیدا، ۱۳۸۴: ۳۴۴)

شیدا د ښو خلکو او د مېړنیو خلکو صفتونه هم بیان کړي او دا یې ویلي، چې ښه خلک، مېړني خلک د لویو غرونو په څېر دي، سختیو کې خپل سرونه نه ټیټوي او تل د لویو غرونو په څېر هسک ولاړ وي؛ خو که څوک په توندۍ ورته ویل وکا، بیا ورو خبره نه ورته کوي او زغرده خپله دفاع هم کوي. لاندې بیتونه یې ښه وضاحت کولای شي:

ښه مردان لري همت د لویو غرونو
په سختۍ کې به خپل سر کله فرو کا
که رستم ورته ویل کا په توندۍ
په جواب کې یې خبره کله وروکا (شیدا، ۱۳۸۴: ۴۳۰)

شیدا دا وړاندیز لري، چې زحمت باید وشي، داسط زحمت باید وشي، لکه هغه کسان چې د ریګونو څخه د طلا دانې بېلوي.، په دې باب وایي:

اورېدلی مې دا پند دی له هوشمنده
چې حاصل به په محنت کړې زر له رېګه
که خپل سر ورته نغری کړې ممکن نه دی
چې څه وخورې د ممسک سړي له دېګه(شیدا، ۱۳۸۴: ۴۳۶)

**۲ـ ټولنیز بد کړه وړه**

د شیدا په شعرونو کې هغه کړه وړه غندل شوي، چې هغه ناوړه دي او خلکو ته یې ضرر رسېږي. په تېره بیا هغه څوک یې غندلي، چې د خولې او زړه خبره یې یوه نه وي او په یوه خوله کې څو ژبې لري، یعنې بې قوله وي، په خوله یې یوه ،ې او په زړه یې بله وي، په ظاهري شکل ښه رویه لري او په باطن کې بیا غیبت کوي، بد وایي او دهغې پر وړاندې د ګل د غنچې په څېر خاموشي ښه ده. لاندې بیتونو ته یې پام وکړئ:

چې رښتیا یې په کلام کې شیدا نه وي

انفعال کا خاموشي په انجمن کې
د سوسن د ګل غنچه ګوره ساکته
چې یې ژبه یوه نه ده په دهن کې(شیدا، ۱۳۸۴: ۴۳۰)

شیدا هغه کسان هم غندي، چې د بل لاسنیوی نه کوي او د ممسک والي خاصیت لري وایي :

چې ممسکان کا سیم او زر جمع
په صرف یې ژاړي مانند د شمع
که یې په سیم وي کیسه لبریزه
له غیره کاندې د زرو طمع

بل ځای وایي :

آب و دانه لرې شومه حبابه
نس دې خالي دی جوع کړې بې تابه
تله یې له تا نه په تعجیل وینم
ولې یې نه خورې خانه خرابه ( شیدا، ۱۳۹۳ : ۳۵۱ )

یا:

اوربدلی مې دا پند دی له هوشمنده
چې حاصل به په محنت کړې زر له ربګه
که خپل سر ورته نغری کړې ممکن نه دی
چې څه وخورې د ممسک سړي له دېګه(شیدا، ۱۳۸۴: ۴۳۶)

له پورته څرګندونو څخه ښکاري، چې نازکخیال شاعر کاظم خان شیدا، په خپل هنر او فن کې ګڼو اجتماعي افکارو ته ځای ورکړی دی او ځان د ټولنیزو مسایلو څخه اګاه بولي. په خپلو اشعارو کې یې د ټولنیز ژوند د ښیرازۍ زړي پراته دي.

دا ښکاره خبره ده، چې د هر شاعر په شعرونو کې د ژوند هره برخه وي او یا حد اقل ویلای شو، چې د ژوند ډېری برخې د یو شاعر په شعرونو کې راغلې وي. په دې ترتیب د شیدا په اشعارو کې ډېر داسې شعرونه شته، چې ټولنیز فکر لري. دلته د خپل کنفرانس لپاره، چې د طوالت لوري ته لاړ نشي، په پورته بیتونو او فکرونو بسنه کوم.

**پایله**

د پورته لیکنې او څېړنې څخه دا پایله لاس ته راغله، چې شیدا د خوشحال خان خټک د کورنۍ څخه و؛ خو د شعرونو سبک یې بېل و او په شعرونو کې د هندي ادبي ښوونځي خصوصیات لیدلی شو. د شیدا په شعرونو کې د هندي سبک د ځانګړنو او نورو ګڼو خصوصیاتو ترڅنګ، ټولنیز فکر هم خورا غالب دی او ټولنیز ښه کړه وړه او ټولنیز بد کړه وړه یې په شعرونو کې په پوره اندازه لیدلی شو.

**اخځلیکونه**


شیدا ، کاظم خان.( ۱۳۸۴ ل). د کاظم خان شیدا دیوان. تدوین ، سریزه ، یادښتونه او ویپانگه : حنیف خلیل ، پېښور : دانش خپرندویه ټولنه .

شینواری، ساد، خیرمحمد.(۱۳۷۹).نازکخیال شیدا.روسیه: مسکو.

هېوادمل، زلمی.(۱۳۷۹). د پښتو ادبیاتوتاریخ(لرغونې او منځنۍ دوره). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

هېوادمل، زلمی.(۱۳۷۳).په هند کې د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه.دویم چاپ.لاهور: شرکت پرنټنگ پریس.

هیوادمل ، زلمی ، ۱۳۹۷ ل ، د شیدا فکر او هنر : د ماسترۍ درسي لېکچر نوټ .

نایل، سیدمجتبی.(۱۳۹۶).کاظم خان شیدا او محمد گل نوري.پژوهش مجله.نهمه گڼه.بغلان پوهنتون.

## د چوکاټي ماناپوهنې پر بنسټ د مفاهيمو څېړنه

تاج محمد رحيمي[1]

**لنډيز**

د ژبپوهنې په برخه کې ورځ تر بلې نوې نوې نظريې رامنځته کېږي او د همدې نظريو په مرسته د ژبپوهنې نوي اړخونه روښانه کېږي. د معاصرو ګرامرونو په لړ کې يو هم ادراکي ژپوهنه ده، چې ژبه له مختلفو لارو په عملي ډول د تطبيق لپاره چمتو کوي. په همدې ادراکي ژبپوهنه کې د چوکاټي مانا پوهنې موضوع هم د پاملرنې وړ ده. چوکاټي مانا پوهنه د مفاهيمو د تشريح او څېړنې لپاره يوه لاره ده. د لغاتو د چوکاټونو په مرسته کولی شو، په ډېرو مفاهيمو پوه شو، د چوکاټي ماناپوهنې په برخه کې ډېر نوي معلومات څرګندېږي او د ژبې په غنا کې مرسته کولی شي. په دې څېړنه کې له بېلابېلو کتابونو او مقالو ګټه اخيستل شوې او د ښې پوهېدنې لپاره يې بېلګې هم وړاندې شوي، چې د موضوع اصلي برخې پرې قوي شوي دي.

**آروييونه:** چوکاټ، مفاهيم، مانا، عناصر، توکي

**سريزه**

چوکاټي مانا پوهنه د ادراکي ژبپوهنې اړوند بحث دی. په دغه بحث کې خبره د مانا په چوکاټ پورې اړوند ده. په ادراکي ژبپوهنه کې د چوکاټي ماناپوهنې بحث ډېر پراخ دی، چې په هغې کې بېلابېلې برخې نغاړل کېږي. همدا چوکاټونه دي، چې د مانا په پوهېدنه کې له لوستونکي سره مرسته کوي همدارنګه د لغاتو په پوهېدو کې هم مرسته کوي. کله، چې د يو لغت چوکاټ رامنځته کېږي، نو له هغې سره نږدې ډېر مفاهيم روښانه کېږي. د بېلګې په ډول که موږ د (واده) پورې اړوند يو چوکاټ جوړ کړو، نو د واده سره تړلې ټولې ماناوې او مفاهيم روښانه کوي. يا که د (پخلنځي) اړوند چوکاټ په پام کې ونيسو، نو د پخلنځي سره تړل شوي ټول مفاهيم واضحه کوي. همدارنګه کلمې د چوکاټونو برخو ته هم اشاره کوي. کله، چې د کلمې په مانا او مفهوم پوه شو، نو بيا د چوکاټونو په ټولو

[1] - د پنجشېر د لوړو زده‌کړو موسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې پوهنمل استاد

برېښناليک: taj٤٧٥٣@gmail.com

شمېره: +۹۳۷۳۰۹۹۹۱۴۴

برخو پوهېدلی شو. د یادونې وړ ده، چې کله د چوکاټي مانا پوهنې بحث کو، د موقعیت پېژندنه هم اړینه ده او موږ د لغت یا کلمې له موقعیت څخه د هغې په چوکاټ او مفاهیمو یا مانا پوهېدلی شو. د کلمې معنی د چوکاټونو ټولو برخو ته اشاره کوي او موږ ته په مفاهیمو پوهېدو کې لاره هواروي. کله، چې د چوکاټي مانا پوهنې خبره کېږي، نو په هغې پورې نورې ډېرې خبرې تړلې وي. په فریم سمینټیکس کې چوکاټونه او د هغوی اړوند عناصر هم تر بحث لاندې نیول ضرور دي. هر چوکاټ خپل عناصر لري او همدا عناصر د مفهوم په جوړونه او وړاندې کولو کې مرسته کوي. یعنې کله، چې یو چوکاټ رامنځته کېږي هغه حتماً خپل اړوند توکي لري او د هماغه توکو پر مټ مفهومسازي کېږي. د چوکاټي مانا پوهنې په مرسته کلتوري مواد هم منعکس کېږي او خلکو ته وړاندې کېږي همدارنګه د همدې چوکاټي مانا پوهنې په مرسته د ډېرو مفاهیمو څېرنه شونې ده.

**د موضوع ارزښت**

په پښتو ژبه کې د چوکاټي مانا پوهنې بحث ډېر تت دی او ډېر کار ته اړتیا لري، د دې څېړنې ارزښت دا دی، چې د چوکاټي ماناپوهنې کارونه په پښتو ژبه کې عامه شي. بل ارزښت یې دا دی، چې لوستونکي د چوکاټي ماناپوهنې په کارونه پوهه شي او په راتلونکي کې یې د پښتو ژبې په اډانه کې د ګټې وړ وګرځوي.

**د څېړنې مخینه**

چوکاټي مانا پوهنه د ادراکي ژبپوهنې اړوند موضوع ده، د چوکاټونو په مرسته نوي چوکاټونه، نوي مفاهیم، د کلتورنو منعکس کول او داسې نور ډېر موضوعات څېړل کېږي. د نویو نظریو په رامنځته کېدو سره نوي موضوعات مخته راغلل، چې د انسان د ادراک سره تړاو لري، په ادراکي ژبپوهنه کې یوه موضوع د چوکاټي مانا پوهنې ده، چې د دې په مرسته ډېر معلومات شریکېدلی شي، دا چې پښتو ژبه د ګرامر په برخه کې اوس نوې له نویو نظریو سره مخ کېږي او ځوانو کادرونو ورته مخه کړې، خو بیا هم په کومه کچه، چې اړتیا ده لا تر اوسه په دې برخه کې پوره کار نه دی شوی. د چوکاټي ماناپوهنې پر بنسټ د مفاهیمو څېرنه موضوع لپاره مې بېلابېل کتابونه وپلټل او کوښښ مې وکړ، چې په پښتو ژبه کې ورته مواد پیدا کړم، خو تر کومه چې زما وس وه او خپل کوښښ مې وکړ ما ته د همدې مشخصې موضوع تر عنوان لاندې مواد تر سترګو نه شو او یا به زه نه یم توانیدلی، چې تر لاسه یې کړم، خو بیا هم په دې څېړنه کې په نورو ژبو د شوو کارونو پر مټ تر یوه حده موضوع راټوله شوه، په ځوانو کادرونو کې لومړنی کس، چې د ادراکي ژبپوهنې لپاره یې کار کړی هغه پوهاند دوکتور اجمل ښکلی دی، نوموړي په خپل کتاب ( د ادراکي

ژبپوهنې نظریې) کې، چې په ۱۴۰۱ لمریز کال د پکتوس خپرندویه ټولنې لخوا خپور شوی، د ادراکي ژبپوهنې په اړه ډېر ګټور او هر اړخیز معلومات لري، خو زما د موضوع اړوند مشخص معلومات په کې په نشت حساب دي او یوازې په یوه برخه کې یې په یوه جمله کې یادونه شوې ده، چې ما یې هم په دې مقاله کې یادونه وکړه. د مانا پوهنې په اړه، چې بل کتاب لیکل شوی هغه د ذبیح الله صاحب ارغند د (ماناپوهنه) نومې اثر دی، چې په ۱۳۹۶ لمریز کال د پکتوس خپرندویې ټولنې لخوا چاپ شوی، ارغند د مانا پوهنې اړوند مختلف نظرونه او موضوعات څېړلي دي، خو زما د موضوع اړوند مشخص معلومات په کې ما پیدا نکړل، د ارغند په کتاب کې د مانا پوهنې اړوند نور ډېر خواره واره معلومات په پراخه کچه تشریح شوي. مجاور احمد زیار په خپل کتاب (پښتو مانا پوهنه)، چې په ۱۳۹۶ لمریز کال د دانش خپرندویه ټولنې لخوا خپور شوی، د ماناپوهنې مفاهیم او معلومات ډېر ښه واضحه کړي، خو د چوکاټي مانا پوهنې په اړه یې بحث نه دی څرګند کړی. همدارنګه محمد مصطفی سمون د (ادراک او مانا) تر عنوان لاندې د مقالو یوه ټولګه چاپ کړې، چې دا کتاب یې د سمون خپرندویه ټولنې لخوا په ۱۴۰۲ لمریزکال خپور کړی، په دې کتاب کې هم یواځې د ادراک او مانا په اړه ځینې نظریې او معلومات تشریح شوي، خو چوکاټي مانا پوهنې ته یې پام شوی نه دی. د دې ترڅنګ اجمل ښکلي د ادراکي ژبپوهنې په لکچر نوټونو کې چې د ۱۴۰۲ کال د دوکتورا برنامې سکالرانو ته یې تدریس کوي، په هغې کې د چوکاټي ماناپوهنې اړوند ځینې موضوعات تشریح شوي، خو په بشپړ ډول په کې وضاحت نه دی شوی.

د چوکاټي مانا پوهنې په برخه کې په انګلیسي ژبه کې کار شوی او په دې برخه کې فیلمور د (Frame Semantics) تر عنوان لاندې کتاب لیکلی او په هغې کې د چوکاټي مانا پوهنې اړوند مختلف موضوعات تشریح کړي، چې په دې مقاله کې ترې ګټه اخیستل شوې، د دې ترڅنګ هیلبرټ مارټن هم په خپله تدریسي ویډیو کې د فیلمور چوکاټي مانا پوهنه تشریح کړې او په ډېره ښه توګه یې وضاحتونه روښانه کړي دي. بل کس چې د چوکاټي مانا پوهنې په برخه کې کار کړی هغه Gawron, Jean Mark نومېږي، نوموړي د Frame Semantics تر عنوان لاندې کتاب لیکلی، خو نوموړي هم له فیلمور څخه په ګټې اخیستنې خپل اثر بشپړ کړی. همدارنګه Hilbert،Martin هم د فیلمور چوکاټي مانا پوهنه په خپله یوه تدریسي ویډیو کې ډېره واضحه کړې او مختلف مثالونه یې وړاندې کړي دي. د دې ترڅنګ John B. Lowe, CoIHn F. Baker, Charles J. Fil lmore دوی هم د فیلمور له ګرامر څخه ګټه اخیستې او د چوکاټي مانا پوهنې اړوند

موضـوعات یـې پـه خپـل اثـر A Frame-Semantic Approach to Semantic Annotation کې واضـحه کـړي دي، چـې دا کتـاب پـه ۲۰۰۸م کـال د university of NEUCHATEL لخوا خپور شوی. د موضوع اړوند نور خواره واره معلومـات هـم خپـاره شوي، چې ځینو ته یې زما لاس رسی اسـان نـه و او لـه ځینـو مـې پـه دې لیکنـه کـې ګټـه اخیستې ده.

**اصله موضوع**

مخکې له دې، چې پر چوکاټي مانا پوهنه او د همدې پوهې پر بنسټ د مفهـامو پـر ځیرنـه بحث وکړو، اړینه ده، چې لوړی د همدې موضوع اړوند ځینې مفاهیم وپېژنو او بیا سلسله په سلسله موضوع پر مخ یوسو. کله، چې د چوکـاټي مانـا پـوهې بحـث مطـرح کېـږي، نـو لوړی خبره په کې د مانا پوهنې یا ( Semantic) مخته راځي. د مانا پوهنې په اړه مختلفـو ژبپوهانو خپل تعریفونه راوړي، چې دلته یې د ځو تعریفونو راوړنه اړینه ده.

**ماناپوهنه**

پوهاند مجاور احمد زیار پـه خپـل کتـاب (پښـتو مانـا پوهنـه) کـې د مانـا پـوهنې پـه اړه د اکسپورد ویبی پانګې ( اکسپورډ ډیکشنری) له مخې داسې وايي: ( مانا پوهنه د ژبپـوهنې او سولپوهې ( منطق) یوه داسې څانګه ده، چې له مانا سره تړاو لري، وییز ( لغوي) ماناپوهنه د ویي د ( بېلابېلو) ماناوو له شننې سره کار لري.

د مانا پوهنې لیکوال ( پیلمور یا پالمور) د ماناپوهنې په اړه داسې وایي: ( ټولو ژبپوهانو مانا پوهنه سیده او ناسیده د ژبپوهنې د یوې څانګې په توګه منلې، داسـې چـې پـه یـوه سر کې یې ماناپوهنه ټیکاو لري او په بل سر کې یې غږ پوهنه او په منځ و میانه کې یې پښـویه (ګرامر)، هر ګوره دا په دې مانا نه ده، چې ژبپوهنه همدا درې څانګې دي. ( زیـار، ۱۳۹۶: ۱۸ -۱۹)

ذبیح الله صاحب ارغند بیا په خپله اثر ( مانا پوهنه) کې د مانا پوهنې او معاني یا مانا او معاني په اړه په توپیرونو زیات بحث کړئ. نوموړي په خپل اثر کې د مانا پوهنې او معـاني پوهنې تر بحثونو وروسته په نتیجه کې داسـې لـیکلي دي: ( د معـاني او مانـاپوهنې تـرمنځ ځینې توپیرونه ښکاري. معاني د اپوهنې څانګه ده، خو سیمانټیکس بیا د ژپـوهنې څانګـه ده. په سیمانټیکس کې د « لغت پوهنې» ( اشاره یې مانا پوهنه، لغوي مانا پوهنه، جملـه یـې مانا پوهنه او د وینا مانا پوهنه تر بحث لاندې نیو کېږي.).( ارغند، ۱۳۹۶: ۲۱)

**مفهوم**

د چوکاټي ماناپوهنې پـر بنسـټ د مفـاهیمو ځیرنـې بلـه برخـه د مفـاهیمو ده. کلـه، چـې د

چوکاټي ماناپوهنې پر بنسټ مفاهیمو څېرو یا تشریح کوو، نو اړینه ده، چې لومړی د مفهوم یا مفاهیمو پر مانا ځان پوه کړو، بیا یې پرمخ یوسو. د کابل پوهنتون استاد پوهاند دوکتور اجمل ښکلی په خپل (د ژبپوهنې نظریې) کې د مفهوم په اړه داسې وایي: (مفهوم د منطق بحث دی، خو په ژبپوهنه او ادب کې هم پرې بحث کېږي، ځکه چې په ادبیاتو کې د مضمون او فکر او په ژبپوهنه کې د مفاهیمو د درک خبره له مفهوم سره تړاو لري. مفهوم، چې له رغښت او انتزاع سره تړاو ولري، ترکیبي خصوصیت پیدا کوي، مفهوم زموږ ذهني حالت یا تصور دی، چې زموږ له تجربې او فکر سره تړاو لري.) (ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۷۲ - ۱۷۳)

محمد مصطفی سمون په خپل کتاب (ادراک او مانا) کې، چې د ژبپوهنې د لیکنو ټولګه ده. د مفهوم په اړه داسې وایي: (مفهوم هغه توک دی، چې د مانا په درک کې راسره مرسته کوي. مفهوم یو ذهني حالت دی او په حقیقت کې، چې کله یو فکر او تصور وړاندې شي او مانا ولري، نو مفهوم هم لري.). (سمون، ۱۴۰۲: ۱۹)

مجاور احمد زیار بیا په خپل کتاب (پښتو مانا پوهنه) کې د مفهوم او مصداق خبره کړې، هغې د پالمر یادونه کړې چې وایي: (د مصداق نومونه تر مفهوم څخه هم په پراخه کچه کارول کېږي، چې د مانا دوه بېلابېل، خو سره وبله تړلي اړخونه راسپړي، مصداق یو خوا د ژبتوکو، لکه ویي، غونډلې او نور ترمنځ له تړاو او بلخوا د بهرنۍ نړۍ له ناژبنیو ازمېښتونو سره کار لري. مفهوم بیا د پېچلې رابطې نظام له هغو اړیکو سره بوختېږي، چې د ژبتوکو او دود سره سم د (وییونو) ترمنځ شتون لري او (په دې ډول) د ژبې دننې اړیکې رانغاړي.) ( (زیار، ۱۳۹۶: ۸۴)

**فریم سمیانټیک یا چوکاټي مانا پوهنه**

چوکاټي مانا پوهنه هغې پوهې ته ویل کېږي، چې د لغاتو پر چوکاټ او مفاهمو بحث کوي. چوکاټي مانا پوهنه یا فریم سیمانټیک د کلمو معنی ته د کتلو یوه ځانګړې لاره وړاندې کوي، په بیله بیا د نویو کلمو او جملو د رامینځته کولو لپاره، د کلمو د نوي معنی اضافه کولو، او په متن کې د عناصرو معنی په ټولیز معنی کې راټولولو لپاره د اصولو ځانګړتیاوو یوه لاره وړاندې کوي.

د متن څخه. د "چوکاټ" په اصطلاح کې په ذهن کې د مفاهیمو سیستم په داسې ډول توضیح کوي، چې د دوی د هر یو د پوهیدو لپاره باید ټول جوړښت درک شي. چې په کوم ځای کې یې کارونه مناسبه وي.

د چوکاټ کلمه لکه څنګه، چې دلته د مفاهیمو د مجموعې لپاره د عمومي پوهې

اصطلاح کارول کيږي، چې په مختلفو ډولونو پيژندل شوي، د طبيعي ژبې د پوهاوي په ادب کې، لکه 'سکيما'، 'سکريپټ'، 'سناريو'، 'ايډيشنل سکاف فولډينګ'. '،' ادراکي ماډل'، يا 'لوک تيوري'.

د چوکاټ سيمانتيک اصلي تمرکز په تجربوي سيمانتيکونو کې د څيړنې برنامې او د کلمو معنی درک کولو ، نوي کلمو رامينځته کولو او د متن معنی تشريح کولو لپاره د توضيحي چوکاټ په توګه وړاندې کول دي. دا په چوکاټونو کې د مفاهيمو يو بل سره تړلي طبيعت او د ژبې او تجربې ترمينځ په اړيکو ټينګار کوي.

چوکاټي مانا پوهنه د رسمي سيمانټيکونو يوه څانګه ده، چې د رياضيکي او منطقي چوکاټونو په کارولو سره په طبيعي ژبه کې د معنی پر مطالعې تمرکز کوي. دا چوکاټونه د ژبني بيانونو د معنی استازيتوب او تحليل لپاره رسمي جوړښت چمتو کوي، لکه کلمې او جملې.( ګاورون،۲۰۰۸ : ۴)

د مفهومسازۍ په اړه لنګکر وايي: هره کلمه د خپل چوکاټ په اساس مفهوم سازي کيږي او دويم شخص هم يو ډول نه يو ډول د مفهوم سازی په اساس مفهومي کوي.

مثال: کله چې وايو احمد فوټبال کوي. يا فوټبالر دی، نو دلته د فوټبالر په چوکاټ پورې اړوند مفهايم پراته دي لکه: ميدان، لوبه، فوټبال، نندارچيان، لوبغاړان، ساتونکي... او داسې نور، چې د فوټبالر چوکاټ يې مفهوم سازي کړی دی.

يا که وايو محصل : د محصل اړوند نور ډېر مفهام پراته دي، چې د محصل چوکاټ ته يې پرخوالی ورکړی، لکه: پوهنځی، پوهنتون، قلم، کتاب، چپټر، ټولګی، چوکی، پروجکټور، ښوونکی، ټولګيوال... او داسې نور، چې دې ته چوکاټ وايي. لنګکر په اصل کې په فريم سمنټکس يا چوکاټي مانا پوهنې لږ څه ورزيات کړل او مفهومي حوزه يې ترې جوړه کړه. مفهومي حوزه هم داسې يو څيز دی، چې مخکې له مخکې يوه حوزه موجوده ده، چې په يو چوکاټ کې راښکاره کيږي. په اصل کې دې ته مفهومي حوزه ويل کيږي. ( ښکلی، ۱۴۰۳ : ۳۰).

### ۱. چوکاټونه د لغاتو په پوهېدو کې مرسته کوي

د چوکاټونو پوهه ويناوالو ته د دې زمينه برابروي، چې د کلمو لوی ګروپونه درک کړي، يعنې د همدې چوکاټي مانا پوهنې په مرسته کولی شو، د کلماتو او لغاتو لوی لوی ګروپونه او حوزې وپېژنو. د بېلګې به ډول به دلته ځينې مثالونه راوړو، چې په لاندې ډول دي:

| فوټبال اړوند فریم یا چوکاټ | مفاهیم |
|---|---|
| گولکیپر | گولکیپر: د جال مخ ته ولاړ کس دی، چې د گول کولو مخه نیسي. |
| لوبغاړی یا ریفري | ریفري: په میدان کې قضاوت او فیصله کوي |
| لوبغاړي | لوبغاړي: ټول خوځند په حرکت دي او منډې وهي |
| کارنر یا کونج | کارنر: د میدان کونج دی، چې د تخطی پر وخت ټول لوبغاړي د میدان مخ ته راټولېږي او یو نفر بال شوټ کوي. |
| فاول | فاول: تیروتنه ده، چې د ریفري لخوا لوبغاړي ته اختار ورکول کېږي. |
| گول | گول: د نمرو اخیستلو لپاره د مقابل میدان ته بال داخلول دي. |
| جال | جال د میدان په منځ کې وي، چې گولکیپر ورته دفاع لپاره واړ وي. |
| میدان | میدان: هغه لینډ مارک دی چې لوبغاړي او لوبغاړان په کې منډې وهي |
| له میدانه بهر ساحه | له میدانه بهر ساحې ته د بال د تگ په صورت کې اوټ شمېرل کېږي |
| نندارچیان | نندارچیان د لوبې لیدونکي او د خپلو لوبغاړو تشویقوونکي دي. |

پورته د فوټبال چوکاټ راوړل شوی، چې د هغې اړوند مفاهیم او لغات هم ذکر شوي. فوټبال یو چوکاټ دی او لاندې نور د هغې اړوند لغات دي، چې د همدې فوټبال ټول مفاهیم په کې پراته دي(هیلبرټ، ۲۰۲۰/۵/ :[۱] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a? ).

**۲. د کلمې معنی د چوکاټونو برخو ته اشاره کوي**

کله، چې د کلمې په مانا او مفهوم پوه شو، نو بیا د چوکاټونو په ټولو برخو پوهېدلی شو. د یادونې وړ ده، چې کله د چوکاټي مانا پوهنې بحث کو، د موقعیت پېژندنه هم اړینه ده او موږ د لغت یا کلمې له موقعیت څخه د هغې په چوکاټ او مفاهیمو یا مانا پوهېدلی شو. د کلمې معنی د چوکاټونو ټولو برخو ته اشاره کوي او موږ ته په مفاهیمو پوهېدو کې لاره هواروي، د دې موضوع د لا ښه وضاحت لپاره به ځینې بېلگې راوړ، چې په لاندې ډول دي:

مونږ په چوکاټي مانا پوهنه کې د هرې برخې لپاره یو چوکاټ لرو، چې په هماغه

---

[۱] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?

چوکاټ کې يې مفاهيم ځای پر ځای کېږي. فرض کړئ د ( اونۍ ) چوکاټ په پام کې نيسو او بيا د اونۍ په چوکاټ کې د ( جمع ) په ورځ بحث کو، نو د جمعې مانا د اونۍ د چوکاټ يوه برخه ده، چې په اوو ورځو کې د وقفې يا دمې په مانا په ذهن کې ساتل کېږي.يعنې کله چې د جمعې ورځ شي، نو ټول خلک د رخصتی، چکر وهلو او يا هم د مړي او ژوندي په اړه خپل پلانونه عملي کوي.چې د همدې وقفو ورستی ورځ د جمعې په نوم ده يادېږي.

د جمعې ورځ د اونۍ د چوکاټ يوه برخه ده. په اونۍ کې اوه ورځې دي، چې له شنبې تر جمعې رسېږي. ورستی ورځ يې جمع او د رخصتی ورځ ده. اونۍ د جنتري له مخې په اوه ورځو ويشل کېږي، چې اومه ورځ يې جمع ده. نو د دې لپاره لاندې چوکاټ جوړولی شو:

| د اونۍ چوکاټ | اړوند |
|---|---|
| جمع | شنبه |
| | يکشنبه |
| | دوشنبه |
| | سه شنبه |
| | چهار شنبه |
| | پنجشنبه |

د لته جمع د رخصت په مانا يا مفهوم راغلې، د رخصتی معنی دا ده، چې دا د کاري ژوند د چوکاټ يوه برخه ده:

انسان په خپل کاري ژوند کې يوه برخه لري، چې هغې ته رخصتي ويل کېږي. په دې رخصتی کې چکر ته ځي، مصرف کوي او ځو ورځې خوشحاله تېروي او دا په حقيقت کې د انسان د کاري حقوقو څخه ګڼل کېږي، چې ګټه ترې واخلي. په رخصتيو کې سفرونه کوي، مېلې کوي له خپلو ملګرو او کورنۍ له غړو سره چکرو ته ځي.( هيلبرټ، ۲۰۲۰/۵/ ۱(https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?).

[1] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?

### ۳. د کلمو پر مټ چوکاټونه رامنځته کېږي

لکه په لاندې ډول:

**چوکاټ** — **د زېږېدنې ورځ**

- هر انسان د زېږون ورځ لري.
- دا ورځ هر کال له ملګرو او کورنۍ سره لمانځل کېږي.
- په دې ورځ ډالۍ تر لاسه کېږي.
- په دې ورځ کیک چمتو کېږي.
- د زېږون په ورځ شمعې بلې وي او دا کال په عددونو جوړ شوی وي.
- د کوم کس، چې د زېږون ورځ وي هغه شمعې پوه کوي او مړې کوي یې.

هیلبرټ، ۲۰۲۰/۵/: (https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?)[1].

پورته چوکاټ د کلمو پر مټ جوړ شوی، د زېږون ورځ ده، چې د هر انسان پـه ژونـد کې هر کال راځي، ځینې یې لمانځي او ځینې یې نه لمانځي.

| چوکاټ | لغات ( words ) | | | |
|---|---|---|---|---|
| **واده** | ناوې | د واده زلمی | خسرګنی | زوم |
| | مېره | جنج یا ورا | د واده شپه | نکاح |
| | شڅه | ولیمه | مهر | د خلکو راټولېدنه |

پورته د ( واده ) یو چوکاټ یا فریم دی، چې پـه هغـې پـورې اړونـد مختلـف تـوکي او قضې تړلې دي. کله، چې د واده په اړه خبرې کېږي، نو په ذهن کې دا پورتـه ټـولې قضـې ذهن ته لوېږي او بیا دا هر لغت خپل مفهوم افاده کوي. یا که وایو د واده زلمی راغـی، نـو پرته له دې، چې فکر پرې وکړو، ذهن ته مو د واده چوکاټ راځي او په دې پـوهېږو، چې حتماً د واده اړوند کوم پروګرام یا د واده مراسم دي، چې د واده زلمی په کې مو جود دی.

---

[1] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?

د یادونې وړ ده، چې ځینې واړه گشتالټونه هم جوړېدی شي، یعنې داسې چوکاټونه هم رامنځته کېږي، چې کېدای شي یو توکی یا عنصر ولري. کله کله د هر چوکاټ هر عنصر۔ نور چوکاټونه رامنځته کولی شي. په پورته چوکاټ کې ( واده) یوه کلمه ده، خو چوکاټ یې رامنځته کړی او مختلف توکي ورپورې اړوند شوي، چې د واده مفهوم ترې افاده کېدی شي. هره خپلواکه کلمه یو چوکاټ جوړولی شي، چې بیا همدا چوکاټونه د هغوی مفاهیم مفهومسازي کوي.

| **چوکاټ** | **لغات ( words )** | | | |
|---|---|---|---|---|
| طلاق | محکمه | وکیل | میره او ښځه | شاهدان |
| | مهر | د سرمایې موجودیت | د نجلۍ مور او پلار | د هلک مور او پلار |

پورتنی چوکاټ د طلاق اړوند یو فریم یا چوکاټ دی، چې د چوکاټي مانا پوهنې له مخې یې مفاهیم داسې څېړل کېږي. کله، چې د طلاق ذکر کېږي، لومړی یې موقعیتونه په نظر کې نیسو، چې دا کار په کوم موقعیت یا ځای کې ترسره کېږي. که په افغانستان کې وي، نو دلته جلا مفاهیم لري او که له افغانستانه بهر وي هلته جلا. کله چې د دوو کسانو ښځې او خاوند ترمنځ طلاق واقع کېږي، نو لازمه ده، چې هلته به د ښځې او خاوند موجودیت او رضایت وي، مهر او نکاح خط به راوړل کېږي، شاهدان به مو جود وي، د خاوند لخوا به مېرمن ته ټاکل شوی مهر ورکوي او په نورو هېوادونو کې د خاوند سرمایه هم له ښځې سره تقسیمېږي، چې دا ټول مفاهیم د طلاق په چوکاټ پورې تړل شوي دي.

| چوکاټ | لغات ( words ) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د جنتري یا کلنډر اړوند چوکاټ** | شنبه | یکشنبه | دوشنبه | سه شنبه | چهار شنبه | پنجشنبه | جمع |
| | ورځې | اونۍ | میاشتې | حمل اوری | ثور غوایی | جوزا | تر حوت |
| | سهار | غرمه | ماښام | پېړۍ | تاریخي پېښې | د روځو اړوند پېښې | د ازادۍ ورځ |

کله، چې د جنتری یا کلنډر چوکاټ جوړو، د هغې پورې اړوند ټول مفاهیم ذهن ته راځي، لومړی دا، چې ورځې شپې، د ورځو نومونه، د میاشتو نومونه، کال، پېړۍ، د ورځو اړوند پېښې، تاریخونه او داسې نور. مطلب دا، چې د پورته چوکاټ په مرسته په ډېرو

مفاهیمو پوهېدلی شو. (ګاورون ،۱۴:۲۰۰۸ ).

| چوکاټ | لغات ( words ) | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د هوا حالتو اړوند چوکاټ | کنګل | ساړه | یخ | معتدله هوا | ترمامیټر | ټمپریچر | واوره |
| | سیلابونه | ګرمي | | | | | |

(ګاورون ،۱۴:۲۰۰۸ ).

په پورته چوکاټ کې د هوا حالتو اړوند ټول مفاهیم پراته دي، کله چې د هواحالتو په اړه بحث کېږي، نو پورته ټول مفاهیم د انسان ذهن ته راځي او د هوا اړوند ټوله سکیما یې په فعالیت پیل کوي.

**۴. چوکاټونه او د هغوی عناصر**

کله، چې د چوکاټي مانا پوهنې خبره کېږي، نو په هغې پورې نورې ډېرې خبرې تړلې وي. په فریم سمینټیکس کې چوکاټونه او د هغوی پورې اړوند عناصر هم تر بحث لاندې نیول ضرور دي. هر چوکاټ خپل عناصر لري او همدا عناصر د مفهوم په جوړونه او وړاندې کونه کې مرسته کوي. یعنې کله، چې یو چوکاټ رامنځته کېږي هغه حتمآ خپل اړوند توکي لري او د هماغه توکو پر مټ مفهومسازي کېږي، چې ځینې مثالونه یې په لاندې ډول کتلی شو:

**ریسټورانټ ته تګ:** کله که یو څوک وایي، چې رسټورنټ ته ځم، نو په ذهن کې ټول هغه عناصر مفهوم کېږي، چې هلته په رسټورنټ کې موجود وي، لکه پیرېدونکی، چوپړوال، خوراک او څښاک، د پیسو نقد یا چک ورکول، د پیسو تبادله... او چوپړوال ته بخششي یا ټیپ ورکول، چې په لاندې ډول هم دا چوکاټ ښودلی شو.

لومړی بېلګه

| چوکاټ | عناصر | | | |
|---|---|---|---|---|
| **رسټورنټ ته تګ** | پیرودونکی | چوپړوال یا خدمتګار | خوراک او څښاک | د پیسو چک |
| | د پیسو تبادله | بخششي | | |

**دویمه بیلګه**

| چوکاټ | عناصر | | | |
|---|---|---|---|---|
| **سوداګریزه راکړه ورکړه** | پلورونکی | پیرودونکی | توکي | د پیسو تبادله |

پورته دوه چوکاټونه، چې یو یې د رسټورنټ په اړه دی او بل یې د سوداګریزې راکړې ورکړې اړوند. دواړه چوکاټونه خپل اړوند توکي یا عناصر لري او د همدې عناصرو پر مټ د دواړو چوکاټونو مفاهیم څرګندیږي. کله، چې د رسټورنټ د تګ خبره وشي، نو په ذهن کې پورته ټول مفاهیم ځای نیسي او پوهیږو، چې چېرته ځو او د څه لپاره ځو. د رسټورنټ چوکاټ څو صحنې هم رامنځته کوي، چې لومړی یې د پیریدونکو ورتګ، دویم یې خدمات ترلاسه کول، دریم یې د پلورونکي چلند او ګڼې نورې صحنې جوړولی شي. همدارنګه په سوداګریزه راکړه ورکړه کې دوه صحنې جوړیږي، چې یوه صحنه یې د سودا ترلاسه کول او بله صحنه یې دپیسو تر لاسه کول دي، چې پیریدونکی پیسې ورکوي او سودا تر لاسه کوي او پلورونکی پیسې تر لاسه کوي او سودا ورکوي.

**دریمه بیلګه**

**د درملنې اړوند چوکاټ او د هغې عناصر څه دي؟**

<table>
<tr><th>چوکاټ</th><th colspan="4">عناصر</th></tr>
<tr><td>د درملنې اړوند چوکاټ او د هغې عناصر څه</td><td>ناروغ</td><td>ناروغي</td><td>درملنه کوونکی</td><td>درملنه</td></tr>
</table>

ډاکټر هارون د شوکت د خفګان درملنه د اکوپنکچر په مرسته وکړه.

پورته جمله کې ډاکټر هارون درملنه کوونکی دی، چې ټریجکټر یا فاعل واقع شوی او شوکت، چې ناروغ دی هغه لینډ مارک یا مفعول واقع شوی. موقعیت یې روغتون دی او دوه صحنې یې رامنځته کړي چې یوه یې د ډاکټر درملنه او بله صحنه یې د ناروغ صحت مندي ده. د ادراکي ژبپوهنې له مخې داسې ویلی شو، چې ډاکټر هارون ټریجکټور او شوکت لینډ مارک یا ځاینښه ده. په هماغه جمله کې درملنه بیا پروسس یا فعل واقع شوی دی.

<table>
<tr><th>چوکاټ</th><th colspan="4">عناصر</th></tr>
<tr><td>د قاچاق د چوکاټ اړوند عناصر یا توکي څه دي؟</td><td>مرتکب</td><td>توکي</td><td>موخه یا هدف</td><td>سرچینه او لاره</td></tr>
</table>

فرانک زندان ته مخدره توکي قاچاق کړل : په دغه جمله کې د قاچاق اړوند توکي پراته دي، چې فرانک هر وخت زندان ته مخدره توکي د خرڅون په موخه وړي، فرانک د قاچاق مرتکب دی او د یو تونل له لارې خپل هدف ته ځان رسوي، سرچینه یې د یو تنګ تونل له لارې قاچاق کول دي، چې دا عناصر په لاندې ډول هم ښودل کیږي.

**د قاچاق د چوکاټ عناصر څه دي:**

- مرتکب فرانک زندان ته مخدره توکي قاچاق کړل
- توکي له برازیل څخه تر ټولو زیات مخدره توکي قاچاق کېږي.
- هدف
- سرچینه دغه مخدره توکي د یو تنګ تونل له لارې قاچاق کېدل.
- لاره تونل د قاچاق لپاره کارول شوی و.

( هیلبرټ، ۲۰۲۰/۵/ https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?[۱])

د قاچاق اړوند چوکاټ او د هغې عناصرو ته په کتلو سره ویلی شو، چې هر فریم یا چوکاټ خپل عناصر لري او د هماغه عناصرو پر بنسټ یې مفهومونه افاده کېږي. په پورته لومړی جمله کې ( فرانک زندان ته مخدره توکي قاچاق کړل) د قاچاق اړوند چوکاټ درې توکي یا عناصر په کې راوړل شوي، چې ( فرانک چې د قاچاق مرتکب دی، زندان او مخدره توکي)، خو که دویمه جمله وکتل شي، له برازیل څخه تر ټولو زیات مخدره توکي قاچاق کېږي، یوازې یو توکی په کې راغلی، خو بیا هم موږ د قاچاق له چوکاټ څخه پوهېږو، چې دا قاچاق څوک کوي؟ څه شی قاچاق کوي او څرنګه یې قاچاق کوي.

**۵. چوکاټونه د پېښو په اړه لید وړاندې کوي**

**چوکاټونه او لید perspective zation**

کله کله، داسې هم کېږي، چې د یوه چوکاټ په اړه مختلف لیدونه رامنځته شي. دا موضوع په لاندې مثالونه کې ښه واضحه شوې. مثلا په لاندې مثالونو کې ټوله خبره د کتاب تر لاسه کول دي، خو په بېلابېلو لیدونو وړاندې شوې. ورته پېښه کېدای شي په داسې طریقو وړاندې شي، چې د هغې په اړه بېلابېل لیدونه موجود وي.

**مثالونه:**

a. john sold the book **to Mary** for $۱۰۰.

b. Mary bought the book **from john** for $۱۰۰.

c. Mary paid john **$۱۰۰** for the book.

d. john **collected $۱۰۰** for the book from Mary.

الف. جان کتاب **په ماري** په ۱۰۰ ډالرو وپلوره.

ب. ماري کتاب **له جان** څخه په ۱۰۰ ډالرو اخیستی.

---

[۱] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?

ج. ماري جان ته د دې کتاب لپاره ۱۰۰ **ډالر** ورکړل.
د. جان له ماري څخه د کتاب لپاره ۱۰۰ **ډالر راټول** کړل.

پورته مثالونه یوه مانا، خو له بېلابېلو لیدونو وړاندې کوي، په لومړۍ جمله کې جان ټرجکټور او ماري لینډ مارک واقع شوې، په دویمه جمله کې ماري ټریجکټور او جان لینډ مارک واقع شوی، په درېمه جلمه جان ټریجکټور او سل ډالر لینډ مارک واقع شوي، چې همدې ته د چوکاټ او لید ویل کېږي. ( گاورون ، ۲۰۰۸ : ۹ – ۱۳)

**٦. چوکاټونه کلتوري دودونه منعکس کوي**

د چوکاټي مانا پوهنې به اډانه کې کلتوري دودونه هم منعکس کېږي. کلتور د ټولنې برخه ده، تکراري حالتونه، چې زموږ ورځني ژوند ته بڼه او شکل ورکوي، زموږ د کلتوري چاپیریال برخې دي. تکراري حالتونه په دې مانا، چې د ژوند مختلف اړخونه مو په ژوند کې تکرارېږي. د همدې چوکاټونو په مرسته کولی شو، کلتوري اړخونه هم روښانه کړو، د بېلگې په توگه یې دلته څینې بېلگې راوړو، چې په لاندې ډول دي:

| چوکاټ | د کلتوري دودونو منعکس کول | | | |
|---|---|---|---|---|
| کلتوري دودونه | واده | کاري ژوند | فوټبال، کرکټ، بیسبال | د اخترونو ورځې |
| | وزلوبه | د عامه ټرانسپورټ کارونه | د حج مراسم | د غم او ښادی ورځې |

نور ډېر چوکاټونه شته، چې د هماغې چوکاټ له مخې یې موږ د خپل کلتور او دودونو په اړه معلومات تر لاسه کولی شو. ( هیلبرټ، ۲۰۲۰/۵/ https:/youtub.be[۱]).

پورته چوکاټ ته په کتلو سره، د یوې ټولنې کلتورونه او د هغوی دودیز مسایل هم وړاندې کېدلی شي. د بېلگې په ډول، کله چې د واده خبره کېږي یا د واده چوکاټ رامنځته کېږي، په دې چوکاټ کې د هرې ټولنې خپل خپل کلتورونه لېدلی شو. همدا کلتوري چوکاټونه د خپلو سیمو په اړه مفهایم وړاندې کوي. همدارنگه د وزلوبې چوکاټ د افغانستان د کلتور منعکس کوونکي ده، یا د حج مراسم، چې د نړۍ د ټولو مسلمانانو د اسلامي کلتور منعکس کوونکي ده، نو ویلی شو، چې چوکاټونه کلتوري دودونه هم منعکس کوي او د کلتورونو اړوند مفاهیم څیري.

---

[۱] https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a?

**ځینې نورې بېلګې:**

| چوکاټ | عناصر یا توکي | د چوکاټ صحنې |
|---|---|---|
| **تجارتي راکړه ورکړه** | {پیروونکی، پلورونکی، تادیه، توکي} | ❖ پیرودونکي توکي ترلاسه کوي<br>❖ پلورونکی تادیه ترلاسه کوي |

په پورته چوکاټ کې موږ څو برخې لرو، چې یو یې خپله د (تجارتي راکړې ورکړې) چوکاټ دی، چې د چوکاټي مانا پوهنې په رڼا کې رامنځته شوی، دویم یې د چوکاټ عناصر دي، چې په هغې کې (پیرووونکی، پلورونکی، د پیسو تر لاسه کوونکی، توکي او موقعیت) واقع شوي دي. او دریمه برخه یې د چوکاټ صحنې دي، چې دې چوکاټ په کې خپل مفاهیم وړاندې کړي دي. پیردودونکي په همدې صحنه کې توکي ترلاسه کوي او پلورونکی له پیرووونکي پیسې تایده یا ترلاسه کوي.( جان بی، لیو،ف ، ۱۹۹۷: ۱۹)

| د روغتیا چوکاټ | د مفاهیمو څېرنه |
|---|---|
| درملنه کوونکی | هغه شخص چې د ناروغ درملنه کوي. |
| مریض | هغه شخص یا څوک چې فیزیکي حالت یې ښه نه وي |
| ناروغي | د ناروغ روغتیایي حالت، چې صحت یا ارام ته اړتیا لري |
| ټپ | د بدن د کومې برخې زخمي کېدل یا د ناروغ په بدن کې د نسج زیان |
| د بدن برخې | بدن، د بدن غړي، زخم، ناروغي |
| نښې | د ناروغ په بدن کې د ناروغۍ نښې او معلومات |
| درملنه | روغتیا خوا ته حرکت کول یا صحت مند کېدل |
| دارو درمل | هغه مواد ، چې ناروغ ته صحت وربخښي یا پرې صحت مند کېږي |

په پورته چوکاټ کې د روغتیا او ناروغۍ ژبه دا ښايي، چې څنګه د دې چوکاټ عناصر او جوړښت وپېژندل شي او بیا تشریح شي. کله چې یو ناروغ د درملنې لپاره راوړل کېږي، نو لومړی هغه باید روغتون ته ورسول شي، چې په دې کې لومړی دنده د امبولانس یا هغه کس ده، چې ناروغ روغتون ته رسوي. بیا مریض دی، چې ډاکټر ته خپلې ستونزې بیانوي همدارنګه ډاکټر یې درملنه کوي، که ټپونه ولري هغه یې مرهم کوي، د بدن نښې او برخې یې ګوري، چې کوم ځای کې ستونزه لري بیا یې درملنه تشخیص کوي او په پای کې درمل ورکوي او د درملو کارونه یې روښانه کوي، نو د همدې، روغتیا چوکاټ په مرسته موږ د همدې موضوع اړوند ټول مفاهیمو کتلی شو او پرې د پوره پوهېدو توان ترلاسه کوو. د پورته چوکاټ عناصر امبولانس، ناروغ، پیواز، ډاکټر، ټپونه، درملنه او درمل دي، او صحنې یې ناروغ، امبولانس او ډاکټر دي. موقعیت یې یوه صحنه ده چې په هغې

کې امبولانس د روغتون خواته حرکت کوي او بل موقعیت یې روغتون دی، چې د ناروغ درملنه په کې کېږي. ( جان بي ۱۹۹۷: ۱۹)

**پایله**

د چوکاټي مانا پوهنې پر بنسټ د مفاهیمو څېړنې تر عنوان لاندې دا مقاله د چوکاټونو او د هغوی پر ماناو څرخېدلې. دا د ادراکي ژبپوهنې اړوند موضوع ده، چې پر مټ یې موږ د لغاتو پر ماناو پوهېدلی شو. همدا چوکاټونه دي، چې په مرسته یې کټلوري دودونه او د هغوی موقعیتونه پېژندلی شو. که د واده یا غم ښادۍ اړوند چوکاټ په پام کې ونیسو، نو د هماغې چوکاټ په مرسته یې په مفاهیمو پوهېږو او د دې ترڅنګ د کلمو پر مټ ډېر نور چوکاټونه رامنځته کېږي، یعنې د چوکاټي مانا پوهنې په مرسته نور چوکاټونه او ګروپونه رامنځته کېږي. هر چوکاټ مختلف عناصر یا توکي لري، چې کله کله د هماغه چوکاټ عناصر نور چوکاټونه جوړوي او نوي مفاهیم زېږوي. چوکاټونه د وخت په تېرېدو یا کېدای شي اړوند توکي کم کړي یا یې زیات کړي. لکه څرنګه چې موږ د لغاتو او کلماتو په اړه پوهېږو، چې ځینې کلمې له کاره لوېږي او پر ځای یې نوې کلمې منځته راځي، همدارنګه چوکاټونه هم دي چې کله یې عناصر زیات او کله کم شي. چوکاټونه خپل واړه واړه ګشتالټونه هم لري، چې کېدای شي یو چوکاټ یو یا څو عناصر ولري او کله له زیاتو عناصرو رامنځته شي.

کله کله داسې هم کېږي، چې د چوکاټونو په مرسته د یوې موضوع مختلف لیدونه مشاهده کړو. د بېلګې په ډول که وایو، چې ( هارون موټر په شوکت په یولک افغانۍ وپلوره) همدا جمله د چوکاټي مانا پوهنې پر مټ له مختلفو لیدونو کتلی شو، لکه ( شوکت موټر له هارون څخه په یو لک افغانۍ واخیست). پورته دواړه جملې د پلور او اخیستنې له مخې یو مفهوم وړاندې کوي، خو که د پلورونکي له لیده یې مشاهده کړو یو ډول او که د اخیستونکي له لیده یې مشاهده کړو بل ډول مفهوم وړاندې کوي، چې دا کار هم د چوکاټي مانا پوهنې په مرسته کېږي. د دې ترڅنګ د چوکاټونو په مرسته په ماناو هم پوهېدلی شو،کله، چې د چوکاټي مانا پوهنې خبره کېږي، نو په هغې پورې نورې ډېرې خبرې تړلې وي. په فریم سمینټیکس کې چوکاټونه او د هغوی پورې اړوند عناصر هم تر بحث لاندې نیول ضرور دي. هر چوکاټ خپل عناصر لري او همدا عناصر د مفهوم په جوړونه او وړاندې کولو کې مرسته کوي. یعنې کله، چې یو چوکاټ رامنځته کېږي هغه حتمآ خپل اړوند توکي لري او د هماغه توکو پر مټ مفهومسازي کېږي، نو ویلی شو چې د چوکاټي مانا پوهنې په مرسته په مفاهیمو پوهېدنه اسانه ده او ګټه یې دا ده چې نور نوي

معلومات او مفاهیم وړاندې کوي.

**ماخذونه**

ارغند، ذبیح الله حاصب.( ۱۳۹۶ ل). مانا پوهنه،پکتوس خپرندویه ټولنه. کابل.

زیار، مجاور احمد.( ۱۳۹۶ل). پښتو ماناپوهنه، دانش خپرندویه ټولنه.

سمون، محمد مصطفی. ( ۱۴۰۲ل). ادراک او مانا، سمون خپرندویه ټولنه، کابل.

ښکلی، اجمل. ( ۱۴۰۳ل). ادراکي ژبپوهنې لکچر نوټ، کابل پوهنتون، دوکتورا برنامه.

ښکلی، اجمل.( ۱۴۰۱ل). د ژبپوهنې نظریې، پکتوس خپرندویه ټولنه. کابل.

خپرېدو نېټه: ۲۰۲۴/۵/۲۰م کال، لاسرسی: Hilbert ،Martin، https:/youtub.be/dDfx۳۹۷۱z_a? university of NEUCHATEL، [ اخیستنه: ۵/ جون/ ۲۰۲۴، م کال].

Gawron, Jean Mark.(۲۰۰۸) Frame Semantics, San Diego State University.

J o h n B . L o w e, CoIHn F. Baker, C h a r l e s J . F i l l m o r e.(۱۹۹۷). A Frame-Semantic Approach to Semantic Annotation, co۱۱£nb@icsi.berkeley, Edu, page ۱۹.

J o h n B . L o w e, CoIHn F. Baker, C h a r l e s J . F i l l m o r e.(۱۹۹۷). A Frame-Semantic Approach to Semantic Annotation, co۱۱£nb@icsi.berkeley, Edu, page ۲۰.

## د چاروالي ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو رسنیو په خبرونو کې د پیلامگر جوړښت څېړنه

یحیا همای[1]

**لنډیز**

هالیډې او نور چاروال ژبپوهان له انساني تجربې سره په تړاو یا د ویناوال او مخاطب ترمنځ اړیکې را اخیستلو ته د ژبې نقش یا چار وایي، چې په ژبه کې مانا پیدا کوي. د چاروالې ژبپوهنې له مخې بر چارونه د ژبې هغه ستر نقشونه دي، چې د ژبې بهر یې ترسره کوي. ژبه له ژبې بهر یوه فیزیکي یا ذهني تجربه وړاندې کوي یا د ویناوال او مخاطب ترمنځ اړیکه ښیي او یا خپل انسجام ته پام کوي. له دغو ژبنیو برچارونو څخه یې لومړي ته تجربي برچار، دویم ته یې وگړمنځی (بین فردي ) برچار او درېیم ته یې متني برچار وایي. ژبه هڅه کوي، چې دا درې نقشه پر گرامري جوړښتونو او کلمو عملي کړي. پر دې بنسټ ژبني توکي د دې نقشونو د ترسره کونې لپاره په ژبه کې دننه بېلابېل نقشونه ترسره کوي. د متني برچار په مټ ژبه متن رامنځته کوي او د ځان او شرایطو تر منځ اړیکه جوړوي. د دې شرایطو له مخې چې متن پکې رامنځته کېږي، وینا شونې کېږي، څکه چې ویناوال یا لیکوال یې له مخې متن تولیدوي او اوریدونکي یا لوستوال یې له مخې تولید کړی متن تشخیصوي. د متني برچار پر بنسټ فقره د معلوماتي، پیلامي او انسجامي په نومونو درې لویې برخې یا نظامونه لري. د متني برچار له دغو نظامونو څخه یې پیلامي نظام د متنني برچار دویم نظام دی، چې د ویناوال یا لیکول اړوندېږي. په دې رغښت کې فقره د پیغام په توگه تولیدېږي او شنل کېږي، یا فقره د اطلاعاتو د لېږد وسېله گڼل کېږي. د دې نظام مطالعه د فقرې د رغنده توکیو ترتیب او پرله پسېوالی، بې له دې چې د واقعیت کوم بل نوی اړخ ورزیات کړي او یا یې وگړمنځی اړخ بدل کړي، د دې توکیو ماناوې زیاتوي. په پیلامي رغښت کې فقره د پیلگر او پایگر په دوو برخو وېشل کېږي. دا ډول وېش په فقره کې د توکونو د پرله پسېوالي او ترتیب او د فقرې د ارکانو د راتگ او ځایگي پر بنسټ شوی دی. پیلگر د فقرې پیل جوړوي، فقرې ته زمینه مساعدوي، له ژبني اوب سره اړیکه

---

[1] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهندوی استاد.

برېښنالیک: yahyahomai@gmail.com

شمېره: +۹۳۷۴۲۴۸۵۷۸

لري او د فقرې منځپانګیزه ټولګه ترې جوړېږي. پایګر له پیلګر وروسته هغه پاتې برخه ده، چې د غونډ (فقرې) په وجه کې چندان رول نه لري او له وجې پرته نور ټوکونه پکې راځي. دا هم له درو چاریزو( نقشي) توکیو څخه جوړېږي. پایګر د پیلګر په اړه یوه موضوع یا مطلب رامنځته کوي. د اړتیا په حال کې بل پیل ټکي او موضوعي برجسته ګۍ رامنځته کوي. که په لنډه وویو، پیلګر په پایګر کې پراختیا کوي. نو د پښتو رسنیو په خبري غونډېلو کې د چاروالي ژبپوهنې د متني برچار د دغه پیلامي رغښت څېړنه زما د دې لنډې علمي څېړنیزې مقالې مضوع جوړوي، چې په ترتیب سره به په بېلابېلو برخو او جلا سرلیکونو او بېلګو کې پرې بحث او څېړنه ولرو.

**آر وییونه:** بهرنۍ مانا، پیلامي رغښت، پیلګر او پایګر، چارواله ژبپوهنه، فکري برچار، متني برچار، وګړمنځې برچار.

**سریزه**

معاصره ژبپوهنه د درېو تیوریو لرونکې ده، چې زېږنده اوړونې ژبپوهنه، چارواله ژبپوهنه او ادراکي ژبپوهنه ده، چې د ژبپوهنې په برخه کې یې ډېر بحثونه رامنځته کړي دي. البته دا تیورۍ په ټوله کې د سوسور له رغښتوالې تیورۍ اغېزمنې دي. د رغښتوالې ژبپوهنې تیورۍ په شلمه پېړۍ کې په ژبپوهنه کې علمي انقلاب رامنځته کړ، چې سرلارۍ یې سوسور و. د سوسور لېکچرونه د ده شاګردانو راټول کړل د « Course de linguistique générale/ د عمومي ژبپوهنې کورس» په نامه یې چاپ کړل. د دې کتاب په پاڼو کې د تاریخي او رغښتي ژبپوهنې په اړه ګټور نظریات نغښتي دي، چې د ژبپوهنې له تاریخي بهیره نیولې د ژبپوهنې پر موضوع، ګړېدا، د ژبې پر داخلي او بهرنیو عواملو، غږپوهنې، د غږپوهنې پر اصولو، د ژبنۍ نښې پر ماهیت او نورو ګڼو ژبنیو بحثونو مالامال دی. په تېره د سوسور د دال او مدلول بحث، چې د ژبپوهنې ترڅنګ په ادبیاتو کې هم د بحث وړ دی. په ټوله کې ویلی شو، چې د نوې ژبپوهنې اساس تر ډېره د سوسور پر نظریاتو ولاړ دی. سوسور ژبه یو کلي نظام وباله او په رغښتواله کې د کلمې تر سطحې بحث وشو، چې له دې سره یې نورو ژبپوهانو ته د څېړنې او شننې لارې پرانیستلې.( حمیدزی، ۱۴۰۲: ۸۹)

د زېږندې اوړوني ژبپوهنې تیوري د شلمې پېړۍ په نیمایي کې یو بل مهم ګام وه، چې په امریکا کې نام چامسکي واخیست. نام چامسکي د د جملې په کچه د رغښت خبره وکړه او هم یې د ژور او برسېرن رغښت خبره ورسره غوټه کړه. دا په نحوه کې مهم کار و، چې په ډېرو ژبو کې تطبیق شو. په زېږنده اوړوني تیوري کې د جملې تر کچې بحث وشو. د نام چامسکي څېړنو پر اروا‌پوهنه، فلسفه او کمپیوټري ژبه اغېزه وکړه.( مقدم، ۱۴۰۱:۱۰)

ادراکي ژبپوهنې په ۱۹۶۰ - ۱۹۷۰ ز لسیزو کې له نویو ادراکي علومو، په تېره د انسان په ذهن کې د ټولیو د ډلبندۍ له تیورۍ او گشتالټ ارواپوهنې سرچینه واخیسته. د دې تیورۍ په سرلارو کې لانگاکر او لیکاف راځي. په ادراکي ژبپوهنه کې د متن تر کچې بحث وشو. کېدای شي دا متن یوه نښه، یو کتاب یا یوه مقاله وي. په دې تیورۍ کې هم د ماناپوهنې او کارونپوهنې حوزې ښکېلې دي.(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۹)

د ادارکي ژبپوهنې په تیوریو کې ادراکي ژبپوهان د نورو ژبپوهانو غوندې ژبه د پوهې د یوې موضوع په توگه څېړي او د ژبې د نظام او نقش د تشریح هڅه کوي. دوی د انسان د ژبې، ذهن او ټولنیزو او فیزیکي تجربو اړیکې راسپړي. د ژبې په اړه د هغوی یو استدلال دا دی، چې ژبه د انسان ایډیاوې او ذهني ځانگړنې منعکسوي. جورج میلر وایي چې د ادراکي علومو په پراختیا کې شپږو ډگرونو ونډه لرلې ده: ارواپوهنه، ژبپوهنه، کمپیوټر ساینس، انتروپولوژي یا انسانپوهنه، د اعصابو علم، او فلسفه، چې لومړیو دریو یې بنسټیز رول پکې لرلی دی.

د چاروالې ژبپوهنې تیوري د شلمې پېړۍ د ژبپوهنې په مکتبونو کې رامنځته شول، چې یو مهم مکتب یې د لندن د ژبپوهنې مکتب دی، چې د جې.آر فېرث غوندې مشهور ژبپوه په کې تېر شوی دی. د چاروالې تیورۍ مهم غړی مایکل الېکزاندر کرېکووډ هالیډې دی، د ده ژبپوهنیزې نظریې ته نظاممنه چارواله نظریه او گرامر ته یې چاروال گرامر وایي. د نوموړي په اند، ژبه یو داسې نظام دی، چې درې سطحې، څلور ټولۍ (کټېگورۍ) او درې تلې لري، په دې نظام کې دننه بېلابېل ژبني توکي لکه کلمې، گرامر، متن، اوب او مانا خپلې خپلې دندې یا چارې ترسره کوي. په چاوراله کې د متن او اوب تر کچې بحث وشو، چې د ماناپوهنې او کارونپوهنې حوزې پکې ښکېلې دي.(حمیدزی، ۱۳۹۸: ۵۷).

د هالیډې په نظر متن د ژبې هغه بڼه ده، چې په اوبد کې چاره ترسره کوي. یعنې ژبه د مانا جوړولو یوه سرچینه ده او متن په اوبد کې د مانا جوړولو یوه پروسه ده.

یوه گرامروال ته متن یوه بډایه څو مخې پدیده ده چې په ډېرو بېلابېلو لارو سره مانا ورکوي او له ډېرو مختلفو زاویو څېړل کېدای شي. خو په چاروال گرامر کې د لید دوې اصلي زاویې سره بېلېږي. یوه یې په دې متمرکزه ده، چې متن ته په خپله اصلي مانا یا د یوه څیز په سترگه گوري؛ دویمه په دې متمرکزه ده چې متن ته د یوې داسې وسېلې په سترگه گوري چې یو بل څه هم ورباندې موندل کېدی شي، یا دا چې یوې بلې مانا ته پرې رسېدلی شو.

هالېډې وایي چې موږ د متن درې بېلګې لرو. لومړی بیاني متن (وینایي، یوګړیالی)، چې یو ویناوال وینا کوي، دویم تبلیغاتي متن (لیکنی،یوګړیالی)، چې په ټولنیزو رسنیو کې د کوم شي لپاره یو سوداګریز یا بل اعلان کېږي. دریم ګډ متن (وینایي، دوه ګړیالی)، چې دوه کسه له یو بل سره د کوم څه په اړه غږېږي.

یو ګرامروال چې وایي ټول متنونه سره مساوي دي، نو متن ته د نمونې په سترګه ګوري. که موږ غواړو د خپلې ژبې ګرامر تشریح کړو. دغه درې واړه متونونه د ژبې څو ګرامري ځانګړتیاوې راښیي. خو په مانادارو چاروالو اوبدونو کې په کار ده، چې هر یو یې جلا جلا وسپړل شي.

**د څېړنې شالید**

په نورې بهرنی نړۍ او ژبو کې د یادې موضوع په اړه په سلګونو څېړنیزې مقالې او کتابونه کښل شوې دي، خو زموږ په هېواد دننه په پښتو ژبه کې په ټولیزه توګه له رغښتي ګرامري مسایلو ور اخوا د ژبپوهنې په نورو څانګو او برخو کې کار نه دی شوی، په دې وروستیو کې د پوهاند ډاکټر اجمل ښکلي له لیکلو اثارو: د ژبپوهنې نظریې، د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ګرامر څېړنه او د دوکتورا د پروګرام لپاره د نوموړي د رغښتي، زېږندې، ادراکي او چاروالې ژبپوهنې له لکچرنوټونو او خپرو شوو مقالو یادونه کولی شو. دوه نور اثار چې په دې برخو کې په پښتو ژبه کښل شوي دي، یو د عبدالحق سلامزوی د ماسټرۍ تیزس (چاروال ګرامر ته کتنه) ده. یو بل کتاب د محمد مصطفی سمون (ادراک او مانا) دی، چې دلته یې یادونه اړینه ده. له دې ور اخوا که کوم چا څېړمه لیکنې کړې وي، زما مخې ته نه دي راغلې او زه یې له شتونه نه یم خبر.

**د څېړنې میتود**

د څېړنې ډول کتابتوني دی، له تحلیلي او تشریحي میتود څخه ګټه پورته شوې ده . په دغه څېړنه کې د پښتو، دري او انګلیسي ژبې له هغو نوو او باوري اثارو د منظمو سرچینو او اصلي ماخذونو په توګه ګټه پورته شوې، چې له نوموړې موضوع سره په نېغه توګه اړیکې لري. دغه علمي توکي او اثار په کتابتونونو سربېره د انټرنېټ له لارې د نړۍ له سترو پوهنتونونو، اکاډمیکو مرکزونو، ویبپاڼو او خپرونو څخه تر لاسه او راغونډ شوي دي.

**نظاممنه چارواله ژبپوهنه**

نظاممنه چارواله ژبپوهنه د ژبې هغه اصول او تخنیکونه راښیي، چې په ورځنیو ژبپوهنیزو راکړو ورکړو کې مانا څرنګه رامنځته کېږي او موږ یې څرنګه وشنو او بیان کړو. موږ په ورځني عادي ژوند کې له ژبې څخه ډېر کار اخلو. د کورنۍ له غړو سره خبرې کوو،

لیکنې لولو، په غونډو کې وینا کوو، په انټرنېټ کې مطالعه کوو، برېښنالیکونه لېږو او لولو، سندرې او ترانې اورو، خپلو ماشومان ته کیسې وایو، په بازار او مارکېټ کې د کالیو رانیونې پر مهال له خلکو او پلورونکو سره خبرې کوو...دا زموږ ټول هغه فعالیتونه او کارونه دي، چې ژبه په کې شامله او دخیله ده. پرته له دې چې کله مو یو څو شېبې له یو فزیکي کار بوختوي او له ژبې مو فکر بلې خوا ته اړوي، په نورو ټولو کارونو کې مو ژبه راسره دخیله ده. په ورځنې ژوند کې موږ تل اړ یو چې غبرګون وښیو، د مفهوم د رسولو لپاره څه ناڅه ژبه تولید کړو. په بله وینا موږ اړ یو چې د متنونو مذاکره وکړو. (سلامزوی، ۱۴۰۱: ۴)

په تېره شلمه پېړۍ کې ډېرې تیورۍ پر متنونو راچورلېدلې، لکه متنونه له موږ سره څرنګه عمل کوي؟ موږ څرنګه متنونه تولیدوو؟ څرنګه ځینې متنونه بېلابېلو لوستونکو ته بېلابېلې مانا وې ورکوي؟ متنونه او فرهنګ څرنګه له یو بل سره تعامل کوي؟ دا ځوبونه به په ځینو ډېسپلینونو لکه، ادب تیوري (چې د لوړې کچې پر لیکلو متنونو یا چې د فرهنګ په لمن کې پراته وي او راتم وي)، فرهنګي مطالعاتو(چې ډېره لېوالتیا په کې د مشهور فرهنګ له لیکنیو ننداري او فلمي متنونو سره وي). د دواړو لیدلوریو تر شا د "تنقیدي تیورۍ" لویه سټه ولاړه ده، په دې اړه تشریحات راکوي، چې موږ متونونه څرنګه لولو، کوم متونونه راسره غږېږي، کیسه راته کوي او متونونه څرنګه د فرهنګ په مټ ارزښتمن دي (یا شوي دي).

د هالېډې او ملګرو کړي کارونه یې، د نظاممنې چاروالې ژبپوهنې (چې ډېر وخت په لنډه نوم SFL یادېږي)، د ژبې د کتلو لپاره ورځ تر بلې د یوې ستراتیژیکې مانا جوړونکې سرچینې په توګه ډېر کارنده تشریحي او تفسیري چوکاټ ګڼل کېږي.

هالېډې د چاروال ګرامر د ۱۹۹۴ ز کال د چاپ په سریزه کې د نظاممنې چاروالې ژبپوهنې ۲۱ ممکنې کارېدنې ښودلې دي. چې په هغو کې (د ژبې پر طبیعت او چارو د پوهېدو) اړوندې نظري کاریدنې، (په مهال کې د ژبې پر تکامل د پوهیدو لپاره) تاریخي کارېدنې، (د ماشوم د ژبې پر پرمختګ او په انساني نوع کې د ژبې پر تکامل د پوهیدو لپاره) پرمختیایي کارېدنې او (له خلکو سره د دوی د مورنۍ ژبې بهرنۍ ژبې... او نورو په زده کړه کې د مرستې لپاره) ښوونیزې کارېدنې ښودل شوې دي. پر دې دومره ډېرو پرمختللو کارېدنو په پوهېدا کې یو عمومي تمرکز د ټولنیز تعامل (متونونو) د واقعي تولیداتو پر شننه دی، چې له هغو فرهنګي او ټولنیزو اوبدونو سره په اړیکه کې راڅرګندېږي چې بحث او خبرې وربانديې کېږي. نو د نظاممنې چاروالې ژبپوهنې تر ټولو

زيات عمومي کېدونکي کارونه د متن پر څرنګوالي پوهېدا ده، چې ولې يو متن هغه مانا ورکوي، چې لري يې او څرنګه هغه ارزښت مومي چې لري يې. که څه هم د هالېډې چاروال ګرامر په جزياتو د انګريزي ژبې د فقرو، عبارتونو او جملو پر رغښتي نظم غږېږي، خو د هالېډې ډېره له دې سره جوړه ده، چې د ټولنيز ژوند په بهير کې د ژبې په کاريدو سره څرنګه مانا رامنځته او رسول کېږي، يا که ووايو " د متن ټولنمنيز" اړخ سره يې جوړه ده، وايي: موخه مو دا ده چې د متن شننې لپاره يو ګرامر ورغول شي، داسې ګرامر چې په کې ممکنه شي په معاصره انګريزي کې د هر ګړني يا ليکني متن په اړه له مفهومه ډکې او کارندې خبرې وکړو. (سلامزوی، ۱۴۰۱: ۵)

که څه هم په انفرادي ډول ټول پوهان ژبه په بېلابېلو ډولونو او کارېدونکو اوبدونو کې څېړي، خو په ټوله کې ټول نظاممن ژبپوهان پر دې يوه موخه کار کوي:

ژبه د ټولنيزې نښپوهنې په توګه خلک څرنګه په ژوند کې له يو بل سره د اړتياوو د پوره کولو لپاره کاروي. همدا لېوالتيا نظاممن ژبپوهان د لاندې څلورو نظري ادعاوو لپاره لري:

۱- د ژبې کارونه يوه چارواله چاره ده.

۲- چار او دنده يې د مانا جوړول دي.

۳- دغه مانَاوې د هغه ټولنيز او فرهنګي اوبد پر بنسټ رامنځته کېږي، چې مانَاوې په کې بدلېږي رابدلېږي.

۴- د ژبې د کارونې بهير يو نښپوهنيز بهير دی، داسې بهير، چې د انتخاب په مټ مانا په کې جوړېږي.

دغه څلور ټکي، چې ژبه يې کاروي: چاروال، ماناپوهنيز، اوبدني او نښپوهنيز دي (اېګنېز، ۲۰۰۴- ۲ مخونه)

**په چاروله ژبپوهنه کې د ژبې مانيز واحدونه (برچارونه)**

بر چار ته په پښتو بر چار په انګليسي کې Metafunction او د فارسي د فرانقش انډول دی. په انګليسي کې Meta د هاخوا، بر او ضمنا د ستر مانا لري، مثلا د فيزيک پر وړاندې ميټافيزيک هغه څه، چې تر طبيعت ماورا دي. د چاروالې ژبپوهنې له مخې بر چارونه د ژبې هغه ستر نقشونه دي، چې له ژبې بهر يې ترسره کوي.

برچارونه سيستماتيک مايز واحدونه دي، چې غونډونه له مانا برخمنوي. همدا لا مل دی، چې سيستماتيک ژبپوهان يو غونډ له درو ليدلورو څېري. د هالېډې په وينا برچار د اصولو يو وړوکی ټولی (سيټ) دی او شننه يې دا راپېژني چې ژبه څنګه کار کوي. برچار د ژبې مانيز سېستم راښيي. دا درې برچارونه هممهاله او په ګډه په ژبني عمل کې ځان

ښيي يا دا چې درې واړه برنقشونه هممهاله د وينايیزې ټوټې په رامنځته کولو کې لاس لري.

د هالیډې په اند ټولې ژبې د دريو چارونو (نقشونو) له مخې بنه مومي او تنظميږي، چې لومړی فکري، دويم منځوګړيز او درېيم متني دی:

**۱- فکري برچار:** په دغه برچار کې ژبه د تجربو يوې نظريې ته اشاره کوي. دا برچار د ژبې په تجربي او منطقي چارونو کې ځان ښيي. په فکري برچارکې ژبه وبناوال تجربې ته نظم ورکوي، پردې سربېره د انسان د تجربې ژبنی تفسير دی.

په فکري يا تجربي برچار (Experiential metafunction ) کې ژبه يوه بهرنۍ يا دروني تجربه را اخلي. انسان خپل کيفيت يا يوه بهرنۍ پېښه پکې بيانوي، مثلا ژړل، ليکل يا غربېدل يوه چلني، مادي او کلامي تجربه ده، چې په ژبه کې په فعل کې وړاندې کېږي او خپل خپل ګډونوال لري. د ليکلو په تجربه کې يو سړی وينو، چې قلم يا کړکی په لاس په پاڼه يا بل څه ليکل کوي. د ليکلو دا تجربه په ژبه کې د چارګر، موخې او پروسې په بڼه وړاندې کېږي او د چاروالي پر بنسټ بايد د همدې بهرنۍ تجربې پر بنسټ وشنل شي، څکه دې بر چار ته تجربي بر چار وايي، چې يوه تجربه پکې وړاندې کېږي. دندې يا نقشونه يې داسې رالنډوو:

۱- د منځپانګې بيان، ويناوال ته د خپلو فردي او ټولنيزو تجربو د کوډبندۍ او عيني کولو امکان برابروي.

۲- په فقره کې له بهر يا ذهني نړۍ يوه موضوع وړاندې کوي.

۳- په يوه فقره کې د شيانو، پېښو، حالاتو، کيفيتونو او اړيکو بيان.

۴- تجربه منظموي.

۵- بهرنۍ تجربه راټوله وي؛ خو په وينا کې د تجربي بر چار په مټ په برخو وېشل کېږي.

٦- د تعدي د نظام په مټ، په فقره او ګرامر کې راښکاره کېږي. ( سلامزوی، ۱۴۰۱: ۸)

**۲- وګړمنځی برچار:**

له وګړمنځي ليده د ژبې د کارونې موخه په يوه ټولنه کې د حاضرو وګړيو تعامل ته وايي. دا برچار په وينا کې د شريکو کسانو متقابلې کړنې ښيي. په وګړمنځي برچار کې د اړيکې پر رامنځته کولو او ساتلو، په اړيکمنه کړنه کې د ويناوال او مخاطب د تړاو پر ډول، له يو بل سره يې د اړيکو پر ډول، په اړيکمنه کړنه کې د دوی پر نقش، د دې کړنې په اړه د

دوی پر لیدلوری او د یو بل پر چلن یې پر اغېزه باندې بحث کېږي

په وګړمنځي برچار کې په هره فقره کې دوې برخې لرو: (۱) وجه او (۲) پاتې‌شونی. دا هره برخه بیا نورې څېرمه برخې لري.

په یوه ټولنه کې د حاضرو وګړیو تعامل ته وایي. دغه برچار په وینا کې د شریکو کسانو متقابل عمل ښیي. د اړیکې رامنځته کول د ویناوال او مخاطب د تړاو ډول پر تړاوي (ارتباطي) عمل کې د دوی نقش په دې اړه د دوی لیدلوري او د یو بل پر چلن یې اغېز په منځ وګړي برچار کې تر بحث لاندې راځي.

**۳- متني برچار:** د متني برچار په مټ ژبه متن رامنځته کوي او د ځان او شرایطو تر منځ اړیکه جوړوي. د دې شرایطو له مخې چې متن پکې رامنځته کېږي، وینا شونې کېږي. ځکه چې ویناوال یا لیکوال یې له مخې متن تولیدوي او اوریدونکي یا لوستوال یې له مخې تولیدکړی متن تشخیصوي. (سلامزوی، ۱۴۰۱: ۱۵)

**متن او متني برچار**

د هالیډې په نظر متن د ژبې هغه بڼه ده، چې په اوبد کې چاره ترسره کوي. یانې ژبه د مانا جوړولو یوه سرچینه ده او متن په اوبد کې د مانا جوړولو یوه پروسه ده. یوه ګرامروال ته متن یوه بډایه څو مخې پدیده ده، چې په ډېرو بېلابېلو لارو سره مانا ورکوي او له ډېرو مختلفو زاویو څېړل کېدای شي. خو په چاروال ګرامر کې د لید دوې اصلي زاویې سره بېلېږي. یوه یې په دې متمرکزه ده، چې متن ته په خپله اصلي مانا یا د یوه څیز په سترګه ګوري؛ دویمه په دې متمرکزه ده، چې متن ته د یوې داسې وسېلې په سترګه ګوري، چې یو بل څه هم ورباندې موندل کېدی شي، یا دا چې یوې بلې مانا ته پرې رسېدلی شو.

هالیډې وایي، چې موږ د متن درې بېلګې لرو. لومړی بیاني متن (وینایي، یوګړیالی)، چې یو ویناوال وینا کوي، دویم تبلیغاتي متن (لیکنی، یوګړیالی)، چې په ټولنیزو رسنیو کې د کوم څه لپاره د یوه سودګریز اعلان په توګه کېږي. دریم ګډ متن (وینایي، دوه ګړیالی)، چې دوه کسه له یو بل سره د کوم څه په اړه غږېږي.

متن یوازې په لیکلو پورې نه محدودېږي، بلکې متن کېدای شي اظهار شي، ولیکل شي، جملې شي یا هم فکر شي. ژبه یوازې د واقعیتونو د څرګنداوي وسېله او د وګړیو د متقابلو کړنو ډګر نه دی، بلکې یوه بله دنده هم لري چې په مټ یې له موقعیتي اوبد سره اړیکه ټینګوي او یو پیغام ترې جوړېږي او بیا د دې میکانیزم په پایله کې هم د ژبې دوو مخکې یادو شویو برچارونو (تجربي او وګړمنځي) ته د عمل وسېله په لاس ورکوي او هم ژبې ته یوه نوې مانیزه چاره پر غاړه وراچوي. د ډېسکورس د شننې لپاره اوبد څو ډولونه

لري، لکه ښوونيز، ټولنيز، ادبي، سياسي، قانوني، طبي او داسې نور. او په دې ټولو کې متن ښيي د نمونې يا تصنعي متن يا دواړو په بڼه وي. ( ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۷)

دا چار چلن د فقرې د منځپاګي توکيو د راتګ او ناستي په ځای ځايګي پورې اړه لري. په بله وينا، دا چار په فقره کې د تجربي او وګړمنځي معلوماتو د اوډون او ايښودنې پر څرنګوالي پورې اړه لري. دا برچار په ټولو ژبو کې شته، خو اوډون او لړ کول يې توپير لري. په فقره کې دا اوډون او لړ کول په کورنيو او بندنيو لاملونو او دلايلو پورې اړه لري.

**متني برچار دا** لاندې لورو يا دندو لرونکی دی.

۱- د ويناوال او ليکوال له غوښتنو سره سم متن جوړوي.

۲- له (ژبني او بهرني) اوب سره په تړاو کې متن رامنځته کوي.

۳- فقره د څه په اړه ده، کومه برخه يې ويناواله ته مهمه ده، کومه برخه يې پوهېدلې فرض کوي، له کوم ټکي فقره پيلوي؟

۴- په متني برچار کې د ژبې د شونتياوو په مټ خبرې له يو بل او اوب سره پيوندوي.

۵- د اړيکې منطق وايي، چې خبرې منسجمې او روانې او د مخاطب او ويناوال له موخو سره برابروي. ( ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۹)

## د متني برنقش له مخې د فقرې پر مخ دوې کړکې

متن هغه دی، چې د ټولو اجزاوو تر منځ يې محتوايي يووالی موجود وي او د ځان او شرايطو تر منځ اړيکه جوړوي؛ د دې شرايطو له مخې چې متن پکې رامنځته کېږي، وينا شونې کېږي. په دې توګه د متني برنقش له مخې د فقرې پر مخ دوې دريځې خلاصې وي، يوه د ګړېدونکي/ ليکوال او بله د اوريدونکي/ لوستونکي؛ څکه چې ويناوال يا ليکوال له مخې متن توليدوي او اوريدونکی يا لوستونکی يې له مخې توليد کړی متن تشخيصوي:




نو د متن د توليد پر مهال ويوونکی/ ليکوال بايد دغه لاندې پوښتنې ځواب کړي:

۱- کوم توکی د فقرې اره موضوع راڅرګندوي؟

۲- فقره د څه په اړه ده؟

۳- د پيغام کومه برخه ويونکي/ ګړيدونکي/ ليکوال ته تر ټولو مهمه ده؟

۴- ويونکی / ليکوال د پغام کومه برخه داسې انګېري، چې اوريدونکی/ لوستونکی وربانديې پوهېږي او د پيغام کومه برخه د نوې اطلاع/ معلوماتو په توګه وايي؟
۵- په فقره کې مخانګېرلي اطلاع شته؟ که وي، کومه ده؟
٦- ويونکی/ ليکوال د خپل پيغام د پيلټکي په توګه کوم توکی غوره کوي؟ (حميدزی، ۱۴۰۲: ۸۹)

**د فقرې درې لويې برخې** او **پيلامي نظام**

متني برچار پر بنسټ فقره د معلومتي، پيلامي او انسجامي په نومونو درې لويې برخې لري:

**۱- معلوماتي نظام** :د اوريدونکو ليدلوری ښيي، چې د فقرې کومه برخه نوې او کومه برخه يې ورته زړه ده.

**۲- پيلامي نظام:** په دې رغښت کې فقره د پيغام په توګه توليدېږي او شنل کېږي. مطلب، فقره د اطلاعاتو دلېږد وسېله ګڼل کېږي.

**۳- انسجامي اړيکې:** په متن کې انسجام د تجربي و وګړمنځي چارونو له تعامل څخه پيدا کېږي. انسجام په خپله د متن د توکونو تر منځه په متن کې وي، د متن او موقعيت د قرينې تر منځ وي. چې لومړي دوه رغښتي او وروستی نارغښتي دی. دا د ژبنيو توکيو بېلابېل نقشونه دي.

**پيلامي نظام** د متني برچار دويم نظام دی، چې د ويناوال يا ليکول اړونديږي. د دې نظام مطالعه د فقرې د رغنده توکيو ترتيب او پرله پسېوالی، بې له دې چې د واقعيت کوم بل نوی اړخ ورزيات کړي او يا يې وګړمنځی اړخ بدل کړي، د دې توکيو ماناوې زياتوي. د ګرامر د مطالعې په دې برخه کې فقره د پيلګر او پايګر په دوو برخو وېشل کېږي.

په پيلامي رغښت کې دا ډول وېش په فقره کې د ټوکونو د پرله پسېوالي او ترتيب او د فقرې د ارکانو د راتګ او ځايګي پر بنسټ شوی دی. ( ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۵۵)

**د پيلګر- پايګر رغښت او دندې**

**پيلګر:** د فقرې پيل، که فاعل وي، فقره يې ښه او که بل راشي، نښور دی. فقرې ته مينه مساعدوي، له ژبني اوب سره اړيکه لري. په پيلګر کې دا لاندې توکي راتلای شي، چې د فقرې منځپانګيزه ټولګه ترې جوړېږي.

د پيلګر د تجربي، وګړمنځي او متني سترنقش له پلوه درې ډوله لري: پيلګر په درېواړو برچارونو کې توپير لري:

۱- تجربي پيلګر: چارګر، تجربه ګر، حسګر وي، چې د يوه بهير محور جوړوي. يانې په تجربي برچار کې پيلګر د غوڼه په پيل کې راځي، لکه:

د افغانستان د بهرنيو چارو وزير نن له کابل څخه ترکيې ته لاړ/ د قانونو او پټروليم وزارت له چين سره د نفتو تړونليک لاسليک کړ/ د کابل پوهنتون رييس د ماسترې او دوکتورا له پروګرونو ليدنه وکړه.

۲- وګړمنځی پيلګر: په يوه ټولنه کې د حاضرو وګړيو تعامل او اړيکې پکې اغېز لري او پيلګر رامنځته کوي، لکه: او هو، څومره ښکلی شوی يې / څومره ښه، چې سره و موليدل/ ماشاالله، ډېره وړتيا لري/ پرېږده مړه، ميلې ته مو زړه نه کېږي. (وګړمنځی پيل لري)

۳- متني پيلګر: د متني برچار ښودنه کوي، چې د متن بېلابېلې برخې او متن له اوبد سره پيوستوي او د متن د بېلابېلو برخو ترمنځ مانيزه اړيکه پيدا کوي، لکه: چې هوا ښه شوه، ننګرهار ته درځو / ته خو پوهېږې، چې په ما ګران يې/ لرې د له ځانه په هيڅا باور نه لرم.

متني پيلګر بيا په خپل مينځ کې په دريو نورو ډولونو وېشل کېږي، چې دلته ترې په لنډه يادونه کوو:

۱- تداومي: هو، نه، ښه، رښتيا، اوس؛ وينا په يوه ټولنه کې د حاضرو وګړيو تعامل ته وايي غزوي يې، د نوي او زاړه ويناوال د خبرو ترمنځ اړيکه پيدا کوي.

۲- اړيکمن رغښتي: مورفيم، کلمه يا عبارت، چې يوه فقره له بلې سره تړي: ربطي وييکي ( و، يا، نه --- نه، يو - - - بل، که، خو، چې، ځکه، څرنګه، ان).

۳- اړيکمنې يا وينايي زياتونې: بلي او قيدي عبارتونه، چې فقرې سره نښلوي: په بله وينا، پر دې سربېره، له بله پلوه، پر دې بنسټ.

**پيلګر درې دندې لري:**

- د پيل ټکي رامنځته کول، چې خبره له هغه ځايه روانه شي.
- له مخکې ويل شويو خبرو سره د روانو خبرو تړاو پيدا کول.
- د پيلګر توکي لپاره د موضوعي برجسته ګۍ رامنځته کول.

په پيلګر کې په ټوليزه توګه دا لاندې توکي، چې د فقرې منځپانګيزه ټولګه ترې جوړېږي، راتلای شي. دلته يې هر ډول د پښتو په ساده غونډلو کې تشريح کوو:

**۱- ګډونوال**، شريکبانې ( فاعل او مفعول)، بېلګه:

**رشيد خان** په ورستي اور کې شپېږيزه ووهله

**۲- پروسه**، لېږندی (محمول)، بېلګه:

**راځه** ټولګي ته ځو، (**راکړه** سرخي يې اننګو يحيا چې وينې يې کړو— ډېر په هوس د زړه له زخمه لکه داره وځو)

**۳ - مورګه وال پايځو** يا حاشيه يي زياتونې، بېلګې: پرون ښار ته لاړم، نن د لوی اختر

ورځ ده بېلګه: **پوره درې کال وړاندې** طالبان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسیدل.
پیلګر په درېواړو برچارونو کې توپیر لري. په تجربي برچار کې پیلګر د غونډ په پیل کې راځي، یاني د تجربي برچار لومړنی چاروال جوړښت دی. پیلګر د پیغام پیل دی، دا نو چې هر توکی وي پیلګر ګڼل کېږي. خو اضافه وییکي دا چار نه شي ترسره کولای او پیلګر کېدای نه شي، ځکه چې اضافي وییکی هیڅ شي ته نه ارجاع کېږي.
که د پیلګر په ځای کې فاعل یا مسند راشي، نو پیلګر به بې نښانه وي، خو که په پیلګر کې له دې پرته کوم بل توکی راشي، نو پیلګر به نښبور وي. تر پیلګر وروسته چې په فقره کې څه پاتې دي، هغو ته پایګر وایي. پیلګر په پایګر کې پراخېږي.
د مطلب د غوره روښانتیا په موخه پورته یاد شوي درې توکي د یوې ګډې غونډلې په بېلابېلو بڼو کې په لاندې توګه تشریح کولی شو:

۱- د ملګرو ملتونو امنیت شورا په ناسته کې د اسراییلو پر جنګي جنایتونو بحث و کړ.

| | | |
|---|---|---|
| ګډونوال، شریکبانې/ پیلګر | پایګر | (بې نښانه) |

۲- په ناسته کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د اسراییلو پر جنګي جنایتونو بحث وکړ.

| | | |
|---|---|---|
| پایځوړ/پیلګر | پایګر | (نښبور) |

۳- د اسراییلو پر جنګي جنایتونو د ملګرو ملتونو امنیت شورا په ناسته کې بحث وکړ.

| | | |
|---|---|---|
| شریکبانې/ پیلګر | پایګر | (نښبور) |

**د پورتنۍ بېلګې په لومړۍ بڼه کې پیلګر د ملګرو ملتونو امنیت شورا** چې یو **ګډونوال، شریکبانې** یا فاعلي غونډ دی او د غونډلې د پیلګر په توګه راغلی دی، نوره پاتې برخه **په ناسته کې د اسراییلو پر جنګي جنایتونو بحث و کړ** پایګر جوړوي. دا چې په پیلګر کې فاعل راغلی دی، نو دغه غونډله بې نښې بلل کېږي.
د بېلګې په دویمه بڼه کې پیلګر **په ناسته کې** پایځور یا حشه یې زیاتونې دي، پاتې برخه **د ملګرو ملتونو امنیت شورا د اسراییلو پر جنګي جنایتونو بحث وکړ** د غونډلې پایګر دی، خو دا چې په پیلګر کې یې له فاعل پرته نور څه راغلي دي، نو غونډله نښبوره بلل کېږي.
د بېلګې په درېیمه بڼه کې پیلګر **د اسراییلو پر جنګي جنایتونو** هم یو **ګډونوال، شریکبانې** یا مفعولي غونډ دی او د غونډلې د پیلګر په توګه راغلی دی، نوره پاتې برخه **د**

**ملګرو ملتونو امنیت شورا په ناسته کې بحث وکړ** یې پایګر جوړوي، دا چې مفعول په پیلګر کې راغلی دی، نو غونډله نښوره بلل کېږي.

**پایګر:** له پیلګر وروسته هغه پاتې برخه ده، چې د غونډ (فقرې) په وجه کې چندان رول نه لري او له وجه پرته نور ټوکونه پکې راځي، دا هم له درو چاریزو (نقشي) ټوکیو څخه جوړیږي:

۱- **پروسه،** لېږندی (محمول)، بېلګې: فعلي غونډ دی، چې د پروسې ډول او څرنګوالی (مادي، چلنوال، ذهني) لوري (معلوم او مجهول) او جنبه ښيي.

۲- **حاشیه یي زیاتونې:** د هالېدې په اند، چې د بالقوه فعالیت توان یې نه وي. په منځوګړیز برچار کې دوه ډوله ،حاشیه یي زیاتونې راځي، چې یو تفسیري او بل وجهي دي.

۳- **بشپړاند:** چې په مجهول فعل کې په ایښي کې راځي او په پښتو کې ورسره په تېر مهال کې فعل د شخص، شمېر او جنس له مخې سمون ښيي. په دودیزه پښویه کې ورته مفعول وایي.

**دا ډول پایګر دغه لاندې درې دندې لري:**

- د پیلګر په اړه یوه موضوع یا مطلب رامنځته کول.
- له لومړني پیل ټکي پرته د اړتیا په حال کې د بل پیل ټکي رامنځته کول.
- د پایګر توکیو ته د نوي والي په خاطر د کلي برجسته کی رامنځته کول.

په یوه پښتو خبري غونډله کې د پیلګر- پایګر رغښت تشریح او شننه:

| دولتي مسولینو | په بغلان ولایت کې | سېلابځپلو ته | په بېړه | لومړني مرستې | ووېشلې |
|---|---|---|---|---|---|
| کړند، ګډونوال (شریکبانې) | حاشیه یي زیاتونې | بشپړاند ترلاسوونکی | حاشیه یي زیاتونې | کړېدلی | پروسه لېږندی |
| فاعلي غونډ | قیدي غونډ | بلواسطه مفعول متمم | قیدي غونډ | مفعولي غونډ | فعلي غونډ |
| پیلګر | پایګر | | | | |

په پورتنۍ بېلګه کې وینو چې **دولتي مسولینو** د غونډلې پیلګر دی او د غونډلې په پیل کې راغلی دی، چې ګډونوال، کړوند، شریکبانی او یو فاعلي غونډ دی. د غونډلې

نوره ټوله پاتې برخه د پایګر اړوندېږي، چې لومړی توک یې **پـه بغلان ولایت کـې** حاشیه یي زیاتوني یا قیدي غونډ جوړوي. دويم توک یې **سپلابځپلو ته** بشپړاند، ترلاسوونکی، بلواسطه مفعول یا متمم ویل کېږي. د پایګر دریم توک **پـه بیړه هم** حاشیه يي زیاتوني یا قیدي غونډ دی. څلورم توک یې **وویشلي**، پروسه یا لېږندی دی چې یو فعلي غونډ یې رامنځته کړی دی..

په پیلګر رغښت کې د ګډونوال، پروسې، مورګه وال پایځوړ او په پایګر کې د پروسې، حاشیه یي زیاتونو او بشپړاند له څېړنې او تشریح وروسته په یوه پښتو خبري غونډله کې د پیلګر او پایګر په لحاظ د یوې فقرې درې هممهاله رغښتونه، چې پیلګر توک پکې بدلون موندلی، تشریح کوو:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱- د فقرې برچار | امریکا | اوکراین ته | وسلې | ورکړې |
| تجربي برچار | کړند | ترلاسوونکی | کړېدلی | پروسه |
| وګړمنځی برچار | فاعل | بشپړاند | مفعول | وییز فعل مهالمن |
| **متني برچار** | **پیلګر** | | **پایګر** | |

| ۲- د فقرې برچار | وسلې | امریکا | اوکراین ته | ورکړې | |
|---|---|---|---|---|---|
| **تجربي برچار** | کړېدلی | کړند | ترلاسوونکی | پروسه | |
| **وګړمنځی برچار** | مفعول | فاعل | بشپړاند | وییز فعل | مهالمن |
| **متني برچار** | پیلګر | پایګر | | | |

په پورتنۍ بېلګه کې په لومړۍ غونډله کې **امریکا** په پیل کې راغلی، چې د تجربي برچار له مخې کړند، د وګړمنځي برچار له پلوه فاعل او د متني برچار له مخې پیلګر دی. له دې وروسته د غونډلې ټوله پاتې برخه پایګر دی، چې لومړی توک یې **اوکراین ته** د تجربي برچار له مخې ترلا سوونکی، د وګړمنځي برچار له پلوه بشپړاند او د متني برچار له مخې پایګر دی. د پایګر دویم توک **وسلې** د تجربي برچار له مخې کړېدلی، د وګړمنځي برچار له پلوه مفعول او د متني برچار له مخې پایګر دی. د پایګر دریم توک **ورکړې** د تجربي برچار له پلوه پروسه، د وګړمنځي برچار له مخې وییز فعل/ مهالمن او د متني برچار له مخې پایګر دی.

په دویمه غونډله کې بیا **وسلې** د غونډلې په پیل کې ځای لري، چې د تحربي برچار له مخې کړېدلی، د وګړمنځي برچار له پلوه مفعول او د متني برچار له مخې بیلګر دی. له

دې وروسته د غونډلې ټوله پاتې برخه پایګر دی، چې لومړی ټوک یې. **امریکا** د تجربي برچار له مخې کړند، د وګړمنځی برچار له پلوه فاعل او د متني برچار له مخې پایګر دی. د پایګر دویم ټوک **اوکراین ته** د تجربي برچار له پلوه ترلاسوونکی، د وګړمنځی برچار له مخې بشپړاند او د متني برچار له مخې پایګر دی. د پایګر دریم ټوک **ورکړې** د تجربي برچار له مخې پروسه، د وګړمنځی برچار له پلوه وییز فعل/ مهالمن او د متني برچار له مخې پایګر دی.

**موندنې**

د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ د ژبې موخه پوهای او اړیکه ده او پوهاوی پر مانا ولاړ دی، چې له همدې امله دوی د چامسکي د جوړښتي نظریې پر خلاف مانا ته لومړیتوب ورکوي؛ خو وایي، چې ژبه هله مانا پیدا کوي، چې په یوه موقعیت یا فرهنګ کې وکارېږي یعنې ژبه بهر یوه تجربه، یوه پېښه یا پروسه وړاندې کوي، یا د ویناوال او مخاطب ترمنځ اړیکه جوړوي؛ نو باید له بهرنۍ نړۍ سره د انساني تجربې په تړاو کې او د انسانانو ترمنځ په اړیکه کې وڅېړل شي.

**پایله**

له انساني تجربې سره په تړاو یا د ویناوال او مخاطب ترمنځ د اړیکې را اخیستلو ته د ژبې نقش یا چار وایي، چې په ژبه کې مانا پیدا کوي. د درو لویو چارونو(نقشونو)، چې پورته پرې خبرې وشوې، د ترسره کولو لپاره ژبني توکي د فقرې په ټیټه کچه هم بېلابېل نقشونه لري. هغه چې موږ ورته فاعل، فعل او مفعول وایو، په چارواله ژبپوهنه کې که یوه مادي پروسه وړاندې کوي، بیا ورته په ترتیب سره چارګر (Actor )، بهیر(process) او موخه (Goal) وایي. په چا رواله ژبپوهنه کې د فعل پر ځای د بهیر یا پروسس نومونه کارېږي، ځکه یو عیني یا ذهني یا چلني پروسس پکې وړاندې کېږي. که یو بهیر ذهني وي (لکه مینېدل)، په چارواله کې یې فاعل ته حسګر او پر مین شوي څیز یا کس ته ښکارنده (Phenomenon) وایي.

د ژبې پیلامي رغښت، چې د متني برچار دویم نظام دی، د پیلګر او پایګر په دوو برخو وېشل کېږي. پیلګر د فقرې پیل، که فاعل وي، فقره یې نښه او که بل څه راشي، نښور دی. پیلګر فقرې ته زمینه مساعدوي، له ژبني اوب سره اړیکه لري.

پایګر له پیلګر وروسته هغه پاتې برخه ده چې د غونډ (فقرې) په وجه کې چندان رول نه لري او له وجه پرته نور ټوکونه پکې راځي. دا هم له درو چاریزو( نقشي) توکیو څخه جوړېږي. په پیلامي رغښت کې هغه بېلابېل مانیز اړخونه چې په تجربي، وګړمنځي او متني

پیلگر پورې اړه لري، په پام کې نیولو کېږي. په عادي حالت کې د پیلگر ځایگی له انگېرلي اطلاع سره يو شان دی او د پایگر له نوې اطلاع سره؛ خو که د قفرې پیلگر نښور وي بیا توپیر لري.

پیلگر فقرې ته لاز جوړوي او صحنه یې رغوي. پیلگر په ژبني اوبد پورې تړلی دی. خو له ځانه په ورسته راغلي ژبني اوبد باندې اغېز لري. د ساري په ډول ویناوال فقره د مخکنۍ فقرې په پیلگر پیلوي یا د تېرې فقرې څخه د پایگر له یوه توکه د روانې فقرې پیلگر جوړوي، چې کیدای شي مرکب یا مفرد و وسي.

د پیلگر کټگورې د دریو اړخونو له مخې څېړلای شو: لومړی، د هغو بېلابېلو مانیزو اړخونو په پام کې نیولو سره چې په تجربي، وگړمنځي او متني پیلگر پورې اړه لري. دویم، د جوړوونکو توکونو د شمېر له مخې، د ساده او مرکب پیلگر له مخې. دریم په فقره کې د واکمن اوډون له مخې چې بې نښانه او نښور پیلگر یو له بله بېلوي.

**پای پایله**

که په لنډه ووایو، یوه فقره چې د چاروالي ژبپوهنې د شننې مرکزي واحد دی، که له بهرنیو شرایطو سره په اړیکه کې تجربي یا بین فردي یا متني نقش لوبوي، نو په فقره کې دننه یو نوم یا د چارگر، یا حسگر یا چلنگر او همدا راز د موخې، ښکارندې یا گټیالي نقش لوبوي.

دا د ژبنۍ شننې په لړ کې یوازې د چامسکي نه، بلکې زموږ د دودیزې رغښتي توصیفي ژبپوهنې مخالف لوری دی. که موږ د خپلې ژبپوهنې د تېرې یوې پېړۍ آثار ولولو، ژبه له کاروني شرایطو پرته په خپلواک ډول شني، چې د ژبپوهنې په نظریو کې دې ډول شننې ته صوري یا formal شننه وایي، مثلا موږ د جملې رغنده توکي د فاعل، مفعول، فعل، قید او په ناخپلواکو توکیو وېشو. دې ته نه گورو، چې دا توکي په جمله کې کوم مانیز نقش لري او بهر د څه شي استازي کوي.

په چارواله ژبپوهنه کې د فاعل، مفعول یا ایښي، ایښوني او قید غوندې نومونې یوازې د ژبې د صوري شننې په محدوده کې کارېږي؛ خو چې کله د ژبې پر نقش خبره کېږي، بیا له دې تنگ چوکاټه چارواله ژبپوهنه راوځي او گڼې چاریزې (نقشي) نومونې ورته لري، لکه پیلگر، پایگر، مشخصوونکی، مشخصېدونکی او داسې نور . دا ښيي، چې چارواله ژبپوهنه زموږ د دودیزې ژبپوهنې په پرتله یو پراخه او دقیقه شننه وړاندې کوي؛ نو کله چې دا ژبپوهنې لولئ، نو د فاعل، فعل او مفعول غوندې جوړښتي یا صوري نومونې چې زموږ او ستاسو په ژبپوهنې کې معمول دي، یوې خوا ته کېږي او د چاروالې له نومونو

ګټه پورته کیږي.

**وړاندیزونه**

زموږ ژبپوهان فکر کوي، چې د ژبې د شننې یوازنۍ لار همدا زموږ دودیزه رغښتي ژبپوهنه ده او دا ځکه چې تېره څه کم یوه پېړۍ یې د همدې نظریې په اړه اورېدلي او له همدې زاویې یې خپله ژبه شنلې ده؛ نو فکر کوي، چې دا بنسټ دی، سره له دې چې بنسټ، غږ، مورفیم، کلمه، عبارت، فقره او جمله ده، رغښتواله یوازې نظریه ده، چې په مټ یې موږ دا ژبني توکي شنو او همداسې چارواله او ادراکي نظریه هم ده، چې له یوې جلا؛ خو دقیقې لارې د ژبې جوړښت او نظام ته ځان رسوي. وړاندیز مو دا دی، چې په پښتو ژبه کې هم د ژبپوهنې له دغو څانګو ګټه پورته شي او د هغو د تیوریو او اصولو پر بنسټ یې د څېړنې او څېزنې دود ته پراختیا ورکړل شي، په دې اړوند ژبپوهان نوې څېړنې وکړي او خپله ژبه تحلیل کړي. هغه له بهرنۍ نړۍ سره د انساني تجربې په تړاو کې او د انسانانو ترمنځ په اړیکه کې وڅېړل شي.

**ماخذونه**


ارغند، ذبیح الله صاحب. ۱۳۹۶. ماناپوهنه. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

حمیدزی، راحله. ۱۳۹۸. دستور نقش گرای نظام مند هالیدی. کابل: انتشارات کابلستان.

حمیدزی، راحله .۱۴۰۲. نظریه های زبانشناسی. کابل: انتشارات سمون.

چمتو، محمدقسیم.۱۴۰۰.تشریحي ژبپوهنه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

زیار، مجاوراحمد. ۱۳۹۸. پښتو پښویه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

سمون، محمد مصطفی. ۱۴۰۲. ادراک او مانا. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

شېرزاد، محمد اقا. ۱۴۰۰. پښتو نحوه. کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل. ۱۴۰۲. د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ګرامر څېړنه.

ښکلی، اجمل. ۱۴۰۱. د ژبپوهنې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

مقدم، محمد دبیر. ۱۳۹۵. زبان شناسی نظری. (پیدایش و تکوین دستور زایشی). ویراست سوم. تهران: انتشارات سمت.

همای، یحیا. ۱۴۰۱. پرتلیزه – تاریخي ژبپوهنه. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

یورگسن، ماریان، فیلیپس، لوییز. نظریه و روش در تحلیل گفتمان. ترجمه: هادی جلیلی. تهران: انتشارات نشرنی.

# د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو جمله کې د بشپړاند څېړنه

شاه محمود کدوال[1]

**لنډیز**

چارواله ژبپوهنه د ژبې مانا په دنده او چار کې ګوري او د دې له پاره درې برچارونه ټاکي، چې فکري (تجربي ، منطقي) وګړمنځی او متني دي. په وګړمنځي برچار کې فقره په دوو برخو ویشي، چې وجه او پاتې شونی دی. په پاتې شونې کې بیا د (بشپړاند) برخه ده، چې د فقرې مهمې برخې بشپړوي. بشپړاند په متعدي فعل کې د فعل مانا بشپړوي، ځکه که دا نه وي، فعل نابشپړ او بې مانا دی. په ټوله کې بشپړاند د فقرې د پاتې شوني هغه برخه ده، چې د ایښې او ایښوني د مانا په بشپړونه کې دنده او چار ترسروي.

**ار وییونه:** برچار، بشپړاند، پاتې شونی فقره، وجه.

**سریزه**

هالیډی بشپړاند د فقرې د پاتې شوني هغه برخه بولي، چې د ایښې کېدو وړتیا لري، خو ایښی نه وي. دی په یو معلوم متعدي فعل کې بشپړاند هغه برخې بولي، چې د فعل مانا بشپړوي. په دودیزو رغښتي ګرامرونو کې ورته (مفعول) وایي. په متعدي فعل کې د مفعول راتګ اړین دی، ځکه له مفعول پرته فعل نابشپړ او بې مانا وي.

هالیډی همدا د متعدي فعل بشپړانده برخه (مفعول) د فعل بشپړاند بولي. بیا په نورو جملو کې، چې مجهولې متعدي دي، راښیي چې د معلوم متعدي فعل بشپړاند پکې ایښی ګرځي. بشپړاند ټول هغه توکي رانغاړي، چې په فقره کې څېرمه دریځ لري او د ارو برخو مانا بشپړوي.

دلته دا یادونه مهمه ده، چې د هالیډي او نورو چاروالو ژبپوهانو په دې نظر نیوکې شوې دي، چې په متعدي فعل کې بشپړاند (مفعول) د پاتې شوني برخه او یو څېرمه توکی بولي. کره کتونکي وایي، چې په متعدي فعل کې بشپړاند اصلي توکی دی، نه څېرمه او پاتې شونی، ځکه که نه وي، د فعل مانا نابشپړه او نیمګړې ده. بشپړاند د جملې هغه برخې

---

[1] - د لغمان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو څانګې پوهنوال استاد

برېښنالیک: sh.kadwal@gmail.com

شمېره: ۰۰۹۳۷۰۰۶۴۰۹۱۰+

دي، چې د اصلي توکو یا برخو په بشپړونه کې مرسته کوي.

**د څېړنې ارزښت**

د ژبې په اړه چارواله نظریه په نړۍ واله کچه یوه نوې ده، چې ژبې ته له یوه جلا ګوټه ګوري. دا نظریه د تېرو نظریو په لمن کې راغوړېدلې، خو خپله اډانه لري. د دې لیدلوري او اډانې په سیوري کې د ژبې د بېلابېلو برخو څېړنه نوې او ارزښتناکه ده، چې دلته یې (بشپړاند) څېړل شوی دی.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې موخه دا ده، چې د چاروالې ژبپوهنې په رڼا کې د دې ژبپوهنې او نظریې (بشپړاند) په پښتو جملو کې وڅېړل شي.

**تېرو څېړنو ته کتنه**

د محمد اقا شېرزاد (پښتو نحوه ، ۱۳۹۵) په (۱۲۸) مخ کې د جملې په پېروو برخو کې بشپړونکی یاد شوی، چې مفعول بلل شوی دی. یاد ګرامر په (۷٦) مخ کې د (جملې بشپړاند یا متمم توکونه) تر سرلیک لاندې (اهنګ، خج او څپه) څېړلي دي.

د محمد قسیم چمتو د (پښتو تطبیقي غونډله پوهه، ۱۳۹۸) په ( ۱٦۳) مخ کې د (غونډلې بشپړاند توکونه) تر سرلیک لاندې (اهنګ، خج او بیلتون و پیوستون) څېړلي دي. په پښتو پښویه (زیار، ۱۳۸۴) او پښتو معاصر ګرامر (خیشکی، ۱۳۹۸) کې د بشپړاند په اړه څه نه شته.

**مواد و کړنلاره**

د دې څېړنې ډول کتابتونی دی، چې له ځینو پښتو، دري او انګریزي سرچینو نه پکې ګټنه شوې ده او میتود یې توصیفي ـ تحلیلي دی.

دا چې زموږ څېړنه د چاروالې ژبپوهنې اړوند ده، نو په لاندې ډول له بره نه کوز یا له کلیاتو نه جزیاتو ته ځو.

چارواله ژبپوهنه وایي چې ژبه د مانا د څرګندونې په موخه کارېږي یا د مانا څرګندونې چار و دنده ترسروي.

مانا څه ده ؟

چارواله ژبپوهنه مانا ته له لاندې دریو لیدلوریو یا ګوټونو ګوري.

- تجربي برچار: ژبه څنګه تجربې تشریح کوي ؟
- وګړمنځي برچار: ژبه څنګه د وګړو ترمنځ د یوه تعامل طبیعت ښیي ؟
- متني برچار: موږ ژبه څنګه ترتیبوو ؟ (Sutherland, ۲۰۲۱)

په پورتنیو درېیو برچارونو کې زموږ موضوع په وګرمنځي برچار پورې تړلې، همدې کې لږ تمبږو.

په وګړمنځي برچار کې هره فقره دوه برخې لري.

۱ . وجه (Mood)

۲ . پاتې شونی (Residue)

وجه په درې ډوله ده : خبري، پوښتني، امري.

د وجهې ټوکونه : فاعل، مهالمن توک، قطبیت (سلامزوی، ۱۴۰۱، ۹۱ – ۹۶)

پاتې شونی : هغه برخه چې د فقرې په وجه کې چندان ونډه نه لري (ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۴۱)

پاتې شونی له درېیو چاروالو توکیو جوړ دی.

- لېږندوی
- بشپړاند
- پایخوږ (سلامزوی، ۱۴۰۱، ۹۷)

څرنګه چې زموږ د څېړنې موضوع پر (بشپړاند) چورلي، پر همدې برخه ډېر تمبږو او ګړېږو.

بشپړاند د پاتې شوني دننه یو عنصر دی، چې د ایښي کیدو وړتیا لري، خو ایښي نه وي. په بله وینا، دا عنصر د دې وړتیا لري، چې د لوړ وګړمنځي دریځ له مخې ټاکلې مسولیت ورکړل شي، هغه چې کیدای شي د بحث اصلي ټکی وي. دا تر ډېره د نومیزې ډلې په وسیله ترسره کېږي.

په (توریالي زما ورور ته هغه کتاب ورکړ) کې، چې (زما ورور او هغه کتاب) پکې دوه بشپړانده دي. په تېر مهال کې یې فعل متعدي او فاعل معلوم دی.

| توریالي | زما ورور ته | هغه کتاب | ورکړ |
|---|---|---|---|
| ایښی/فاعل | بشپړاند | بشپړاند | لېږندوی |

پورتنۍ معلومه متعدي جمله په لاندې ډول مجهولېږي، چې بشپړاندونه پکې پر ایښي اوړي.

۱ ) بشپړاند (زما ورور) د ایښي په توګه :

| زما ورور ته | یې | هغه کتاب | ورکړ |
|---|---|---|---|
| ایښی | بشپړاند | بشپړاند | لېږندوی |

۲ ) بشپړاند (هغه کتاب) د ایښي په توګه :

| هغه کتاب | یې | زما ورور ته | ورکړ |
|---|---|---|---|
| ایښي | بشپړاند | بشپړاند | لېږندوی |

... د یادونې وړ ده، بشپړاند (Complement) هغه څه په ښه توګه تر پوښښ لاندې نیسي، چې (مفعولونه) او د ښوونځیو په دودیزو ګرامرونو کې بشپړاندونه (Complements) دي، خو دا توپیر په وګړمنځي جوړښت کې ځای نه لري. دا د تجربې شننې له لېږنتیا څخه راننوتی دی. دا چې د (مفعول) نومونه د لېږنتیا له صوري شننې سره پیاوړی تړون لري. موږ د پاتې شوني دنده دې ځانګړي عنصر ته د بشپړاند نومونه کاروو (Halliday, ۲۰۰٤, ۱۲۲-۱۲۳).

په سیستمیک چاروال ګرامر کې د "بشپړاند" مفهوم د ژبې د رغنیزو او چاروالو ځانګړنو په پوهېدو کې د بنسټیز اړخ په توګه دنده ترسروي. بشپړاندونه، په ژبني چوکاټ کې مهمې برخې دي، چې د یوې جملې مانا بشپړوي، ډېری وختونه د فعلونو یا سربلونو سره مله وي. د هالیډې په وینا، دا عناصر د یوې فقرې د لېږندوی (خبر، مسند) د بشپړولو له پاره اړین معلومات چمتو کوي، په اصل کې د هغو بنسټیزو جزیاتو مرسته کوي، چې د فعل په وسیله د مشخص شوي عمل یا حالت په اړه وضاحت ورکوي. بشپړاندونه د خپلې وړتیا پر بنسټ د جملې په اصلي عناصرو کې د ژورتیا او ټاکلتیا ډېرولو له مخې پېژندل کېږي، چې په وینا (ډسکورس) کې د لېږدول شوي ټولیز پیغام په رغونه کې مهم رول لوبوي.

په سیستمیک چاروال ګرامر کې، د بشپړاند مفهوم مختلف ډولونه او دندې لري، چې هر یو یې جلا جلا نظري مفهومونه لري. هالیډی بشپړاندونه په مختلفو ټولګیو کې ډلبندي کوي، چې د فاعل، مفعول او سربلي بشپړاندونه پکې ورګډېږي. دوی هر یو د جملې په جوړښت او مانا کې ټاکلې ونډې ترسروي. د بېلګې په توګه د ایښي/فاعل بشپړاندونه، چې د یوې فقرې د ایښي بشپړاند، پخپله ایښي ته اضافي توضیحات یا تشریحات چمتو کوي. له بلې خوا، د مفعول بشپړاندونه د فعل سیده یا ناسیده مفعولونو په اړه ډېر معلومات ورکوي، د لېږندوی (خبر، مسند) مانا نوره هم پراخوي. برسیره پر دې، سربلي بشپړاندونه، چې (Thompson,۲۰۱٤) په ګوته کړي، د فعل د مانیزې بشپړتیا له پاره له سربلونو سره دنده ترسروي، تر ډېره ځای، وخت یا نور اړوند شرایط په ګوته کوي (Opoku,۲۰۲٤) .

بشپړاند یو نومیز غونډ دی، د ایښي کېدلو وړتیا لري، خو د ایښي پرځای نه راځي. (دا هماغه د دودیزو ګرامرونو مفعول دی، چې په مجهول جوړښت کې د ایښي پرځای راځي) (حمیدزی، ۱۳۹۸، ۱۵۴).

په مجهول فعل کې په ایښي کې راځي او په پښتو کې ورسره په تېرمهال کې فعل د شخص، شمېر او جنس له مخې سمون ښيي. په دودیزه پښویه کې ورته مفعول وایي

(ښکلی، ۱۴۰۱، ۱۴۲).

د پورتنیو څرګندونو پر بنسټ لاندې معلومات له (Bree AI) نه په ګټنې چمتو شوي دي.

بشپړاند د عناصرو هغه ټولګه ده، چې د فاعل، مفعول او فعل په اړه پراخ معلومات وړاندې کوي او د بشپړاند دنده او چار ترسره کوي. بشپړاند کېدای شي اغېزمن (مفعولونه)، غونډونه (عبارتونه او فقرې) وي.

**د فاعل بشپړاند**

هغه بشپړاند دی، چې د فاعل مانا بشپړوي یا یې په اړه معلومات ډېروي، لکه په (هغه ښوونکی دی) کې (ښوونکی) د فاعل (هغه) له پاره بشپړاند دی یا په (تورن توریالي توره وکړه) کې (تورن) د فاعل (توریالي) په اړه پراخ معلومات ورکوي او بشپړاند دی.

**د مفعول بشپړاند**

هغه بشپړاند دی، چې متعدي فعل یې څاري، د فعل اغېزمنونکي (مفعولونه) په ګوته کوي او د فعل مانا بشپړوي یا هغه، چې د مفعول په اړه ډېر معلومات ورکوي او مانا یې بشپړوي. لکه په (هغې خوږ ناک وخوړ) کې (خوږ) د (ناک) بشپړاند دی او خوږ ناک (مفعول) د متعدي فعل (وخوړ) بشپړاند دی، ځکه متعدي فعل له مفعول پرته نابشپړ دی.

**د فعل بشپړاند**

**۱ ) الف. عبارتي بشپړاند**

عبارتونه په جمله کې د بشپړاند په توګه د فعل د وخت ، حالت او ځای په اړه ډېر معلومات ورکوي، د فعل څرنګوالی څرګندوي او مانا یې بشپړوي. لکه : توریالی نن دوه بجې په چټکۍ سره پوهنتون ته راغی .

په پورتنۍ جمله کې د ( نن دوه بجې، په چټکۍ سره او پوهنتون ته ) عبارتونه د ( راغی ) فعل مانا بشپړوي، چې لومړی عبارت د فعل وخت، دویم یې حالت او درېیم یې ځای ښيي.

**ب. فقریي بشپړاند**

تړلي فقرې، د فعل د بشپړاند په توګه دنده یا چار ترسره کوي. لکه : زه پوهېږم، چې هغه راځي.

په پورته جمله کې ( هغه راځي ) د ( پوهېږم ) فعل له پاره د بشپړاندې فقرې په توګه راغلې ده، چې د فعل مانا بشپړوي.

په بشپړاند کې د وینا بیلابیل توکي راتلی شي، لکه نوموونه (نارینه، ښځینه) په (مفرده او

جمع ) بڼه. نومځري (شخصي، استفهامي ) ستاينومونه او شمېرنومونه، عبارتونه او ... چې په بېلابېلو پښتو گرامرونو کې يې بشپړ سپيناوی راغلی دی.

**پايله**

د چاروالې ژبپوهنې له نظره بشپړاند يو څېرمه توکی دی، چې د فقرې په پاتې شونې کې ځای لري. دا کله يو توکی او کله توکي وي، چې دنده او چار يې د ايښي او ايښوني د مانا بشپړونه ده.

په دوديزو گرامرونو کې د بشپړاند يو ډول( مفعول ) دی، چې په متعدي فعلونو کې د فعل مانا بشپړوي، که دا نه وي، فعل نيمگړی، نابشپړ او بې مانا دی، خو په چارواله ژبپوهنه کې بشپړاند تر مفعول پراخ مفهوم، دنده او چار لري. بشپړاند د متعدي معلوم فعل (ايښوني) د مانيزې بشپړتيا سربېره د ايښي مانيزه بشړتيا هم ترسروي. د يوستوو توکو (نومونو او ...) سربېره غونډونه (عبارتونه او فقرې) هم د بشپړاند دنده او چار ترسروي.

**اخځونه**


چمتو، محمد قسيم . ( ١٣٩٨ ) پښو تطبيقي غونډله پوهه (نحوه). کابل : جهان دانش خپرندويه ټولنه .

خيشکی، محمد صابر ( ١٣٩٨ ) . پښتو معاصر گرامر (درېيم چاپ). کابل : جهان دانش خپرندويه ټولنه.

حميدزی، راحله . (١٣٩٨ ) . گذار از مقوله و ميزان به دستور نقش گرای نظام مند هاليدی . کابل : نشر کابلستان .

زيار، مجاور احمد . ( ١٣٨۴ ) پښتو پښويه . کابل : دانش خپرندويه ټولنه .

سلامزوی، عبدالحق . ( ١۴٠١ ) . چاروال گرامر ته کتنه. د ماسټری تېزس. کابل پوهنتون.

شېرزاد، محمد اقا . ( ١٣٩۵ ) . پښتو نحوه. جلال اباد : ميهن خپرندويه اداره.

ښکلی،اجمل . ( ١۴٠١ ) . د ژبپوهنې نظريې . کابل : پکتوس خپرندويه ټولنه.

Halliday, M.A.K (٢٠٠٤). An Introduction to Functional Grammar, THIRD EDITION (PDF) .London: Hodder Headline Group, ٣٣٨ Euston Road.

Opoku, Kwasi (٢٠٢٤). The Term "Complement" in Systemic Functional Grammar: A Review of Its Theoretical Problems and Implications. https://www.scirp.org/journal/paperinformation.aspx?paperid=١٣١٠١٥

Sutherland, Sean (٢٠٢١). Interpersonal Metafunction (Video File). https://www.youtube.com/watch?v=KcMO_1١tUzI&t=٧١٤s

## د درویش دراني په شاعرۍ کې اوب

عبدالله اواب[۱]

**لنډيز**

د مانا په برخه کې د اوب مطالعه پر دې بحث کوي چې څرنگه اوب د يوې ژبې د عبارتونو، فقرو او جملو په تفسير، مفهوم او روښانولو کې اغېزه لري. دغه ډېسپلين د طبيعي ژبې په پروسېس، کارونپوهنه، او بريالي ارتباط کې ستر نقش ترسره کوي. دا څېړنه د پښتو د يوه نوميالي شاعر درويش دراني په شعرونو کې پر اوب بحث کوي او د درويش دراني د شعرونو ځينې بېلگې شني. هيله‌من يم دا څېړنه به د درويش دراني د شعرونو په پوهېدا کې له لوستونکو سره مرسته وکړي.

**سريزه**

زما د څېړنې موضوع د پښتو ژبې د لوی شاعر درويش دراني په شاعرۍ کې د اوب شننه ده. اوب چې په انگليسي کې ورته (Context) او په فارسي کې ورته بافت وايي، لغوي مانا يې اوبدنه يا اوبدل دي. په اوب کې موږ مانا د ويي يا جملې شاوخوا چاپېريال ته په کتو درک کوو.

اوب په لومړي سر کې پر دوو مهمو برخو ژبني او ناژبني وېشل کېږي، چې وروسته بيا نورې برخې هم لري. د درويش دراني په شاعرۍ کې د اوب گڼې بېلگې شته. موږ يې دلته يو څو بېلگې راخيستې دي، په دې هيله چې لوستونکو ته به د اوب په اړه ښې بېلگې وي.

### د درويش دراني په شاعرۍ کې اوب

### ۱ - اوب څه شی دی؟

اوب چې په انگليسي کې ورته (Context) او په فارسي کې ورته بافت وايي، لغوي مانا يې اوبدنه يا اوبدل دي. «له متنه بهر او په متن پورې اړوند اړيکو راټولولو ته اوب وايي. د جملې چاپېريال ته اوب وايي، يعنې هغه چاپېريال چې جمله پکې ويل شوې او د جملې شاوخوا پروت دی.» (شاهد، ۱۴۰۳، ۲۲مخ)

---

[۱] - د کابل پوهنتون د پښتو څانگې پوهنمل استاد

برېښناليک: abdullahawwab۱@gmail.com

شمېره: ۰۰۹۳۷۷۷۶۰۲۶۰۱+

په ژبپوهنه او خبرو کې اوب شاوخوا معلوماتو ته ویل کېږي چې د کارول شوي کلمو او جملو مانا څرګندوي. د بېلګې په توګه په مکالمو کې اوب د خبرو اترو ترمنځ مخکینۍ تبادلې، د بحث روانه موضوع، او هر اړوند پس منظر رانغاړي یا یې په اړه معلومات وړاندې کوي.

اوب ځکه مهم دی چې د مبهمو کلمو، عباراتونو، یا جملو د مانا په ټاکلو کې مرسته کوي. د بیلګې په توګه «غاړه» کلمه بېلابېلې ماناوې لري. په ځینو ځایونو کې د څنډې او په ځینو ځایونو کې د انسان د مرۍ مانا ورکوي؛ خو اوب له موږ سره په نحوي چاپېریال کې مرسته کوي، چې کومه مانا ترې واخلو.

اوب د نویو مانا پوهانو په نظر یو کلي مفهوم دی، چې د خبرو توکیو (اجزا) د ویونکي او موخیزو مفاهیمو لپاره پر مخ وړي. اوب هغه اساسي مفهوم دی، چې د خبرو لپاره د سوچ کولو په وخت په ذهن کې جوړېږي او د هغوی پر بنسټ مانا او مفهو م منځته راځي او هغه وخت مانا د غږ، ویي، عبارتونو، او جملو په چوکاټ کې اوریدونکي ته په شفاهي یا لیکنۍ بڼه څرګندوي؛ نو ویلای شو، چې اوب د خبرو او سوچ کولو لپاره د تړون او اړیکو لامل دی. (شاهد، ۱۴۰۳، ۲۵مخ)

**د اوب ډولونه**

اوب د لومړي خل لپاره د کټ او فوردو له خوا وڅېړل شو. اوب په لاندې ډولونو وېشل شوی دی.



**ژبنی اوب**

ژبنی اوب د ژبخېړنې په ځانګړې توګه د مانا پوهنې په مهمو بحثونو کې دی. د ژبې دروني برخه ده، چې د متن له داخل انسجام سره تړاو لري او د کلمو او جملو له خپلمنځي اړیکو پیدا کېږي، چې سیاق ورته وایي. ژبنی اوب د لفظي قرینې، د مقالې اوب او د ژبې داخلي اوب په نومونو هم یاد شوی. ژبنی اوب د کلمو او جملو دقیقه مانا متن ته په کتو سره ټاکي.

**ناژبنی اوب**

په لیکل شوي یا ضمیمه شوي متن کې د غږ مانا ګوري. غږ په یوازې توګه مانا نه لري؛ خو په ژبني اوب کې غږونه د خواناستۍ محور پر مټ یو ځای کېږي او مانا پیدا کوي، لکه :

د (و، ز، ر) غږونه. دا درې غږونه، هر یو غږ په یوازې ځان مانا نه لري؛ خو دا غږونه په ژبني اوب کې د خواناستۍ محور په مرسته یو په بل پسې داسې کېښودل کېږي، چې مانا پیدا کوي، مثال:

۱ -و

۲-ز

۳-ر

دا غږونه په ژبني اوب کې د خواناستۍ محور په مرسته کولای شو، یو په بل پسې داسې کېږدو، چې مانا ورکړي، لکه:

-۱و + ز + ر = وزر، د مرغانو د بدن غړي په مانا.

۲- ز + و + ر = زور، د قوت په مانا.

۳- ز + ر + و = زرو، د قیمتي غمیو په مانا، لکه: رسه او سپین زر. »زرو« د جملې په ترکیب کې د

« ۱۰۰۰ »شمېر په مانا، لکه: د زرو روپیو شین چای راکړه. »زرو« یو ښځینه نوم هم کېدای یش، لکه :

ز رو ته غږ کړه.

وزر، زور، زرومانا لرونکې کلمې دي؛ نو له کومو غږونو، چې مانا لرونکې کلمې جوړېږي مانا لرونکي

غږونه دي.

اوب نور ډولونه هم لري؛ ژبنی اوب پر غږیز، صرفي، لغوي، نحوي او مانیز باندې وېشل شوی دی او ناژبنی اوب پر موقعیت او فرهنګي اوب باندې وېشل کېږي. د موقعیت

اوب هم ډولونه لري لکه؛ د مهال اوب، د مکان اوب. دا چې د اوب او ډولونو څېړنه يې بېله موضوع ده؛ نو موږ خپلې اصلي موضوع ته راځو، چې د درویش دراني په شاعرۍ کې د اوب شننه ده. لاندې به درویش په څو بیتونو کې د اوب بېلگې روښانه کړو.

**د درویش دراني په شاعرۍ کې اوب**

دا ستوري د هغو دي، کهکشان دی، د هغو

چې لاس يې وررسېږي، شين اسمان دی د هغو

په پورته بیت کې «کهکشان» او «شين اسمان» راغلي، چې خپله اصلي مانا يې (Galaxy) او (Sky) دي. خو دلته درویش د نړۍ د فضاء يا فضايي حريم په مانا راوستی، دلته د شاعر مقصد او موخه دا ده، چې هغه څوک چې زيار وباسي او ځان يو ځای ته ورسوي؛ نو ټوله فضاء يې په خدمت کې ده او د هغوی ده.

دلته نحوي اوب راغلی دی ځکه چې که وگورو دلته «کهکشان» او «شين اسمان» يوه مانا لري؛ خو اصلي مانا يې بله ده.

بېلتونه دا ځل دې نو عمر دومره لنډ شه چې زه

پر لمن اوښکې پاکوم او جانان بېرته راشي.

په پورته بیت چې کله موږ لومړۍ مصره لولو؛ نو مانا يې همداسې نيمه پاتې کېږي او د پورتنۍ مصرې پر مانا د لاندې مصرې له مانا څخه پوهېږو؛ نو دا چې د يوه بيت مانا مو پر بل باندې پوره کړه، دې ته مانيز اوب وايي، يعنې په دې بيت کې مانيز اوب راغلی.

هر کاڼی په وينو باندې سور دی اوس مينځل غواړي

شه زياتي راکوز د اس له زينه توره ماته کړه.

په پورتني بيت کې د جگړې وسله توره او د سورلۍ وسيله يې اس راوړل شوی؛ خو په اوسني وخت کې که موږ يوه جنگيالي ته دا پيغام رسوو، بايد ورته ووايو، چې له ټانکه يا جنگي الوتکې راښکته شه او دا ټوپک دې پر ځمکه کېږده.

د مهال د اوب دا دنده ده، چې د وخت په تېرېدو ټولو بدلونونو ته په کتو يوه مانا وړاندې کړي؛ لکه د درویش دراني په پورته بيت کې.

هر زړه دلته زموږ دی، هر يو زخم دی زموږ

هر غشی د هغو دی، هر کمان دی د هغو.

په پورته بيت کې له «دلته» څخه د شاعر موخه خپل وطن دی له څنگزن چاپېريال او د وړاندې کولو له ډول څخه موږ پوهېږو، چې په وطن کې بد حالت يا ناامني ده او شاعر دا پړه پر پرديو وراچولې؛ نو ځکه په دې بيت کې راغلی اوب مکاني اوب دی.

پورته بيتونو ته ورته د درويش دراني په شاعري کې د اوب بېلګې خورا پراخې دي، چې په يوه لنډه مقاله کې يې ځايول ستونزمن دي.

**پايله**

اوب چې په انګليسي کې ورته (Context) او په فارسي کې ورته بافت وايي، لغوي مانا يې اوبدنه يا اوبدل دي. په ژبپوهنه او خبرو کې اوب شاوخوا معلوماتو ته ويل کېږي چې د کارول شوي کلمو او جملو مانا څرګندوي. د بېلګې په توګه په مکالمو کې اوب د خبرو اترو ترمنځ مخکينۍ تبادلې، د بحث روانه موضوع، او هر اړوند پس منظر رانغاړي يا يې په اړه معلومات وړاندې کوي.

اوب ځکه مهم دی چې د مبهمو کلمو، عباراتونو، يا جملو د مانا په ټاکلو کې مرسته کوي. د بېلګې په توګه «غاړه» کلمه بېلابېلې ماناوې لري. په ځينو ځايونو کې د ځنډې او په ځينو ځايونو کې د انسان د مرۍ مانا ورکوي؛ خو اوب له موږ سره په نحوي چاپېريال کې مرسته کوي، چې کومه مانا ترې واخلو.

اوب په لومړي سر کې پر دوو مهمو برخو ژبني او ناژبني وېشل کېږي، چې وروسته بيا نورې برخې هم لري. اوب نور ډولونه هم لري؛ ژبنی اوب پر غږيز، صرفي، لغوي، نحوي او مانيز باندې وېشل شوی دی او ناژبنی اوب پر موقعيت او فرهنګي اوب باندې وېشل کېږي. د موقعيت اوب هم ډولونه لري لکه؛ د مهال اوب، د مکان اوب.

زما د دې څېړنې موضوع د پښتو ژبې د ښه شاعر درويش دراني په شاعرۍ کې اوب دی، د درويش د لاندې بيت په څېر په ډېرو بيتونو او شعرونو کې اوب څرګند دی:

ستوري د هغو دي، کهکشان دی، د هغو

چې لاس يې وررسېږي، شين اسمان دی د هغو.

په پورته بيت کې «کهکشان» او «شين اسمان» راغلي، چې خپله اصلي مانا يې (Galaxy) او (Sky) دي. خو دلته درويش د نړۍ د فضاء يا فضايي حريم په مانا راوستی، دلته د شاعر مقصد او موخه دا ده، چې هغه څوک چې زيار وباسي او ځان يو ځای ته ورسوي؛ نو ټوله فضاء يې په خدمت کې ده او د هغوی ده.

موږ په دې څېړنه کې ورته نورې بېلګې هم وشنلې او ومو څېړلې؛ په دې هيله چې لوستونکي به په اړونده برخه کې ګټه ترې واخلي. که څه هم په دومره لنډه څېړنه کې د درويش د شاعرۍ اوب څېړل ستونزمن کار دی؛ خو کوم زده‌کړيال وکولی شي، چې د درويش په شاعرۍ کې پر اوب تيزس وليکي يا په دې اړوند پراخه څېړنه وکړي دا به يو لوی کار وي.

**اخځلیکونه**

حمیدزی، راحله. (۱۳۹۶). گذار از مقوله و میزان به دستور نقش گرای هالیدی. رساله داکتری: پوهنتون کابل، پوهنځی زبان و ادبیات، دیپارمتنت فارسی دری.

هلیډې، مایکل الگساندر کرېکووډ او حسن، رقیه. (۱۳۹۳). زبان، بافت و متن. ژباړه) : دکتور مجتبی منشیزاده او دکتور طاهره ایشاني. تهران: نرش علمی.

شاهد، سمیع الله. (۱۴۰۳). د هالیډي چاروالي نظریې پر بنسټ د اوب څېړنه. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

درانی، درویش. (۲۰۰۹). په ناورین پسې ناورین. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

درانی، درویش. (۲۰۰۹). دا بوټي به لونګ شي. کوټه: یونایټيډ پریس.

# Language and Identity

Ajmal Khkalay[١]

**Abstract**

Language is the initial part of identity. Every society has its own values, faiths and history inside its culture, when it moves to any other society and is unfamiliar with the reaction of that nation, so faces the identity issue and feel be unfamiliar, shame and giving up. When two persons talk together, in speaking which is the act of language, expresses the age, sex, folk, land and more details. Therefore, language functions not only a crucial role in emerging and expressing the identity, as well as creating the identity in people. As the terms or different conjugations identify the speakers' regions and folk. In addition, peoples' names show family identity and ideology of a person, which names do. A nation is a collection of different folks which gathered via inter cultural and political aims in geographical land. In other hand, a nation has similarities in culture, they express it in national terminology which the folks use for living in a shared land. For instance, in Afghanistan people use the terms *maktub, pohantun, pohandzai, nesab and* many more which are neologized by the national geographical land and when they are in other countries as well, while using this terminology they know each other. In a look to the history of every religion, every religion as Christianity spread via an exact language, when it translated to any other language that language selected as the religious identity of that community. As well as, in hearing of *assalamu alaikom* we know the speaker is a muslim. This paper describes topics concerning language and identity and its six kinds.

Key Words: Community, Identity, Langauge, Nation, Religion. Termenology. (Full text on page ١)

[١] - Professor and PhD in Pashto language an literature department of Kabul University.
Email: khkalay.ajmal٢@gmail.com, Contact: +٩٣٧٩٨٩٠٨٥٨٢

# Models and Forms of Construal in Cognitive Linguistics

Abdul Sami Wahdat[۱]

## Abstract

This is an investigation of syntactic element arrangement as a cognitive phenomenon and its different forms according to cognitive linguistics. It discusses the construal as a way of representing various aspects of a state and condition from the viewpoint of enunciator, his/her description an imagination. Therefore, it focuses two basic points- (i) a brief introduction of construal and its categorization models, (ii) The nine common representing forms of construal in cognitive linguistics.

**Keyword**: Construal, Attention, imaginative movement, mental scan, profile, viewpoint. (Full Text on Page ۱۳)

[۱] - Assistant Prof. at Pashto Language and Literature department of Kabul University
Email: wahdat۲۰۱۰@gmail.com, Contact: +۹۳۷٦٦۰۰۰۰۰۸

# The Application of Mathematical Methods in Linguistics

Ihsanullah Pamir[١]

**Abstract**

This paper explores the integration of mathematical methods into the field of linguistics, highlighting the significant role that mathematical approaches play in analyzing and understanding various aspects of language. With the advent of computational linguistics and the increasing complexity of linguistic data, mathematical techniques have become essential tools for linguists to model, analyze, and interpret linguistic phenomena.The abstract begins by providing an overview of the historical development and evolution of mathematical methods in linguistics, tracing back to the early attempts to formalize language structures and patterns. It then discusses the diverse range of mathematical techniques employed in linguistics, including set theory, probability theory, graph theory, matrices, computational models, and algorithms. Furthermore, the abstract explores the practical applications of mathematical methods in linguistic research, such as natural language processing, machine translation, phonology, syntax, semantics, and sociolinguistics. It elucidates how mathematical models help linguists uncover hidden patterns, extract meaningful insights from linguistic data, and make predictions about language behavior.The abstract also addresses the interdisciplinary nature of the relationship between mathematics and linguistics, emphasizing the synergistic collaboration between mathematicians, computer scientists, and linguists in advancing our understanding of language structure and processing. In conclusion, the abstract underscores the pivotal role of mathematical methods in modern linguistic inquiry, highlighting their contribution to the development of theoretical frameworks, empirical analyses, and computational tools that enrich our comprehension of language diversity, evolution, and cognition. It suggests that the integration of mathematical techniques opens new avenues for interdisciplinary research and fosters innovative approaches to addressing complex linguistic questions.

**Key words:** Mathematics, Probability, Graph, Metrics, Languages, Models, Calculations.(Full Text on Page ٣٣)

---

[١] - Assistant Prof. in Pashto Language and Literature Department of Paktia University.
Email: ehsanpamir@gmail.com, Contact: +٩٣٧٨٨٨٤٠٠٤٤

# The Dictionary Author

Ezatullah Noorzai[١]

**Abstract**
Anyone who knows how to write a dictionary or is responsible for writing a dictionary is called a lexicographer. A lexicographer will be a dictionary creator and editor. The lexicographer needs the technical tools of the language and the theory of linguistics, with the help of which he can better analyze the information available in the language, easily collect the raw materials, and explain them in the form of a collection.

**Key Words**: Dictionary, Dictionary Author. (Full Text of Page ٤١)

[١] - Lecturer at Pashto Language and Literature Department of Kabul University
Email: ez.noorzai@gamil.com , Contact: +٩٣٧٣٠٤٠٨٢٤٩

# Problems in Teaching Pashto to Non-Pashot Speakers

Rahimullah Harifal[١]

**Abstract**

The love of speakers of other languages with the Pashto language has a long history and it is because the research in the Pashto language was started by foreigners or eastern scholars.This trend continues, and many foreigners still learn Pashto and write textbooks of Pashto, for example, a Pashto-French book written by a French woman. If we look at neighbouring countries' languages there is a rich curriculum and digital and online materials are available for other languages' speakers which regretfully Pashto language still is not in this position. Somehow, there are Pashto Language textbooks written individually but no attention has been given Pashto language by the government to provide an outstanding curriculum with changes for other' language speakers to learn the Pashto language. This study examines the challenges of the instruction process of the Pashto language and will suggest solutions for reaching a positive result to attract the attention of scholars and research foundations in this regard.

Key Words: Curicullum, Language, Solutions, Teaching. (Full Text of Page ٤٩)

[١] - Assitant Prof. in Pashto Deparment of Academy of Science of Afghanistan
Email: harifaal@yahoo.com , Contact: +٩٣٧٧٢٥٢٥٢٦٢

## Statement, Emperative and Intoragative in Speech-Act Theory

Rahmatullah.hakime[١]

Abstract:
From the perspective of Cognitive Linguistics, speech finds meaning in the speech environment, behavior and action. In this section, sentences do not only convey information, but also create a wide web of conceptual relationships between the speaker and the addressee. The speech act (speech act) shows the same time as the speech (verb). Through action, it strengthens the conceptual relationship between the speaker and the addressee, which focuses more on the use of language. Different scenarios of expression, command and question between the speaker and the addressee show themselves in different forms in the speech act, which, unlike traditional grammars, is not only a single concept, but also a question, proposal, promise, hope, order. First, English philosopher (J.L. Austin) created the theory of speech act, then American philosopher (Searle J.R.) developed it and further realized Wittgenstein's theory that language based on a collection of different activities. Speech act theory is based on the interaction of cognitive, mapping and speech linguistics.

**Key Words**: inunciation, inunciator, speech act, language senarview.
(Full Text of Page ٥٧)

[١] - Lecturer in Pashto Language and Literature Department of Paktika University
Email: Rahmatullah.hakime@gmail.com, Contact: +٩٣٧٨٧٣٦٠٥٤٩

## أهمية المقال العلمي في ازدهارالثقافة

عبدالحنان عصمت[١]

**ملخص البحث**

الحمد لله ربّ العالمين، والصّلاة والسّلام على رسول الله محمد وعلى آله وصحبه أجمعين. تكتب المقالة طبق أصول البحث العلمي ويراعى فيها أصوله، فمن هنا يجب جمع المعلومات من جوانب شتى لازدهارالثقافة وتعزيزها، وتوضيح أهمية هذا الموضوع، ولاتمهل أراء بعض العلماء في هذا السدد، ليسهل أسلوب المقال العلمي للطلاب والقارئين، وليحصل منه المعلومات مباشرة لازدهارالأدب البشتوي ولاسيما للمقال البحث العلمي، ومن الأنسب أن يجتهد الكتّاب في مجال كتابة المقالات العلمية، كما أودّ أن أوجه الكتّاب إلى ازدهارالثقافة الأدبية في اللغة البشتوية؛ لتزدهرالآداب البشتوية من الناحية النظرية، ولتكتب اللغة الوطنية طبق الضوابط والقواعد، ولتستمر هذه السلسة للأدب البشتوي عند كل كاتب، ولتوقف الآثارالعلمية الوطنية بجانب الآثارالعلمية الدولية. مهما اجتهدت في هذا الاتجاه لا أدعي أنيّ قد جئت بأفضل مما جاء به السابقون، إلاّأني رتبت المقال بطريقة سهلة؛ فلأجل هذا أعتذر أصحاب رأي الذين تستمر جهودهم دون تعب في هذا الاتجاه.

**كلمات المفتاحية** المقال، البحث، الثقافة، ازدهار، الأهمية. (Full Text of Page ٧١)

---

[١] - Associate Prof. in Arabic Language and Literature Department of Kabul University.
Email: h.esmat٥٢@yahoo.com, Contact: +٩٣٧٠٠٠٣٠٨٨٨

# A look at Pashto Sherawu and Duwawu (Bad prayers and prayers) based on Conceptual Metaphor

Muhibullah Torabi[۱]

## Abstract

Metaphor is the device of cognation which a human can cognate various concepts on it. This issue refers to cognitive linguistics, which discuss on how human knows and cognate language and different abstract nouns and concepts. We discuss here on a very important issue in cognitive linguistics which is conceptual Metaphor. We implement this theory on Pashto Sherawu and Duwawu( Bad prayers and prayers)and observe that how Pashtuns cognate various abstracts concepts in Sherawu and Duwawu( Bad prayers and prayers)? We have to know that these metaphors are contractual and it is also different in one culture from another. This is a library research and we have done this research by descriptive method.

**Key words:** Conceptual Metaphor, bad prayers, prayers. (Full Text on Page ۸۹)

۱ - Assistant Prof. in Pashto Language and Literature Department of Kabul University.
Email: torabimuhib@yahoo.com, Contact: +۹۳۷۹۹۳٤٦۰٦۱

# Kazem Khan Shida's Social Concept

Nasir Ahmad Taheri[١]

**Abstract**

In this research and writing, Kazem Khan Shida's social concept was investigated. Kazim Khan Shida's social concept is full of two parts and he placed it in his poems, one part of which is social improvement and the other part is social deterioration. I have included these two parts in my research. In addition to this, I have also brought a brief introduction to Kazem Khan Sheeda and I have also written something in her style. I did this topic and research after studying and researching different books. In this sense, my research method is analytical and descriptive, and the type of research is bibliographic. As to why I chose this subject for research, he replied that no one had written a research paper in this field yet, and that's why its value is high. Another important thing, which covers the purpose of the research, is that Shida is a follower of Hindi style and Hindi literary school, are there social thoughts in his poems or not? Answering this question is the purpose of my research. Another important thing is, there is only social improvement in Shida's poems, and if social evils are mentioned?

**Key words**: Shida poetry style, characteristics of Shida poetry style, social improvement, social deterioration (Full Text of Page ١٠١)

---

[١] - Associate Prof. in Pashto Language and Literature Department of Baghlan University.
Email: nasirahmad.taheri٢٠١٥@gmail.com, Contact: +٩٣٧٠٠٣٥١٥٤٥

# Framework semantics

Taj Mohammad Rahimi[١]

**Abstract**

In the field of linguistics, new theories are emerging day by day and with the help of these theories, new aspects of linguistics are clarified. Among contemporary grammars is cognitive linguistics, which prepares language for practical application in various ways. In this cognitive linguistics, the topic of framework semantics is also worthy of attention. Framework semantics is a way of explaining and understanding concepts. With the help of word frames, you can understand many concepts, many new information appears in the field of frame semantics and can help enrich the language. Various books and articles have been used in this research and examples have been presented for better understanding, which have strengthened the main parts of the subject.

Key Words: Frame, Concepts, Meaning, Elements. (Full Texts on Page ١٠٩)

---

[١] - Lecturer in Pashto Language and Literature Department of Kabul University

Email: taj٤٧٥٣@gmail.com, Contact: +٩٣٧٣٠٩٩٩١٤٤

# Thematic Structure of Pashto Media News Based on Functional Linguistics

Yahya Homai[۱]

**Abstract**

Michael Halliday and other functional linguists call the function of language or character to take the relationship between the speaker and the addressee in relation to human experience, which creates meaning in the language. According to functional linguistics, actions are the main features of the language, which are performed outside the language. Language presents a physical or mental experience outside of language, or shows the relationship between the speaker and the addressee, or considers its integration. Among these linguistic functions, the first one is called the empirical function, the second is the inter-individual function, and the third is the textual function. The language tries to implement these three rolls on grammatical structures and words. To perform these rolls, different functions are performed within the language. Through textual structure, language creates the text and creates a relationship between itself and the context. According to the conditions in which the text is created, speech becomes possible, because the speaker or writer produces the text according to it and the listener or reader diagnoses the text produced according to it. A paragraph based on textual content has three main parts or systems, namely informative, descriptive and integrative. Therefore, the research of official linguistics in the paragraphs of the Pashto press forms the subject of my short scientific research article, which will be discussed and researched in different sections and separate titles and examples respectively.

**Key Words:** Metafunction, External Meaning, Thematic Structure, Functional Linguistics, Ideational Metafunction, Textual Metafunction, Inter Personal Metafunction. Theme and Rheme. (Full Text on Page ۱۲۷)

[۱] - Assistant Prof. in Pashto Language and Literature Department of Kabul University

Email: yahyahomai@gmail.com, Contact: +۹۳۷٤۲٤۸٥۷۸

**Wazhma Journal - Vol. 128, Current Issue Vol. 6, Year 2023 (Page: ١٦٨)**

# Pashto Complement Based on Functional Linguistics

Shah Mahmood Kadwal[1]

**Abstract**

Functional linguistics looks at the meaning of language in terms of function and purpose and determines three Metafictions for this, which are Ideational (experiential, logical), Interpersonal and textual.
In Interpersonal Metafiction the Phrase is divided into two parts, which is the Mood and the Residue. In the Residue is the (complement) part, which completes the main parts of the Phrase. The Complement completes the meaning of the verb in transitive verbs, because without it, the verb is incomplete and meaningless. In general, the complement is the part of the Residue of the Phrase, which completes the meaning of the verb.

Key Words: metafunction, residue, clause, complement, mood. (Full text on page ١٤٥)

[1] - Associate Prof. in Pashto Language and Literature Department of Laghman University.
Email: sh.kadwal@gmail.com , Contact: +٩٣٧٠٠٦٤٠٩١

## The Study of Context in Durani's Poetry

**Abdullah Awwab**[١]

The stydy of contxtr semantics focuses on how contxts impacts the interpretation and significance of words, phrases and sentences in a language. This discipline is crucial for comprehension in natural language processing, pragmatics, and successful communication. Research focuses on the use of contxt in the poetry of a notable Pashto poet Darwish Durani. The Study analyzes some examples, hoping that readers will benefit from understandin the context in Durani's poetry.

**Key Words**: Context, Darwish Durani, Functional Linguistics. (Full Text on Page ١٥١)

١ - Lecturer in Pashto Language and Literature Department of Kabul University

Email: abdullahawwab١@gmail.com , Contact: +٩٣٧٧٧٦٠٢٦٠١

## Abstacts Table of Content

Language and Identity\ Ajmal Khkalay ........................................... ۱۵۷

Models and Forms of Constrerual in Cognitive Linguistics\ Abdul Sami Wahdat ........................................................................... ۱۵۸

The Application of Mathematical Methods in Linguistics\ Ihsanullah Pamir ................................................................................. ۱۵۹

The Dictionary Author\ Ezatullah Noorzai ...................................... ۱٦۰

Problems in Teaching Pashto to Non-Pashot Speakers\ Rahimullah Harifal ............................................................................... ۱٦۱

Statement, Emperative and Intoragative in Speech-Act Theory\ Rahmatullah Hakime.................................................................... ۱٦۲

أهمية المقال العلمي في ازدهارالثقافة\ Abdul Hanan Esmat ................................ ۱٦۳

A look at Pashto Sherawu and Duwawu (Bad prayers and prayers) based on Conceptual Metaphor\ Muhibullah Torabi.................. ۱٦٤

Kazem Khan Shida's Social Concept\ Nasir Ahmad Taheri ............ ۱٦۵

Framework semantics\ Taj Mohammad Rahimi.............................. ۱٦٦

Thematic Structure of Pashto Media News Based on Functional Linguistics\Yahya Homai........................................................... ۱٦۷

Pashto Complement Based on Functional Linguistics\ Shah Mahmood Kadwal .............................................................................. ۱٦۸

The Study of Context in Durani’s Poetry\ Abdullah Awwab........... ۱٦۹